پێنجتنی میرمنی

مؤلف

عبدالرؤف «بێنوا»

دي کتاب دخوشحال خان جائزه وړي ده :

هر وطن چه ښې مېرمنې لري
ښه مړونه لري !
« دتقريظ يوه جمله »

پښتنې مېرمنې

مؤلف

عبدالرؤف « بينوا »

دنشراتو دلمړۍ څانګې مدير

دنشراتو عمومي لمبر (۹۵)

دلمړۍ څانګې خصوصي لمبر (۱۰)

۱۳۲۳

دکابل مطبعه

دطبع شمير (۵۰۰)

اهـــداء

: ا کتاب هغو پېغلو نجنو ته تقد یمو م چه د پښتون ملت د اُمید ستر گی د د و ی ښې تر بیې ته گو ر ی .

ا و

هغو پښتنو مېرمنو ته ئې اهدا کوم چه د پښتانه را تلو نکی ز ا من د د و ی په پا کو غېږ و کښې ر و ز ل کېږ ی !

«بینوا»

دمهرمن «حميرا» له خوا :

تقريظ

دارلفنون- سنبله -۱۳۲۲

هرخوك چه‌دبيابان وپلو اويادغره ولمنى ته‌شني لوخرى‌اويا‌ضخيم لوگى داوريځى په‌څپرو وينى كه‌دغور په‌ستر گوورته و گورى پوهيږى چه دالوى اولوړ لوگى له‌يوه زورآور اوسوځوونكى‌اوره‌هسك شوى دى.

هم‌دغه ر نـگه هغه كسان چه دژوندون په رماځه په تپره بيا چه د تربيى اوروزنې په‌ډول اشناد ى‌داخبره‌له‌زړه‌منى چه‌هغه‌دمهرو لويه تولـگى چه‌په تولو تاريخى دورو كښې ئې‌لدې خاورى‌څخه سرونه‌راپورته كړى‌دى اولـكه روښانه ستورى دمشرق د آسمان په‌لمنو كښې ځليدلى‌دى‌دغه توله رنا‌اوصفائې ئې له هغه څراغه اخيستى ده چه د زمرى صفتومندو تر پلو لا ندى ئې نور افشانى كوله .

او هرحق‌بين سړى‌چه‌زموږ دوطن‌و تاريخ ته‌پام‌و كړى ښائى چه‌په زر گونو د غه ر نـگه مړ ې شوى ډيو ې چه‌ديوې‌لوئى‌روښانى سبب گر ځيد لى د ى ووينى‌اوددوى له‌حقه به‌ستر گى پټى نه كړى .

دغه تولـگى چه‌ښاغلى «بينوا» ياده كړې ده يوه كوچنى برخه‌دهغو مهرمنو ده،چه‌ځينو شعر ويلى اوځينو توره‌وهلې ده.مگرزه وهغو مهرمنوته ډير سلام استوم ،چه‌دوى زمرى زامن راپرېښى اوفريدون‌ئې‌راوړى اواحمد شاه‌بابا او غياث الدين اوسنائې‌ئى په‌ياد گـار را كړى دى .

«هروطن چه‌ښې مهرمنى‌لرى ،ښه‌مړونه لرى» دغه‌جمله ده چه ښاغلى بينوا پوهيدلى‌دى اوغواړى چه زموږ په كورو كښې هغه دعفت ، راستى ، همت او پاكى اورچه هميشه زموږ دنغريو په‌شاوخوا كښې بلـدى ،لا‌نبه‌تازه كړى‌چه لمبې‌ئې‌د آسمان‌دستورو ستر گى‌وربرېښوى،لوى‌خداى‌دى توفيق‌اواجرور كړى .

(حميرا)

معرفی او هیله

دپردخوشحالی لخای دی چه‌دزلمی تولواك اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په عصر کښې دپښتنومپرمنو په‌نامه دانوی‌اثر گرانو لوستونکو ته وړاندی کړو دا کتاب داستعدادونوهماغه پټه‌برخه چه‌پیژندلئې مو نښته خورا ضروری و،اومتأسفانه څوك ورته متوجه شوی‌نه و، څرگندوی . ترڅو چه استعداد ونه‌پیژندل‌شی اوڅمونږپه‌هغه استعداد کلك باور نه‌وی‌دمرادتگی‌ته رسیدل گران دی .

دالویه پوهه‌ده چه‌دخپل استعداد سره آشناشو. دمپرمنو مقام په جامعه کښې هومره واضح دی‌چه مونږ نه‌غواړو په دی‌باره کښې څه ووایو. محض دومره باید وویل شی چه‌دتاریخ نه‌چه کوم‌شی‌منظوردی‌بی‌له‌دې برخی‌نیمگړی پاته کیږی .

ښاغلی بینوا ددې اثر په لیکلو یومهم خدمت کړی‌اودننی‌ادبی‌جامعې له خواورته دقدر په‌نظر کتل کیږی اوله‌همدې کبله‌ئې دخوشحال خان‌خټك لوړه ادبی جایزه آ خیستی ده ، منگرحقیقی‌قدر به‌ئې هله وشی چه لوستونکی څرنگه چه ښائې ورنه استفاده وکړی .

دنشریاتو عمومی مدیریت‌وروسته له‌تبریك‌ښاغلی بینواته ؛ دتولو محترمو لیکوالو څخه هیله کوی چه‌په دې لیاره کښې زیار وباسی او په خپل مستقل آثارو کښې یا په داسی یا ددا شتو نوکښې‌چه‌د کتاب په‌بله‌طبع کښې مونږته مفید واقع شي دخپلی څېړنی محصول را ولیږی .

(دنشریاتو عمومی‌مدیریت)

ددی کتاب مضامین

مضمون	مخ
اهدا	—
تقریظ	الف
معرفی اوهیله	ب
ددی کتاب مضامین	ج
مهرمن	۱
مهرمن او تولنه	۵
میرمن او ادبیات	۹
مهرمن او پخوانی آریائیان	۱۲
اوله برخه — پخوانی مهرمنی	۱۷
الف :	
مهرمن آتون	۱۸
مهرمن اپالا (دویدی عصر شاعره)	»
« آغا بیگه	۲۰
« آغا بیگه	»
« آغنه دوسته	۲۱
« اجانی ملکه	۲۲
« آمنه «فدوی»	»
« اندانی (دویدی عصر شاعره)	۲۴
ب :	
مهرمن ببوجانه	۲۵
مهرمن بله نسته	۲۶
« بیبو	۲۷
« بیبك	۳۰
« بیدله	۳۱
« بی بی نوره	»
« بی بی ستمی	۳۲
« بیگی	»
پ :	
مهرمن پورچیستا (دویدی عصر شاعره)	۳۴
ت :	
مهرمن تاجور سلطانه (بی بی جانه)	۳۵
« تردی	۳۶
« تورپیکی	»
ج :	
مهرمن جانان بیگمه	۳۹
« جهان ملکه	»
ح :	
مهرمن حرهٔ ختلی	۴۱

مضمون	صفحه
مهرمن حرهٔ جلالی	٤٢
« حلیمهٔ حافظه	٤٣
« حیاته	٤٤
خ :	
مهرمن خجو	٤٦
« خدیجه	٤٦
د :	
مهرمن درخانی	٤٨
دشیداسپی مور	٤٩
دسورلور	٥٠
« دلشادخاتون	٥١
ر :	
مهرمن رابعهٔ بلخی	٥٢
« رابعه	٥٨
« رابیا	٥٨
« رابیا	٦٠
« روبنانه	٦١
« ریحانه	٦٢
ز :	
مهرمن زاچی پاولومی (دویدی عصر شاعره)	٦٤
« زرغونه انا	٦٥
مهرمن زرغونه ادی	٧
« زرغونه	٦٨
« زیبائی	٧٠
« زینبه	٧٠
س :	
مهرمن سار پرا جنی (دویدی عصر شاعره)	٧٤
« سپینه	٧٤
« سلطانه	٨٠
« سلیمه	٨١
« سنگی	٨١
« سوریا (دویدی عصر شاعره)	٨٣
ش :	
مهرمن شاه پانو	٨٥
« شاه بیگم	٨٦
« شاه ترینه	٨٧
« شاه مائله	٨٩
« شمسو	٨٩
« شیرینو	٩٠
ص :	
مهرمن صاحبو	٩٣
« صنوبر	٩٤

مضمون	مخ
ع :	
مېرمن عاجزي	۹۸
« عابدهٔ بلخي	۱۰۰
« عایشهٔ افغان	۱۰۲
« عایشه یادو لیعهد مور	۱۱۳
« علیا جناب	۱۱٤
« عینو	۱۱۵
غ :	
مېرمن غازی ادي	۱۱۹
ف:	
مېرمن فاطمهٔ خراسانی	۱۲۰
« فتح خان مور	۱۲۰
« فردوس مطربه	۱۲۲
« فصیحه	۱۲۲
ق :	
مېرمن قندهاری	۱۲۳
ک :	
مېرمن کنیز فاطمه	۱۲٤
گ :	
مېرمن گل بشره	۱۲۵
« گوهر کابلی	۱۲۶
« گوهر بناده	۱۲۸
« گوشا (دویدي عصر شاعره)	۱۳۵

مضمون	مخ
ل :	
مېرمن لاله	۱۳۷
« لویه ادي	«
« لوپا مودرا (دویدی عصر شاعره)	۱۳۹
م :	
میرمن مابی	۱٤۱
« ماه	۱٤۳
« ماه ملکه	۱٤۳
« ماه جبکه	۱٤۵
« ماهم بیگم	۱٤۶
« محجوب هروی	۱٤۷
« مریمه کنیزك	۱۵۳
« مستوره	۱۵۶
« ملاله	۱۵۹
« ملکه رضیه	۱۶۰
« ملکهٔ خراسانی	۱۶۳
« ملکهٔ جلالی	۱۶۳
« مهری هروی	۱۶٤
« مهستی	۱۶۸
ن:	
مېرمن نازو	۱۷٤

مضمون	مخ
مېرمن نازو	۱۷۶
« نسائی	۱۷۷
« نیکبختہ	۱۷۸
و:	
مېرمن ویسواوارا	۱۸۱
ی:	
مېرمن یامی	۱۸۲
ذوهمه برخه:	۱۸۳
اوسنی مېرمنی	۱۸۴
الف:	
مېرمن آرا	۱۸۵
« آمنه ناهید	۱۸۵
« انجیلا	۱۸۶
ح:	
مېرمن حاذقه	۱۸۹
« حمیرا	۱۹۸
ر:	
مېرمن رحیمه « سهیل»	۲۰۴

مضمون	مخ
« رقیه «وزمه»	۲۰۶
« روح افزا	۲۸۰
م:	
مېرمن محجوبه	۲۰۹
« مخفی بدخشی	۲۲۱
« مستورهٔ افغان	۲۲۶
« م، گلیخان	۲۳۰
فهرستونه:	
« مأخذونه	۲۳۲
د سرې یو نو مو نه	۲۳۵
د لغا یو نو مو نه	۲۴۹
د کتابو نو مونه	۲۵۳
غلطنامه	۲۵۶
عکسونه:	
دزرغونې انا مقبره	۶۶
ملکه رضیه	۱۶۰



بسم الله الرحمن الرحیم

PROPERTY OF ACKU 5487

میرمن

« ښځی ستاسی لباس دی ، تاسی دښځو لباس یاست ! »
(قرآن کریم)

❀ ❀ ❀

« ښځه ستاسی کرهنه ده ! »
(قرآن کریم)

❀ ❀ ❀

« دنیا اوهغه څه چه په‌دنیا کښی‌دی ټول ښه اوښکلی دی ، مگر دډنیا ترټولو شیانو ښکلي اوښه ، پرهیزګاره میرمن ده ! »
(رسول اکرم ص)

❀ ❀ ❀

« لوی څښتن ښځه رقیق‌القلبه اوحساسه پیدا کړي ده ، نوله‌دې جهته‌ئي ددوی احترام اورعایت پرنارینه‌واجب کړی دی ! »
(رسول اکرم ص)

❀ ❀ ❀

« په‌هر کور کښی چه‌ښځه‌نسته خوښی اورنړاهم وجود نلری ! »
(رسول اکرم ص)

❀ ❀ ❀

« ښځه دکور ډیوه اوخراغ ده ! »
(رسول اکرم ص)

❀ ❀ ❀

« خدای پرهغو ښځو خپل رحمت اوروی چه دژوندون ډټولو مشقاتوسره دخپلوزامنو په‌روزنه کښی کوتاهی نه کوی اویوه لحظه هم دوی ته په تریوتندی نه گوری ! »
(حضرت رسول اکرم ص)

«دښځی حکمت کور ودانوی !»

(سلیمان ع)

❀ ❀ ❀

«ښځه دمراد غاړی ده ، دقت وکه ، چه څنګه غاړی یه غاړه کوي !»

(امام جعفر صادق)

❀ ❀ ❀

«بنائسته میرمن ستر گی خوشحاله کوی، اوصالحه میرمن زړه . . . لمړی جوهر ده اودوهمه خزانه !»

(نابلیون)

❀ ❀ ❀

«ښځه د ژوندون ملګری او د درماندګی یه وخت کښی ښه غمشریکه ده !»

(گویته)

❀ ❀ ❀

«یه هر کور کښی چه میرمن نشته، دسعادت فرشته هلته قدم نه زدی !»

(لوی سکندر)

❀ ❀ ❀

«ښځه خدایتعالی دنر یه شان ښه پیدا کړي ده نو یړي ټي زدی، چه دالطیف موجوداو دادزمانې دنوابغو یالونکې هم هغسی ښه ژوندوکړی !»

(منتسکیو)

❀ ❀ ❀

«که ښځه نه وای ، ددنیا نوابغ به چاروزلی اویاللی وای؟»

(بنایارت)

❀ ❀ ❀

« د ښځو غېږدبشر لمړی د بستان او د سړی جوړولو لمړی کار خانه ده ! »

(ولتر)

❀ ❀ ❀

«ښځه بهترینه او وروستنی آسمانی تحفه ده»

(میلتون)

« ښځه هغه مخلوق ده ، چه په دې کښې د هر لطیف اود هر صمیمی فضیلتونه پیدا کېږی »

(جون سون)

❀ ❀ ❀

« یوره اوکامله ښځه دمځکی پر مخ د هر شریف موجود دی »

(لوئل)

❀ ❀ ❀

« ښځه د خلقت داسر ارو مخزن ده »

(کارلکوتزکو)

❀ ❀ ❀

« ښځه د آفرینش تاج دی »

(هردر)

❀ ❀ ❀

« ښځه خدای دمینی دیاره پیدا کړې ده ! »

(رومیو)

❀ ❀ ❀

« یوازی ښځه هغه وجود دی چه د پاك عشق اوسپېڅلی مینی حقیقت پېژنی . »

(شیلر)

❀ ❀ ❀

« ښځه هغه مخلوق ده چه عمیق گوری ؛ اونر هغه مخلوق دی چه لیری وینی . یوعالم و نر ته یوزړه ښکاری اویوزړه وښځی ته یوعالم دی . »

(گرابه)

❀ ❀ ❀

« په ښځه کښې یوه جاذبه شته چه ناقص عقلونه دهغی جاذبی درك نشی کولای . »

(ستوری)

❀ ❀ ❀

« ښځه داوقیانوس په شان ده چه دلږ او سپك فشار مقاومت نشی کولای ، اودرانه بارونه وړی . »

(راسموس نیلسون)

«ښځه مه وهئ ، حتی دګلو په ښاخله هم !»
(هندی متل)

❀ ❀ ❀

«ښځه هغه فرشته ده چه په هلکتوب کښې زمونږ روزونکې په زلمیتوب کښې زمونږ کام بخښونکی ، په زوړ والی کښې مونږته ډاډ اوتسلیت راکوونکې ده .»
(آرهتین)

❀ ❀ ❀

«اې ښځی ! ته دمځکی فرشته یې ، داسمان له خوا ښکلی موجودیې ، . . ته ، هو یوازی ته هغه وړانګه یې چه زمونږ ژوندون را روښانه کوې . »
(الفونس دولامارتین)

❀ ❀ ❀

«اې ښځی! ته دتقوی اوسپېڅلتوب دپاره پیدا شوې یې .»
(ج-برد)

❀ ❀ ❀

«اې ښځی ! ته فرشته یې ، مګر آزاده نه یې ، ځکه چه ترفرشتې لوړه یې . »
(اترهـ ج)

❀ ❀ ❀

«اې ښځی! ته هغه څوك یې، چه زه غواړم هرځه چه لرم اونه ئې لرم هغه ټول ستا په پښو کښې نثار کړم . »
(شکسپیر)

❀ ❀ ❀

«له پیرې پخوا زمانې څخه ترا وسه پورې ښځه دفر بانې په وړاندې کولو اودمذهبی قوانینو په خپرولو کښې پرره او کامله توجه لري، اوښځه ده چه مقدس قانون ساتی اوپرورش ور کوی . »
(ریګ ویدا)

❀ ❀ ❀

«اې ښځی ته ترنر قوی یې !
ته غریزه یې اودی عقل ....
ترکمه پوری چه ژوند غریزه وی ته بی بی یې اونرسته مریی-.»
(هانری شیانکو یکتنر)

(٥)

میرمن او تولنه

هغه اشخاص چه ښځی ته بد بینه دی او په تولنه کښې دوی ته په بشپړ حق نه‌دی قایل اوددوی مشروع حق تر پښولاندی کوی، ایا داو گړی‌بې‌له دښځو دغېږو په بلځای کښې روزلی شوی‌دی؟ ؟

آیا دوی له هغه‌حاله چه ښی‌لاس او کیڼ لاس ئې نه پېژانده دزلمیتوب زمانې ته بې دښځو له‌مرستی رارسید لی دی ؟ ؟

آیا په هغه وخت کې چه دوی بې‌ژبی وه او یوه خبره ئې هم نه وه زده لمړ معلم ئې څوك اولمړی‌خبره ئې له چاځخه زده کړه ؟ ؟

نو څوك چه ددې پوښتنو جوابو ته د قت و کړی هرو مرو به‌و وایی چه «قدرت ښځه دژوندون دپاره پیدا کړې ده چه ددې‌ژوند دنورو دژوندد تأمین باعث گرځی !»

هغه لوی او ستر نوابغ چه د نیائې خپلو کار نا موته حیرا نه کړې ده اودنیا فخر په کوی‌اویا ویل کېږی چه بشرددوی‌دفکر په‌نتیجه کښې‌دتکامل اومدنیت‌خواته رهی‌شوی‌روان دی‌فقط‌ښځو دنیاته تقدیم کړی دی اودمندوله پا کو غېږو څخه نبوغ ته رسیدلی‌دی .

قدرت دښځی اهمیت په تولنه کښې هروخت ښوولی اوخر گند کړی دی چه بهترینه نمونه ئې دحضرت عیسی علیه السلام مورده.

هو!«حضرت‌عیسی«ع» پلارنه‌درلود،مگر بې‌موره نه‌و !» دلوی‌خدای‌دابنکلې نمو نه موږ ته ښه ثابتو ی چه دتولنې د افرادو روز نه تر نا رینه وښځی ته دېر احتیاج او ضرورت لری .

که‌ښځه نه وای دعالم انتظام اولوی لوی‌مذهبونه به‌هیڅ لیدلی شوی نه‌وای

څکه چه دعالم انتظام په پوهانو او دمذهبو تبلیغ په پیغمبر انو اړه لری، پیغمبران او پوهان فقط دښځو له غېږو میدان ته راځی .

آدم علیه السلام په جنت کښې (چه زمونږ په عقیده هلته هر راز ښادی او هر راز نعمتونه او هر راز راحتونه او خوښی سته) یوازی بې ښځی ژوند ون نه شو کولای !

حضرت محمد «ص» او نور پیغمبرانو، یا ارسطو، افلاطون، سقراط او نور لوړ فلاسفه و یا بیدل، خوشحال، خیام، سعدی، رحمان او نور شعراو، یا احمدشابابا، ناپلیون، سکندر یما او نور وشاهانو ټولو دښځو په لمنو کښې لویی کړی اوله دې ځالی پاڅېدلی دی. که میرمن «نازو» نه وای د پښتنو ملی قائد میرویس خان به له کمه رانیء چه پښتنا نه ئې له غلامۍ څخه خلاص کړی وای او د دوی پاشلی غړی به ئې سره راغونډ ولای ؟

که «زرغونه» انا نه وای نو د پښتنو ننګیالی پلار اعلیحضرت احمد شا بابا به چېرې و، چه دوطن له مینې ئې زړه ډک وای او هری خواته ئې پښتانه سپاره رهی کړی و ای ؟؟

نو ښځه په ټولنه کښې په ټېره بیاد بشری نسل د پاته کېدو د پاره لوړ مقام لری؛ بلکه په عایلوی دنیا کښې تر نرډ ېر زحمتونه ګالی .

ښځه په کور کښې بیکاره نسی کښېنستلای، مګر د ېرنارینه دباندی بیکاره ګرځی، یوه اروپائی میرمن وایی چه « کور دښځی مملکت دی ، نو د دې مملکت دسمو لو اوسا تنی د پاره هیڅ یوه ښځه بیکاره نشی کښېنستلای . »

نر دباندی کار کوی، ښځه پکور کښې، مګر د نرو د خوښی او هوسا ګلوی تعمیر هم په ښځو اړه لری، نو د نر په دباندینیو کارو کښې هم ښځه بې تأ ثیره نه ده (په ټېره بیا پښتنې میرمنی چه حتی د خپلو مېړو سره د جنګ په ډګر کښې هم اوزه په اوزه ولاړی وی جنګېږی) هو، هغه نارینه چه پکور کښې د ده او د ښځی په منځ

کی روحی توافق موجودوی او هغه نرچه د بده مرغه له‌دې توافقه بې نصیب وی په دباندینیو کارو کښې خو را ډېر تو پیر او فرق سره لری .... چېری د هغه سړی کار چې په زړه ډاډه او هیڅ اند پښته نه لری او په قوی زړه کار کوی او چېری دهغه چا کار چه یوه لحظه ئې لاهم فکرسم نه‌وی اود کورتشویش دده روح په عذابوی .. وایی چه یوچا یوسپین زیری بوډاسړی په شاډاکتر ته‌دمعالجې دپاره راووړ ، ډاکتر دروغ څخه پوښتنه وکړه چه‌دا پلاردی دڅو کالو دی ؟

روغ وویل: دامی پلار نه‌دی زوی می‌دی !

ډاکتر په ډېر تعجب وپوښته چه ته و لی داسی زلمی بې اوزوی دی سپین زیری دی ؟

ده وویل: «زه پکور کښې نیك کردار، پاك لمنې ښځه لرم چه‌دباندی په ډېر قوی اوډاډه زړه کار کوم اوپکور کی ددې په خندا ټول غمونه اوستړ یاوی راڅخه لیری کېږی مګر دزوی می‌داسی ښځه ده چه هر کله سره وویني ددوی دواړو روحی رنځ زیاتېږی. ځکه چه توافق نسته نو هم‌داسبب دی چه‌دې حال ته‌رارسېدلی‌دی؟ »څوك اوڅوك وایی چه‌ښځه بی‌وفاده‌وفانه لری، مګر ترلږ دقت وروسته څرګندیږی چه‌ښځه‌ترنر په‌وفا کښې کمه‌نه‌ده، بلکه‌ډېر وختونه ښځه په‌دې‌ښکلی صفت کی ترنر اوړی.. مثلاً ډېرلږ نارینه‌دی چه دخپلی ښځی ترمرګ وروسته بله‌ماندینه ونه کړی اوبی ښځی واوسی، مګر خورا ډېری ښځی لیدل کېږی اوسته (چه‌لږ اوډېره ئې چاره وشی اوڅوك ئې پرېږ دی) دمېړه ترمرګ وروسته بل‌مېړه نه کوی اوپه ځوانه ځوانی‌دمېړه مېړه په‌نامه کښینی. تورسر سپینوی اوښکلی زلمیتوب خاوری کوی، نوایا دادبې وفائی څخه کېږی که‌دوفاداری څخه؟؟ یاداسی نور مثالونه .....

بل‌داچه ښځه طبعاً ترنر مقتصده ده ، اوتل داغواړی چه‌دمېړه ګټه وساتی

اویوه‌ئې دوې‌سی.هو، زړه‌ئې غو اړی چه‌ښه کالی واغو ندی او ښه خواړه وخوری چه‌داد نړآرزو هم‌ده، مګرنه‌غواړی چه‌دزلمیانو په‌څېر قمارو کړی اوبېځایه‌ئې خرڅی کړی.دښځی‌مینه داولادسره‌دډېری‌ستاینی ورده، نرهیڅکله دښځی په‌څېر زحمتو نه پرځان نسی ورای، په شپو شپو له خوا زه خو به را پاڅېدل، په‌نیمو شپو شیدې‌ور کول اوترسهاره زانګوزنګول‌څه داسی کارنه‌دی چه‌نر دهغو دانجام فکرهم و کولای‌سی، بلکه له خو به دښځی راپا څېدل او دوړو کی‌آوازهم دنرد نارا حتی‌ر اوبې خوابی‌ر باعث ګرځی. داولاد رو زنه اوپالنه (چه‌دتولنی اساس‌پرولاړ دی) دښځی وظیفه ده، د کورښه اداره کول اوپه هرڅه‌ئې ځان خبرول دښځی کار دی، دنر ګټه وته ښځه‌ساتی. دو ړواو کوچنیو اخلاق چه دتولنی راتلونکی پلرونه دی‌په‌ښځه مربوط دی، بالاخره حسن اوښکلیتوب، لاسی صنعت اوهنر د ښځی سره دی . نوهم داحقیقت مونږ مجبوره کوی چه ووایو :

«دهرملت یاتولنی لوړوالی په ښځه اړه لری !»

ځکه‌چه دهرملت نیمی افراد اویاډېرله ښځو څخه تشکیل شوی‌دی،چه‌دهغو نورو نیمیو افراد وروزونکی هم‌دوی باله کېږی . نو که د یوه ملت ښځی‌ښه تربیه شوی‌وی البته ملت‌به هم بیدار اودلوړ والی خواته به رهی وی‌او که نه نوورځ په‌ورځ به محو کېږی ... !

داخو دهغو اشخاصو ځواب‌و ، چه‌ښځی ته‌بد بینه دی او ددوی پرمشروع حق ستر ګی پټوی.راغلودې‌خبری‌ته‌چه‌ښځه ترنرښه ده او که نرترښځی،یوپوه وایی داخبره‌داسی‌مثال لری‌لکه‌چه ووایو«نور»ښه دی که«حرارت»؟ ځکه چه دا دواړه‌یوله‌بله سره‌لازم‌اوملزوم باله کېږی، حرارت له‌نوره اونور له‌حرارته زېږی، همدا شان ښځه په نراونرپه ښځه بشپړ او کمال‌ته‌رسېږی. نودوی که‌څه هم‌په صورت‌اورنګ کښې‌مغایرت‌سره‌لری مګرهریوبی‌له‌هغه‌بله پاته کېدای‌نسی

اودهر یوه سلامتی اووجوددهغه‌بل په‌وجود او سلامتی پوری مربوط دی .

گویادوی دواړه دسړیتوب اوانسانیت دوني دوې ټینګی ریښې دی. چه که یوه ددی دووڅخه ښه‌و نه روزله‌شی، داونه وده اوپرورش نه کوی، نو بشریت اوانسانیت نراوښځی دواړو ته‌اړ دی، نرپر خپل ځای اوښځه پر خپل ځای لوړ حیثیت اومقام لری، ددوی یوپربل ښه والی ثابتول څه معقو لیت او مزه هم نه‌لری، ځکه چه لوی‌خدای وایی: «هن لباس لکم‌وانتم لباس لهن» په دې آیت مبارك کښې ددوی لاز میت اوملزو میت ښه څر ګندد ی چه دواړه یواو بل ته سره اړ دی !

میرمن او ادبیات

دښځی دژوند لویه‌برخه په‌روحی کشمکش کښې تېرېږی ، دا ځکه چه‌رقت اورأفت‌لری ، احساسات‌ئې‌ډېرلطیف اوسوځوونکی‌دی، ځکه‌نودروح‌غذاته‌ئې هم ډېرضرورت لیدل کېږی . اوبایدتل خپل‌روح په‌هغه غذا قوی کړی چه روح ئې‌دهرډول تکالیفودتحمل‌دپاره آماده سی .

دښځی احساسات‌ترنرډېررقیق ، دښځی آرزوګانی ترنرډېرې حسی ، دښځی ارمانونه ترنر سوځوونکی ، دښځی آهنګ ترنردطبعی سره موافق ، دښځی عشق ترنربنکلی اوحزین‌دی ، بالاخره دښځی صنعت ظریف اوپخپله ښځه ترنر ګلالی‌ده ، نوداټول ځکه‌دی چه‌دښځی روح پاك اودروح غذائې سپېڅلې ده دښکلواوسپېڅلوشیانوسره مینه لری ، په‌لږفشارئې‌روح‌متأثره‌کېږی ، ځکه‌ئې نو مستظرفه‌صنایعوته‌روحی میلان‌بښکارېږی،چه‌په‌دې‌جمله کښې‌ادبیات‌هم‌راځی.

ددې سوځوونکی ارمانونه ددې روح پریشانه کوی ، هرومرو باید دروح دتسلی اوډاډینی دپاره دادبیاتو لمن ته لاس واچوی او مرسته ځنی وغواړی چه دژوند مشکلات‌ئې ورحل اورفع کړی ، که څه هم دادبیاتو له خواهم سل په سل کښې اطمینان نه وینی، کله وی چه ارمانونه او آرزوګانی ئې

لازیاتی سی ، په سرو ستر گوئې کښېنوی ، ترخولې سارې سارې آهونه خېژی دنیابانه تنګه سې . . اوکله کله دزړه ډاډ ور کړی اوروح ئې داسی غښتلی سی چه دخپل ژوند پرتولو مشکلاتو په قوی زړه حمله کوی اوبری پرې مومی .

پښتنې میرمنی علاوه پردې چه دروحی غذا له پلوه ادبی دنیا ته داخلی شوی دی ، کله کله ئې دوطن دساتنی دپاره اودزلمیو سربازانو دزړه ورتوب دپاره هم خوزې خوزې سوځوونکی نغمې ترخولووتلی دی. که څه هم پښتنې نجونی د پښتنو زلمیا نو سره څنګ پخنګ دجنګ میدان ته ځی او خپل مین ته وایی:

جانانه هسی و خت به راسی ؟
چه توپك واخلولاس ترلاس سنګر ته ځونه!

مګر هلته ئې هم له ملی الحانو اوادبیاتو څخه کار اخیستی دی اودپښتنی لښکرو وینې ئې په جوش راوستلی دی ، هغو زلمیانوته چه دجنګ په لورځی داسی توصیه کوی :

تو ری و هه بری به مومې . . . !
که بری نه وی ځوانان تل په تورو مرینه

یا ورته وایی :

چه تو ری و خپژی گډ پزه
ما په همزولو باندی دپر خندلی دینه !

یا دا :

ته په سنګر کښې ځان شهید که
زه به خپل شال ستا پرزیارت وغورومه

* * *

دزلمی راتګ ته داسی انتظار باسی :

تو ر په رنجك سو ر سې په و ینو
سالم په تن بی ننګه را مشې مینه

تو تې په و ینو را شې . . .
چه پرهارونه دی گنډم خوله در کومه !

دمین تپ داسی ستایی :

جانانه ښه شوې چه زخمی شوې
زه به دا خپله غاړه هسکه کړځومه

❀ ❀ ❀

دمین په‌بری داسی فخر کوی :

جانان په جنګ کښی توره و کړه
ځکه همزولی راله کوښی سمویده

❀ ❀ ❀

یو زلمی چه دوطن په‌لار کښې قربان شوې دی ، دمحبوبې‌ئې نور قرل‌غمونه او تأثرات (چه دیوه گران مین له مرګه محبوبې ته پیښیږی) هیر دی ، فقط دا آرزو لری چه‌تپ‌ئې پرشانه وی، نو وایی:

زغ شو پر کټ‌ئې جانان راوړه
زړه می په پرشو چه‌پرشانه‌وی زخمونه

❀ ❀ ❀

اودشهید مین کفن په زلفو ورګنډی نو وایی :

جانان می سر پر وطن کښیښود
په تار دزلفو به کفن ورته ګنډمه

❀ ❀ ❀

هغه زلمی ته چه له جنګه ئې ماتې کړې ده داسی پیغور ورکوی :

اشنا ی په جنګ کښی تر شا راغیء
پر برنی ور کړې خوله پښیمانه یمه

نو په‌دې تو ګه پښتنې‌میرمنی سربیره پردې چه ملی ادبیاتوته خدمت کوی دوطن‌دځلمیانو دروح په‌لوړولو کښې‌هم لویه‌برخه‌اخلی. بلکه‌دپښتواوملی ادب اساس‌هم ښځو اینبی‌دی ، ځکه چه اکثره هغه پخوانی‌اشعار چه‌پرملی اوزانو ویلی شوی دی اودملی جذباتو اواحساساتو نمایندګی کوی ، دښځو له پاکو زړو څخه راوتلی دی اود پښتنی ادب هغه ښکلی نمونې دی چه دا ادب ئې له نورو څخه جلا کړی اوپه یوه لوړه مستقله مانی کښې ئې درولی دی .

میرمن او ښځې آریائیان

څنګه چه د آریائیانو له پخوانیو کتابونو څخه څرګندیږی، پخوانیو آریائیانو ښځو ته په درنه سترګه کتل او دوی ته ئې مخصوص مقام او لوړه مرتبه ټاکلې وه، چه په نورو قومونو کښې ئې هیڅ وجود نه درلود. یعنی ښځه ئې نه یوازی دنرله مریتوبه خلاصه کړی وه بلکه د نره سره ئې مساوی حق ور کاوه او فقط ښځه ئې د نرملګرې او غم شریکه بلله، چه دژوند مشکلات به ئې په دوارو له منځه بیرته کول.

په اویستا کښې له ډیرو ځایونو څخه څرګندیږی چه ښځه او نر هیڅ یو پر بل ترجیح نه لری او د واړه په حقوقو کښې مساوی دی. ددوی په منځ کښې اختلاف نه لیدل کیږی، د پرهیزګار نارینه او پاکی ښځی نومونه غالباً یوځای سره راوړل شوی دی، چه په دې دنیا کښې سره یوځای او په بله دنیا کې هم لاس ترلاس وی، پخوانیو آریائیانو په دې سترګی ښځمی ته کتل چه «ښځه د کور میرمن ده، د کورنۍ احترام او افتخارات ټول دې ته راجع دی!» داویستا دمعتقد ینو په منځ کښې ښځی په مقدسو مراسمو او په مذهبی قربانیو کښې له نرو سره شریکی دی. هغه ښځی چه نه افکار او پاک نیتونه لری او ژبه ئې بې له نبو خبرونه کړځی، او نه نه کارونه کوی او نسبتاً خپلو مړوته اطاعت او انقیاد لری، داسی ښځی د مشهور نمانځه دادا کولو د پاره چه «ویسپرد» ئې بولی د عوتوی او دوی ورغواړی چه په مقدسو مراسمو او د قربانیو په تقدیمولو کښې د خپلو نارینو سره مساوی برخه واخلی او حق ولری. دالاڅه چه ښځی او نر یوځای په ګډه عبادت سره کوی او د «میترا» (لمر) خواته لاسونه پورته کوی د خپل ځان دسا تنی د پاره مرسته ځنی غواړی.

دریګ ویدادالاندنۍ کلمې دهغه وخت دښځو اهمیت ښه څرګند وی چه وایی :

« له پخوا زمانو څخه تراوسه پوری ښځود قربانیو په وړاندی کولو اودمذهبی قوانینو په خپر ولو کښې خپل ټول زیار ایستلی او خپل وس ئې هیڅ نه دی سپمولی ، نود پاك او مقدس قانون سا تند وئی اوپالونکی هم دوی دی ! » (۱)

داو یستا د (ګاسا) په برخه کښې چه دسپین تمان دلور دواده خبری کوی داسی وایی : ـ «ای «پورچیستا»! تاو (جاماسپ) نه ور کوی اودی (سپین تمان ستا پلار) غواړی چه تاچه دده ترټو لولونو زلمۍ اوښکلی یې ، دښه واده کړی، چه دده سره په خدمت کښې په پاك روح او «آشائی» اوسپیڅلتوب سره مرسته وکړې اوتل دخپل زلمی ساتندویه اونګهبانه واوسی، یوله بله مشوره سره وکړی، اود «آرمیتی» په پاکه عقیده ډبرډبر سره مهربان اودیندار ه اوسی، اوتل په رښتیا سره زغمنی ..!، په دی وخت کښې نوناوې (پورچیستا) داسی جواب ورکوی :

«دی به پرماډبر ګران وی اوزه به دده سره په محبت اومینه کښې مسابقه وکړم له هغه وخته څخه چه دی ماله پلاره وغواړی ! »

داجملې چه د «یاسنا» د کتاب په ۵۳ فصل کښې راغلی دی، په ازدواج اومړوښۍ کښې دپخوانیو آریائیانو دنجابت یوه ښه اوبر جسته نمونه ده . دواده دجشن اوخوښیو په وخت کښې یورو حانی خواننده او ډم دا بیتونه چه په اویستا کښې ئې ذکر راغلی وایی :

«زه هغو پیغلو نجونو ته چه غواړی مېړونه وکړی څوله نصیحته ډکی جملې وایم اوهم تاسی زلمیانو ته ئې اروم، ځکه چه زه په هغو جملو ښه پوهیږم، نوتاسی ئې په خپل غوږ کښې ټینګی ونیسئ :

---

(۱) دایرانشهر مجله ـ لمړی ګڼه ـ ۵۲ـ۵۳ مخ

پاك او رو حانی ژوندون ددین‌له‌لاری دخپلو مندو اوپلروڅخه‌زده کړی، اوپه‌دی پوه‌شی، چه په دینداری کښې یودبل مینه اومحبت‌سره غواړی، ځکه چه‌یوازی محبت کولای شی تاسی‌نیکمرغه اوخوشبخته کړی (١) ! »

سپین تمان دخپلی لور (پورچیستا) دواده په خصوص کښې چه جاماسپ د« کی گشتاسپ وزیر » تەئې ورکوی داسی وایې (٢) :

«اې دسپین تمان ترټولو لونو زلمی‌لوری، اې پورچیستا! ولاړه‌سه له‌خپله عقله سره مشوره‌وکړه‌اودعقل له‌دستوره سره‌سم ډېرښه کارونه کوه ! »

دویدك په‌زمانه کښې دنارینه اوښځی ترمنځ پوره مساوات و،اوښځه په‌خپل کور کښې دپوره‌اختیار میرمن‌وه، برسېره پردې‌ښځی‌به په خپله خوښه‌ودبدلې کەڅه‌هم‌خبری‌اتری به‌دداریم‌سړی، په‌خوله کېدلې‌لیکن دلمړی‌موافقې‌اواجازی حق‌یې‌له پېغلی بل‌چانه دولود اوډېر کرته به‌داخبره هم‌پېښېدله‌چه ډېروزلمیانو به‌دیوې پېغلی دنکاح خیال درلود مگر پېغله مختاره وه، چه پخپله خوښه‌ئې له‌دغو زلمیانو څخه یوزلمی‌خوښ کړی‌او مېړه کړی‌وای . (٣)

په‌ریگ ویدکښې دیتیمو نجونو په حالت باندی ډېر افسوس ذکر شوی دی اوخصوصاً دهغو نجونو په حالت چه نه ورونه اونه مور اوپلارلری، اووایی چه دابې وزلی نجونی ځکه دافسوس وړ دی چه دوی به پخپله دې‌ته مجبو رېږی چه دځان دپاره خاوند ولټوی . اوپه دې کتاب کښې داهم لیکلی شوی دی چه کوم خلك چه‌دغه‌راز نجونوته په‌بده ستر گه گوری یا کوم زیاراو تکلیف ور سوی هغه باید دمذلت په کنده کښې یعنی هغه غار کښې واچول سی‌چه‌په هغه کښې «وارون» گنهگاران اچوی. (٤)

---

(١) تمدن ایرانیان خاوری -- تألیف ویلهلم گایگر آلمانی ص ١٢٨

(٢)دایرانشهر مجله - ٤٩٣ مخ -- ٨ -- ٩ شماره .

(٣)(٤) ویدك هند ٢٧٥ مخ

دپښتو نیو آریائیانو دو اده له دو دونو څخه دښځې اهمیت ډیر ښه څرګندیږي او له دې آریائي سرو دو څخه چه معلو مېږي دو اده آغاز غالباً داډول کېږي: لمړی دناوی مور او پلار خپلی لور ته دخیردعا کوی او په دغه وخت کښې دوی خپله لوردخپل ځان اوخپلی کورنۍ له حکمونو آزادوی ، اودې ته دخپل خاوند د فرمان برداری حکم ور کوی اودا اشعار وایی :

«سمه اوبې اغزودی وی هغه لارچه ته دواده دپاره پرې باندی لمې - آریامن اوبها گ دی زمونږ رهبری و کړی - اې زمونږ گرانې لوری ! دکور انتظام دی درته اسانه سی - ته دخپل کور له خدمتو څخه خلاصه شوې مگردخسرد کور خدمت دی پرغاړه ولوپدیء - مونږ تا دوستی په یومبارك مزی دهغه زلمی سره ددې دپاره ترو چه ستاسی کور داولاد اودولت څخه ډك سی ... «پوشن» دی ستا لاس ونیسی اوتادی له دې ځایه څخه بوزی . دواړه « اشون» دی تایه خپلو لاسو کښې واخلی اوتا دی هغه ځای ته وړولی چه ته له دې ور وسته هلته حکومت کوی ... (۱) »

تردې وروسته څو دعاوی دلار دخیریت اودمورونې ناروغیو د دفع دپاره کوی ، بیانو دواده اصلی دود په دې شان شروع کېږی :-

دواده زلمی (زوم) دخپلی چنغالی (ناو کی) ښی لاس نیسی اودرې واره دکور داوره گیرچاپېره گرزی او داسرود لولی :

«دنیك شگون اودې دپاره زه ستاښی لاس نیسم چه ته له ماسره ترزوړوالی پوری ژوندی او خوشحاله واوسې . ته ما ته «آریامن» بهاگ « سوتیار » او «پورم دهی» ددې دپاره راسپارلې یې چه مونږ دواړه په شریکه په دې کور کښې حکومت و کړو ... (۲) »

---

(۱) ویدك هند - ۲۷۷ مخ .

(۲) ویدك هند - ۲۷۸ مخ .

چه ناوې دمیړه کورته ور سپېرې نو په دې اشعارو ددې ښه راغلې او استقبال کوی:
«په دې ځای کښې دی خوښی ستا په نصیب سی ، ستا کور دی دمال او دولت
او اولادو څخه ډک سي ـ آښکلی ناو کې! ته دا کور ساته او دخپل خاوند سره
او سپېره ـ ترزوړوالی پورې دی دا کور ستاوي ... اوس ته په دې ځای کښې او سه
اوله دې ځایه بالکل مه جلا کېږه ! ته دې دډېر عمر ، نمسو او کړوسو میرمن سې
ته دی تل په دې ځای کښې خوشحاله اوسې ... اې ددې کور مېرمنې ! (١)»
دبرکت وروستنۍ دعا دناوی خاوند په لاندې ډول کوی اودا شعرونه ډېر اهمیت
لری چه له دې اشعار و څخه د ناوی د مدنی حیثیت اندازه څرګنده پیدا سی ،
چه وایی :ـ

«اې «پرجاپتی»! ته مونږته زامن اولمسی را کړه ، اې آریامنه ! ته مونږ
دژوند تر پایه پورې په دولت اومال مامه وساته ، په دې کور کښې دی بنی آدم
اوځناوران خوشحاله اوسی اوډېر دی سی ـ دبدوستر ګو دی په امان اودمینی
څخه دی ډک وی . اې ناوی ! دې کورته دبدشګون سره مه راځه ـ ستا راتګ دی
ددې کور دځناورو دپاره هم مبارک وی ، هیله لرو چه ته ډېره خوش مزاجه
خنده رویه اود اولادو مور اوسې ـ اوتول خوښ خوشاله وساتې او دخپل
«دیوتا» عزت وکړی .

اې مهربانه دیوتا ! ناوې ته دولت اواولاد ورکړه ، اوددې مېړه د ... په
ډول سلامت وساته ـ اې ناو کې! اوس ته ددې کور میرمن سه ، اودخپل خاوند
په موراو پلار ، ورونو او خوندوحکومت کوه ، اوتول «دیوتا ګان» دی زمونږ
زړونه یو اومتحد کړی ... ! (٢)»

---

(١) ویدك هند ـ ٢٧٨ مخ .
(٢) ویدك هند ـ ٢٧٩ مخ .

اوله برخه

پخوانی میرمنی

الف

میرمن آتون

میرمن تونی آتون دیوي شاعري نومدی ، چه دملابقائی ماندینه وه اوملابقائی دمیر نظام الدین علی شیر دهرات دمشهور وزیر مصاحب و . (۱) دي میرمنی شه خوازه خوازه اشعارو یلی دی اوپه شعر کښي ئي مزاحی اودتو کوروح شه لحلپزی په هم دي نسبت ئي دخپل میړه سره دهری خوندوری مشاعري اوپه شعر کښي ئي شوخی کړی دی ، مثلاً یووخت ملابقائی دارباعی نظم کړي وه :

یاران ستم پیره زنی کشت مرا　　کاواك شده چونی ازو پشت مرا
گر پشت بسوی اودمی خواب کنم　　بید ار کنند بضرب انگشت مرا

نو آتون دستی دالاندی رباعی دده په جواب کښي وویله :

هم خوابکی سست رگی کشت مرا　　روزی نبود از و بجز پشت مرا
قوت نچنانکه پانواند برداشت　　بهتربود ازپشت دوصد مشت مرا

ددي میرمنی نور اشعار لاس ته رانغله .

* * *

میرمن اپالا

میرمن اپالا دویدی عصر مشهوره شاعره ده چه د ۲۰۰۰ تر ۱۰۰۰ ق-م په مینځ کښي ئي ژوندون کاوه . ددي میر منی د کلام نمونه دریگوید په اتم کتاب اوپه ۹۱ سرود کښي قیدده . (۲)

دلته ددی میرمنی دیوه شعرنمونه گرانو لوستونکو ته ترجمه کوو (۳)

---

(۱) مشاهیر النسوان ۱۳ مخ - جوهر العجائب .

(۲) د آریانا مجله - شپږ مه گڼه - ۲۰ مخ .

(۳) داشعر ښاغلی یزواك له انگلیسی څخه په پارسی ددي کتاب د پاره ترجمه کړی دی .

اګنی ته خطاب:

«ای روحانی! دهغه (واکمن) دپاره میګساری کوه چه دغښتلو آسانو په څپرد جنګ ولجې او ګټې وړی اودمترا په شان و ګړی سره یو کوی.

دهغی خورسرود چه میګساری ئې تیاره کړې ده ستالوری ته در ګرزی، اوتر لاندې باد دمخه خپل ځان درر سوی اوتاته درځی.

اوهغه څوك چه شین مقدس وانښه چه دری لایه نغښتی شوی دی ودې ته په یوه غیرمحدود صورت غوږ ښی. اواوبه خپل ځای په هغه کښې لټوی. دغنی خدای تاتوبی ددې دی چه دده په مرسته لکه دلمر وړانګی تول شیان له عیب اوفساد څخه خوندی کړی.

اګنی: خدایه! دمقدسو غوږوپه تحفو کښې دبرم او جلا سره ځلیږی، ته دهغو خدایانو راوستونکی یې چه ستایل کړی. خدایانو ته دمندوپه څپر پیدا کړې ای ټل ترټله روحانی! ای انګیراسه (Angiras) ای هغه څوکه! چه زموږ تحفی آسمان ته وړې!

ښکلی اګنی! خدای ته راواستولې چه یولوی روحانی اودپر نجیب پیغامبر واوسی اوزمونږ تحفی یوسې.

زه هیڅ غوانه لرم چه هغه زه دځان وبولم. هیڅ تبرمی په لاس کښې نشته چه په هغه کار و کړم، خوبیاهم هرڅه چه دلته شته هغه زه تاته نثار اووړاندی کوم.

ای اګنی! هغه لرګی چه تاته زدم، هرڅه چه وی هغه قبول کړه اوپه هغه خوښ اوسه. ای هغه خدایه چه ترهرچایه زلمیتوب اوځوانی ډك یی.

هغه څه چه سپین وینه خوری اوهغه څه چه مېږیان باندی، ګرزی هغه دی تول تاته غوږی وی. کم وخت چه انسان اګنی ته اوربلوی بایدزړه ئې له سرود او نغمې څخه ډك وی. ماو روحانیو نودده دپاره اوربل کړی دی!»

میرمن آغا بیګه (۱)

دسلطان حسین بهادرخان په‌وختو کښې دهرات له‌بډایانو اولوړو درجو ښځوڅخه یوه آغابیګه وه . چه‌ډیره متموله اوپه‌عین تمول کښې‌ئې له ادب ، شعر او شاعرۍ سره زیاته مینه درلوده . اوهر کال به ئې دخپل وخت دشاعرانو اوفضلاو سره مالی مرستی کولې ، بلکه هریوه‌ته‌ئې معاش تاکلی و .

یو کال چه ناڅاپه دخواجه آصفی معاش لږ څه ترخپل وخت ځنډېدلی و نوخواجه‌دالاندی قطعه ومیرمن آغابیګه ته ولیږله ، هغې چه‌ولوستله وې‌خندل اوتریخوائې ډیره غله اونورشیان ورکړه . (۲)

قطعه داده :

ایا عروس خطابخش جرم پوش بګو که‌کی وظیفهٔ مارا قرار خواهی‌داد
بوقت غله مرا گفتهٔ که بار دهم سرم فدای‌درت چندبارخواهی‌داد

میرمن بیګه پخپله هم شاعره وه ، طبع ئې ښه روانه وه ، چه موږ ته‌ئې دغه لاندی مطلع په‌لاس راغلې‌ده . ممکن چه‌نور ښه‌ښه آثاربه‌هم لری‌مګرله‌بده مرغه دزمانې له‌لاسه برباد شوی دی

مطلع (۳)

آه ازان دامی که دارد رشتهٔ جان تاب ازو
وای ازان لعلی که‌هردم میخورم خو ناب ازو

* * *

میرمن آغا بیګه (٤)

میرمن آغا بیګه دمهترقرای لورده ، چه‌پلارئې دمحمدخان‌ترکمان په‌وختو کښې درکابخانهٔ خاص مشر مقرر و . (٥) اودا میرمن دافغانستان په‌شمالی

---

(۱) آغا بیګم هم لیکلی شوې‌ده . (۲) مرآة خیال- خیرات‌حسان .
(۳) خیرات حسان .
(٤) داهم په‌ځینوتذکرو کښې آغا بیګم ده . (٥) خیرات حسان .

خواو کښې اوسېده، ښه موزونه طبع ئې درلوده، اشعارئې ویل ، دالاندی شعر ددې دی : (۱)

زهشیاران عالم هر که را دیدم غمی دارد
دلا دیوانه شو دیوانگی هم عالمی دارد

* * *

ددې مېرمنی هم نور آثار پلاس رانغله .

* * *

مېرمن آغنه دوسته (۲)

یوه سبزواری ښځه ده چه د پوره علم اوادب مېرمن وه طبع ئې روانه سلیسه ده په شعر کښې ئې خپل تخلص «دوستی» لیکلی دی . دا مېرمن دقیام درویش لور اودخپل وخت ښه فاضله وه، خصوصاً په علم عروض اوقوافی کښې ئې ښه معلومات اولاس درلود . مګر متأسفانه بېله دې څوبیتو نور اشعارئې ورک دی .

دشعر نمونه :

هر کجا آن مه به آن زلف پریشان بگذرد
هر که کفر زلف او بیند ز ایمان بگذرد

ای محبان بوالعجب دردیست درد عاشقی
هر که دامن گیرد این دردش زدرمان بگذرد

هر که عاشق شد ازو دیگر سرو سامان مجو
زانکه عاشق ترك سر گوید زسامان بگذرد

در فراقش «دوستی» گرید چو ابر نو بهار
گریهٔ زارش چو بیند ابر گریان بگذرد

* * *

بل مطلع :

ز آشنائی توعاقبت جدائی بود فغان که باتو مرا این چه آشنائی بود

---

(۱) خیرات حسان- ج ۱ . (۲) آغادوسته هم لیکلې شوې ده (خیرات حسان) .

میرمن اجانی ملکه

دامیرمن دقطب الدین محمد لوروه، چه دغور له باچهانو څخه و ، اوبیا په غزنی کښې شهید شو. اوعلاؤالدین ابوعلی دملك شجاع الدین زوی په نکاح کړه. (۱)

دامیرمن دېره جهان ګښته ښځه وه ، کم وخت چه ئې میړه علاؤالدین ابوعلی مړ شو ، نو دخپل زوی ملك ضیاءالدین محمد ابوعلی سره حج ته ولاړه ، اوتردې وخته پوری دغور یو پاچا هم حج ته نه و تللی .

دامیرمن چه له خپل زوی سره دهرات ، خراسان اونیشاپور له لاری حج ته ولاړه په مکهٔ شریفه کښې ئې یوه خانقاه جوړه کړه اوهلته ئې دخان معتمدان کښېنول (۲)

ترحج وروسته بیرته غورته راغله ، اوترهغه وروسته دامیرمن ملکهٔ حاجی (اجانی ملکه) وبلله شوه .

لکه دطبقات ناصری لیکو نکی چه وایی:

په غور کښې ئې هم دېری مدرسې او مسجدونه جوړ کړه او علم ته ئې ښه ترقی ور کړه .

* * *

میرمن آمنه «فدوی»

میرمن فدوی دسردار نورمحمد خان فاضله لوروه، چه نوم ئې بی بی آمنه اوتخلص ئې «فدوی» و.په ختیه محمدزی ده .

سردار نورمحمد خان داعلیحضرت ضیاءالملة والدین له خوا دقندهار په حکمرانی مقرر او سرلوری شوی و .

میرمن فدوی دپنجشنبې په ورځ دلمری خورپه ۱۷ په یوزرودوه سوه او شپږ اویاهجری کال زېږېدلې ده . چه بیاد سردار عبدالحبیب خان

(۲۰۱) طبقات ناصری - لمړی جزء - ۵۰٤ مخ .

محمد زی په نکاح شوه. او دامیرمن د٦٥ کا لو پوری یقینی ژو ندی وه. (۱) دادبیا تو سره ئې دېره مینه درلوده. په خپله هم ښه شاعره وه، خوازه خوازه اشعار ئې ویلی دی، نثر ئې هم لیکه.

څو مده دعلیا جناب نورا لحرم په حضور کښې وه، نو بیا چه هغه وفات شوه دمرحوم نائب السلطنه حضورته ولاړه.

اوس به ئې یوه دشعر اویوه دنثر نمونه راوړو:

دشعر نمونه:

تا نظر در چمن وضع جهان وا کردم ستمی بو د که بر دیدهٔ بینا کر دم
نه چمن رنگ وفا داشت نه گل بوی بقا حیرت آلوده بهرسو که تماشا کردم
شوخ چشمی چومگس کردم وبس شرمیدم هر متا عی که ازین سفله تمنا کردم
گر بمحشر زمن ازحاصل دنیا پرسند گویم افسوس همه خواهش بیجا کردم
ذرهٔ نیست متا ع زین سفر دورودراز عفو خواهم زخدازانچه خطاها کردم

«فدویا» د یر خجالت بکشی ر و ز جزا
زانکه درعالم فانی چه مهیا کر دم؟

دنثر نمونه:

«حمد بسیار وثنای بی شمار نثار بار گاه حضرت آفرید گار خالقی که شمع قامت انسان را بنور باصره برافروخته است. ودردل پا کان خود هرچه ماسوای آن بود سوخته. پاد شاهی که بدست عملهٔ صباقامت سرورا پیراسته است. وقمری بینوارابرقد وبالای آن شیدا ساخته. اگرشمع است برافروختهٔ حسن دلفروز اواست که میگرید وخندان است وپروانهٔ بینوا سوختهٔ جان عشق او است که نمی نالد وبریان است. هردیدهٔ که محوجمال الهی نشد بردوخته باد. وهردلی که درمحبت اوقرار نگرفت سوخته، برب العباد ...»

(۱) دملا محمد صدیق آخند قلمی تذکره.

مېرمن اندانی

مېرمن اندانی هم‌دویدی عصر(٢٠٠٠ـ ١٠٠٠ ق‌م)شاعره‌ده، چه‌اشعار ئې‌دریگوید په‌لسم کتاب‌او ١٤٥ سرود کښې راغلی‌دی. (١)

اوس ددې د کلام یوه نمونه دلته ترجمه کوو. (٢)

سپیتنیبا دهنم په نامه. (٣)

«١ ـ زه داواښه‌له میځکی شکوم-داداسی بوتی‌دی‌چه‌دخورالوی اثرقوه‌لری کیدای شی‌چه زه‌په‌هغه سره‌خپله بن‌مغلوبه اومېړه د ځان کړم.

٢ ـ ای ښکلی واښه! ای‌دپسر وروپانو لرونکی‌چه‌خدای رالېږلی یی- ای بریالیه واښه! بن‌وشړه اومېړه می‌یوازی زما کړه.

٣ ـ ای‌هغه څوکه چه‌ته غښتلی‌یی! اې‌ترهر واکمن، واکمنه! زه‌غښتلې‌یم اوزما بن‌تر بیخی پستو ښځو پسته ده.

٤ ـ د هغې نوم زه نه‌یادوم- داله دې‌مېړه سره خوښه نه‌ده، موږ دابن ډېر لیری لیری شړو.

٥ ـ زه‌بریالی یمه‌اوته، ته‌هم بریالی اوبریمن‌ئې، نوچه دبری کاته زمونږ خواته‌دی، مونږدواړه به‌زما بن مغلوبه کړو.

٦ ـ ماته‌لاس ته‌راوستلی‌یې-ته‌می‌په‌ډېرقوی‌جادو په‌منګلو کښې نیولی‌یې، لکه غواچه‌دخپل سخوندر خواته ځغلی، پرېږده چه‌ستا روح هم هغسی زما لوری ته‌را وځغلی.

دتندو اوبو په‌څېر چه‌په واله کښې منډی وهی، په‌ډېر تلوار زما خواته راو ځغله ـ!»

---

(١) د آریانا مجلې- شپږمه گڼه ـ (٢) داشعر ښاغلی پژواك له‌انګلیسی‌څخه‌په‌پارسی ددې کتاب دپاره‌ترجمه کړی دی. (٣) Sapatnibôdhanam

ب

مېرمن ببوجانه

ددې مير منی نوم حليمه اود عتيق الله خان لوروه، چه هغه د مير واعظ له اولادې څخه باله کېږی. دپلار له خوا سيده اودمور له خوا دامير دوست محمد خان لمسۍ ده.

دامېرمن دامير عبدالرحمن خان حرم و، دېره هوښيار داو خورا ښکلې وه. دخپل ذکا اوفهم اوښکليتوب له باعثه پرامير عبدالرحمن خان تراندازې زياته ګرانه وه، له خلکو سره ئې ښه رويه درلوده، سخی او مېړه مخی ښځه وه، تر اوسه ددې مېرمنی ښه خوی دو ګړو په ياد اودخلکو په منځ کښې يادېږی اوهرڅوک ئې ښه ستايی. دې مېرمنی شعرهم وايه اود «ارشاد النسوان» په اخبار کښې ئې دېر اشعار نشر شوی دی چه مونږ ته ئې دادوه درې بيتونه په لاس راغلی دی:

استقلال

ازبرای خدا بلند کنيد (۱) بر سر خود لوای استقلال
باد شيرين دهان ملت ما يارب از ميو های استقلال
ميکشم بعد ازين بديدهٔ خود سرمه از خاک پای استقلال

وايی چه يووخت امير عبدالرحمن خان دنرګسو دسته ور ته را استولې وه نودې مېرمنی دهغی تحفې په مقابل کښې داسی تشکر وکړ: ـ

نرګس صدبرګ ازدست شهنشاهم رسيد
بر سر خود ماندم وبر چشم تر ما ليدمش

وايی: مېرمن ببوجانه پرامير عبدالرحمن خان ترداسی اندازې ګرانه وه چه امير عبدالرحمن خان ويل ماترا وسه شعرنه دې ويلی، مګر ببوجانی دپاره

(۱) دښاغلی ګويا ياد داشت.

ئې وا يم اودالاندی دوه بيته ئې ددې دپاره ويلی دی : -

مهد علیا ، صدر کبری بی بی عفت شیم
زانکه ازعزت شهش خو اند ست عیال محترم

الحق از ما در نز اده دختر همز اد او
صاحب حلم وحیا ومایهٔ جود و کرم !

نو ددې مېرمنی دستایلو اوفضیلت دپاره هم دغه خبره کفایت کوی چه يو باچائې دومره صفت و کړی نوری ستاینی ته ئې حاجت نشته .

* * *

مېرمن بله نسته

مېرمن بله نسته دقند هار دزمین داور په گردی باغران کښې او سید له. دآغا محمدخان چه د کلی مشرو، لوروه. ددې مېرمنی ژوند یقینی را معلوم نه دی، خو دیو سپین زیری دخو لې غالباً (١٣٠٠ ه) په شاو خوا کښې ژوندی وه .

دامیر من په زلمیتوب کښې له دې دنیا تللی ده ، تقریباً دشلو کالو په سن د «غیرې» کوتل نه په لر گوپسی ختلې وه اوهلته له پان څخه را لوېدلې وه ددې مېرمنی څو بیته ما دیو سپین زیری له خو لې څخه (چه زه سیا بند ته تلم) و لیکل او دهم دې یاد داشت له رو یه دا مېرمن په خپلو روان طبعو شاعر و کښې گڼلای شو :

څو بیتونه :

بیا پر ما دبهلتا نه را غله غمو نه نن بیا
چه ئې کښښوول په زړه را ته داغو نه نن بیا

ملالی ز ر کی گرز پ چه په غرو کښې
پـه خپله خو ښه ا لو ز پ شپلو کښې
ماخوهم درسره واخله (۱) په چمبو کښې
چه و گورم د لو یو غرو سرو نه نن بیا

* * *

متأ سفا نه ددې بدلی نور بندونه ورك دی او پوره غزل ئې لاس ته را نغله. یو دوه بیته ئې دبلی بدلی دادی :ـ

راسه بنده راسه دخپل لوی خدای عبادت کوه
ښې په صدا قت کوه
شیطان کافرغلیم دی، ته پرده باندی لعنت کوه
دلوی خدای عبادت کوه

* * *

مېرمن بیبو

مېرمن بیبو دعلی محمد لوراو دقندهار دفراه دبکوا د تلخك په کلی کښې اوسیده له.

ددې مېرمنی ژوندتر (۹۰۰ هـ) دمخه تخمین کولای شو (۲) دایوه پښتنه نجلی اودپښتنوالی په ګینه اوپسول شائسته شوې وه.

داپښتنه مېرمن یوه دېره خوزه اوله غمه د که قصه لری چه دپښتنو له مهمو ملی قصو څخه شمیرله کېږی.

دا نجلی دښادی خان نومی زلمی چه ددې دا کازوی دی محبوبه یانجلی وه

---

(۱) وزروکښې.

(۲) داتخمین د «تحفهٔ معصومی» له کتابه څخه اخیست شوی دی، چه مر حوم سید معصوم د سید صفا ئې ز و ی ، متخلص په «نا می» قند هاری لیکلی دی .

ښادی‌خان اوببو سره‌همزولی اودوړو کتوب څخه‌ئې په زړه کښې مینې او محبت‌لارموندلې‌وه، له کوچنیوالی‌څخه‌به یوځای‌سره ګرځیدل اوزړه ته سره تیر ملګری‌وه، چه یوبې بله‌ئې آرام نه‌در لود. که به‌یوله دوی څخه ځنګله ته‌ولاړ، بوتی‌به‌ئې‌تولول هغه‌بل به‌هم ورسره و، اویو ځای‌ئې لوبې سره کولې. څوچه دواړه لویان شول.

یوه ورځ دواړه په‌یوه ځنګله کښې‌وه، د« بیبو » پرتندی سپینی خولې راغلې، نوښادی‌خان چه‌پر بیبو مینو، ددې‌مخ ته ئې‌و کتل، محبت اومینی‌ئې دځان سانلو تعمیراو ودانی ورانه کړه‌اووئې نړوله، بې‌خوده شو، بیبوته ئې دعشق او مینې‌اعلان و کړ، اوخوله‌ئې ځنې ړغو ښته! مګر بیبو خو پښتنه ننګیالې پېغله‌وه، خپل پت اوناموس باندې ډېر ګران و نوئې خپل مین ته‌وویل:-

«چه‌ته خو زما ګران‌مینې‌او پښتون‌زلمې‌یې‌ازه‌خوهم‌پښتنه یم، ناموس لرم پښتا نه خو خپله لور وراره ته ور کوې، نوته هم ماښام زماپلارته مر که راواستوه‌مابه‌په نکاح‌در کړې، بیابه‌نوزه ستایم‌اوته به زما!» (۱)

داخو ښکاره ده چه بیبو هم پر دې زلمې زړه باللې و، او تړده ئې بل څوك شیرین محبوب اوښه مین نه درلود، مګر دلته خو پښتنو الی او محبت سره راغله څرګنده ده‌چه‌دپښتنو الی‌احساسات ترهر څه غالب دی، نو ځکه بیبو په‌هغه ګوښه ځنګله کښې‌خپل‌عفت وساته‌او ګران مین ته‌تسلیم نه شوه.

تردې واقعې وروسته قضا ددوی‌ترمنځ بېلتون‌اچوی اوښادی خان د عشق په سوی کښې له‌وطنه ور کېږی، ځې اصفهان ته!

اوبیائې پلارپسې‌ځې، وطن ته‌ئې راولی، له دې ځایه بیر ته بیا هند ته ځې او له هغه ځایه را ګرځې دخپلې‌محبوبې کلی ته‌نژدې مرې، بیبو په‌خبر پېږی

(۱) پښتا نه شعرا، جلد اول ۱۱۵ مخ

ور ځی، چه خپل محبوب مړوینی، دا هم ځان پرا چوی او خپل روح د مین په غېږ کښې سپاری.

دادوه میڼان په دلارام کښې چه اوس ئې شین دنه بولی یو ځای ښخ دی، او چه دپردیسانو قافلې ددوی دقبر پر حدر اور سپږی هر و مرو ددوی د نقل یوه نارې په لوړ آواز ددوی دمینې په یاد کوی او دا ارس یوه عنعنه ده.

دمېرمن بیبو او بنادی خان قصه په پښتنو کښې د پر شهرت لری، دوی یو دبل په فراق کښې د پری سوی ناری کړی دی اوزموږ دملی اشعارو مهم رکن باله کېږی.

(۱)

دبیبو داشعار ونمونه:

هغه وخت چه بنادی بیبو ته دعشق اعلان و کړ، نو بیبو د پښتنو الی په حکم دعشق خواهښت ونه مانه، نو بنادی ولاړ بیبو یوازی د ګران محبوب په بیلتون کښې سوځی، په لاندی نارې کښې دمین خواست او خپل جواب په څه ارمان تصویروی!

« خدایه د دې پوتی په هاخوا، د هایل پوتی په دې خوا، زما او دبنادی وه سره نا سته.

سپینه خوله ئې له ماغو بنته وزمتی نکړه زما ارمان سو ې دبنادی او ستریه خواسته!»

(۲)

بیبو د خپل مین په بیلتون کښې نا سته ده، د بکوا پر د بنت کاروانو نه تېر ېږی، دا وړته ګوږی چه ګوندی د دې مین په دې کاروان کښې وی، مګر هغه وخت چه یأس غلبه پر کوی، د خپل زړه سپځلی داسی بنکاره کوی!

« کاروانونه‌دبکواپردښت تېرېږی، کاروانونه دبکواپر دښت تېرېږی . . .
ښادی جان ورسره نشته، په‌دانور کاروان می‌مینه نه‌ماتېږی . »

(۳)

هغه‌وخت چه‌ښادی له‌اصفهانه راغی اودده آ کابیبوددە په نکاح کړی وه
دبیبو د کور په‌دروازه کښېنې بزغ ورو کړ، چه‌پردېس یم، یوچلم رادك کړه
چه‌وئې څکوم ، د بیبو موردې ته‌وویل چه مسافرته چلم‌ډك که! نوښادی خان
ناره پرو کړه : —

« که‌ورو وروڅی بیبوجانه په‌څه ناز په کرشمو څی !
دیوه ښادی دپاره بخملې گوتی سیڅی پرچلم اور زدی ! »

* * *

بیبو چه‌دښادی آواز واروید، له‌خوشالې څخه داسی ناره پر کوی:
« چلم به‌ډك کړم دلونګو داڑې پېزوان به پاس پرچلم کښېږدم . . .
نوبه یوسم داچلم اوسپینه خوله به‌دښادی ومخ ته کښېږدم . »

* * *

مېرمن بیبك

دایوه عارفه ښځه وه، چه په خراسان کښې او سېدله دېره پاك طینته
مېرمن وه . (۱)

ددې کوم اثرراته معلوم نه‌دی، خودا څر ګندېږي چه‌ښه مشهوره عارفه
ښځه ده .

شیخ ابوسعید ابوالخیر وایی چه بیبك ماته را غله وې ویل چه عرض لرم .
ماویل : — وایه !

---

(۱) خیرات حسان .

دي ويل «خلك دعا كوى چه‌خدايه موږ يو گړى پرېږ ده‌چه‌تاو‌پېژنو !
مگر دادرى كاله كېږى چه زه‌وايم :
«خدايه! مايونفس وځان ته‌پرېږده، چه ځان وپېژنم چه‌زه څوك او دځه ديار‌ه يم ؟؟ »

* * *

مېرمن بيد له

مېرمن‌بيدله دشيخ عبدالله ديوانه ماندينه‌وه، په‌هرات كښې‌اوسپداه. خواجه عبدالله دهرات دمشهور خواجه‌حكيم زوى‌دى اوخورا معروف سړى‌و .(١)
دې مېرمنې ښه‌خوازه خوازه اشعار ويل اومېړه مخې‌ښځه‌وه .
دامطلع ددې ده : (٢)

روم بباغ وزنر گس دود يده وام كنم
كه‌تا نظارهٔ آن سر وخو ش خر ام كنم

خواجه‌حكيم خوپه ١٢٦٨ هـ كښې‌وفات‌شوى‌دى(٣) نومونږ ددې‌مېرمنې ژوند هم په دې تاريخ كښې اتكل كولاى شو .

* * *

مېرمن بى‌بى نوره

مېرمن بى‌بى نوره يوه عابده اوزاهده ښځه وه ، چه‌دخپل‌ژوند لويه‌برخه‌ئې په زهد اوتقوى كښې تېره كړې وه .
ددې‌مېرمنى نورحالات معلوم نشول ، خوددې دښو كاروځخهٔ يودادى چه وايى دهرات دمالان‌پل دې تيار كړى دى . (٤)

---

(١) تذكرة الخواتين . (٢) خوك داشعر ومېرمن «بى‌بى» ته‌چه د شيخ عبدالله خو رده منسوبوى. (خيرات حسان ج١) (٣) مشاهيرالنسوان٣٠٧ مخ .
(٤) دهرات دمزارو رساله ـ ٧٦ مخ .

پس له مرگه هم دهرات دشمعان پهمحله کښې دعراق وره ته نژدې ددې مزاردی اودپر خلق ئې زیارت ته ورځی . ښه ګرم روح لری .

* * *

میرمن بی بی ستی

میرمن بی بی ستی یوه متقی اوپرهیزګاره عابده وه ، وابومسلم مروزی ته ئې دپر نظر درلود اوددې په همت ابومسلم په هرات اونیشاپور کښې مهم مهم کارونه وپای ته ورسول . (۱)

دامیرمن دخپل ژوند په لمړی سر کښې ښه ښځه نه وه ، اویو میره ئې ابونصر نامی درلودچه دپربې باکه و ، خو په پای کښې دخدای مهربانی پروشوه اوښې لاری ته ئې مخ شو ، اوله هری خوا خلك پرر اغوند شول اودپر معتقدین ئې وموندل .

دامیرمن په یوسلو اته پنځوس (۱۵۸) هجری کال وفات شوه اودهرات دپرخلك ئې زیارت ته ورځی . اودشاه رخ میرزا په وخت کښې ددې عابدې پرقبر ښه ودانی اوعمارت اوعالی مسجد جوړ کړ شو .

* * *

میرمن بیګی

میرمن بیګی دامیر درویش علی دبلخ دحاکم ماندینه وه ، پههرات کښې ئې دپر عزت او حشمت درلود.(۲) دې میرمنې دخپل وخت دشاعرانو سره ښې مالی مرستی کولې اومعاشونه ئې ورته مقرر کړې وه پخپله ئې هم شعروایه ، ښه شاعرانه طبع ئې درلوده ، دارباعی ددې ده :

آبی که فلک بلب چکاند مارا ... سر گشته به بحرو بر دواند ما را

ای کاش به منزلی رساند مارا ... کر هستی خود باز رهاند ما را

دهرات دمزارو رساله ـ ۱۵ مخ . (۲) تذکرة النخواتین.

په ډې پورته رباعی کښې که دقت وشی د دې مېرمنی فلسفی افکارښه څرګندېږی اوله دې څخه ښکاره کېږی چه دا مېرمن د پوره علم خاوندہ وه، اوښه لوړ فکراوخیال ئې درلود، مګر متاسفانه چه نور آثار ئې ورک شوی دی .

دالاندی بیت هم ددې دی چه دبدیع الزمان په یوه مجلس (۱) کښې ئې ویلی و :

من اګر توبه زمی کرده ام ای سروسهی
توخود این توبه نکردی که مرا می ندهی

(۱) دا مجلس ښه قصه لری چه لږوما دلته درج نشوه او په تذکره کښې را غلې ده .
(بینوا)

پ

میرمن پورچیستا

میرمن پورچیستا د سپین تمان (زرنشتر) لور ده چه «جاماسپ» د «کی گشتاسپ» وزیر ته ئې په نکاح ورکړې وه.

ددې میرمنې ذکر په اویستا کښې راغلی دی، چه ددې دازدواج دموضوع او د کلام نمو نه ددې کتاب په مقدمه کښې تېره شوه دلته ئې فقط په دې ردیف کښې نوم راوړه شو. (۱)

(۱) ددې کتاب (۱۳) او (۱٤) مخ ته دی رجوع وشی.

مېرمن تاجور سلطانه (۱)

مېرمن تاجورسلطانه يوه پښتنه فاضله مېرمن اوپه «بی بی جانی» مشهوره وه .
دا عفيفه مېرمن د مرحوم سردار عبدالقدوس خان اعتمادالله و له صدراعظم ماندينه وه .

مېرمن بی بی جانه دپلار له خوا وسردار محمدعليخان، دسردار پير محمدخان زوی ته، چه هغه دسردار پاينده خان زوی اوپه سرفراز خان ملقب و، رسيزی . دمور له خوا و (بی بی فاطمې) ته چه په آغا جانی مشهوره اود لوی امير (امير دوست محمدخان) لوروه رسيزی . اودمور پلار ئې دنومیالی، ننګياليو پښتونو اديب خوشحال خان له پښته دی . چه ګوا کی دامېرمن له دوا ره خواو دپښتنو مهمو کورنيو ته منسوبه ده . ددې مور اوپلار ددې په تعليم کښې دېرزيار يوست اوپه دې جديت ئې روز له . بلکه ضياالملة والدين چه ددې د ما ما زوی و هم ددې مرحومې تعليم اوتربيې ته مخصوصه توجه درلوده . دمېرۍ په کور کښې له مهمترينو مېرمنو څخه شمېرل کېدله، چه هم ئې د کور کار کاوه اوهم ئې خپله علمی خوا پوره کړه له . دکور مشر توب ئې په دا سی حال کښې چه مختلف الطبائع جمعيت ئې تر لاس لاندی و، په خورا ښه ډول اداره کاوه چه نه لوی اونه کوچنی ځنی ناراضه کېدله .

دې مېرمنی لمړی دينيه علوم دخپل پلار په کور کښې دخصوصی معلمانو څخه لوستی وه، په صرف، نحو، انشاء، املا، فقه او نورو کښې ئې پوره لاس در لود اوهر وخت به داستاذانو له خوا دتحسين اوتمجيد مورد ګرځېدله .

په خطاطی کښې دوطن دمشهور استاد سيدعطاء محمدشاه شاګرده وه. چه ددې

(۱) دکابل مجله ۹ کال ۹ ګڼه

دخطاطی نمونې د کابل په کالنۍ اومجلو کښې زنګو ګراف اونشر شوی دی. او په ښځو کښې ددې په شان ډېری لیږی مېرمنی لرو.

دې فاضلی مېرمنی چه دخواجه انصار رحمة الله علیه «الهی نامه» دسردار نصرالله خان په غوښتنه لیکلې ده، ددې دخط دبهتر ینو شا هکاریو څخه ګټل کېږی. اوښه راڅرګندېږی چه دامیرمن له هری خوافاضله، عالمه مېرمن وه،

وفات :

دامېرمن دبرات دمیاشتی په پای کښې دشنبې په شپه په ۱۳۵۸ (ه ق) کال چه له ۱۳۱۸ (ه ش) سره برابردی له دنیا ولاړه اوددې په ماتم دپښتنو ډېری مېرمنی په زړه غمجنی اوخواشینی شوې .

ددې ضائعې غم لرلی خبرد کابل دمجلی د ۹ کال په ۹ ګڼه کښې نشر شوی دی.

* * *

میر من تردی

مېرمن تردی دمیمنې په ولایت کښې اوسیده، ډېره فاضله اوشاعره مېرمن وه دمولانا آهی له خپښانو او خپلوانو څخه وه. (۱)

مګر متأسفانه چه اشعارئې زمونږ لاس ته رانغله، اودې میرمنی اکثره اشعار په ترکی ژبه ویلی دی.

* * *

مېرمن تورپیکۍ

مېرمن تورپیکۍ یوه توریالۍ پښتنه وه چه تقریباً څلرویشت کاله دمخه دقندهار کدنی په یوه کلی کښې وښ ته نژدې اوسیدله . (۲)

---

(۱) مشاهیر النسوان ۱۷٤ مخ - جوهر العجائب .

(۲) دطلوع افغان د ۱٤ کال لمړۍ شماره .

دامپر من په خټه اشکزی وه، چه در یدی خا ن یوه زلمی نجل و ه. دې مپرمنی دهغه کال په غزا کښې چه پښتنودخپل استقلال د ګټی دپاره سرونه پرمیدان اینبی وه دخپل زلمی مپره سره برخه اخیستې ده اودزلمی مین سره ئې یوځای خپل سر تروطن قربان کړی دی، چه ددواړو مزار اوس په سپین بولدك کښې شته .

ددې مپرمنی دتوری قصه دطلوع افغان د ۱٤ کال په لمړی شماره کښې ښاغلی عبدالحی خان حبیبی د پره خوزه اوجذا به لیکلی ده، چه زه دلته یوازی دده مپرمنی اشعار چه دفدا کاری پرمیدان ئې له پاك زړه څخه راوتلی دی دنمونې په توګه رانقل کوم دتوری قصې سره که څوك مینه لری دطلوع افغان پورتنی شمارې ته دی رجوع و کړی .

(۱)

د دې مپرمنی اشعار :

ریدی خان زلمی دپلار له جوشه اوپښتنوالی د که وینا اروی ، د جنګ تیاری کوی له مور او پلار څخه رخصت غواړی او تورپیکی ته وایی :

«زما ګرانی تاهم پرخدای سپارم! زه ځم دپښتنوالی ننګ پرځای کوم!»

مګر تورپیکی دده داوینانه منی بې اختیاره ناره پر کوی :

پر سپین مید ان به در سره یم

زه پښتنه له توری نه ترپلم مینه !

(۲)

تور پیکی دخپل ګران اوزلمی مین سره څنګ پرځنګ دفدا کاری

میدان ته‌ځی، هلته چه دخپل مین مېړانه وینی دواده په‌نـکریځو سور لاس پورته کوی وایی :

تر دې تېرې توری دی جار سم
د غلیم و ینی بیوه گرانه مینه !

په وینو رنـگ تـوره دی راوړه
راسه په‌سرو شوندو بې‌زه دریا که کمه

(۳)

تر دې جنـگ وروسته له‌لیری یوه گولۍ رالځی، دریدی‌خان پرزره ننبلی په‌سرو وینو کښې کرنـگ لوېږی، روح ئې جنت ته ځی، شهید کېږی. تورپېکۍ زمونږتوریالۍ پښتنه یو ازی پا تېږی، داچه‌خپل گران‌مین‌په‌وینو کښې لڑندو ینی، له‌حزین‌زړه‌څخه داسی‌فریادراباسی :

جـا نـا ن می سرپر وطن کښېښود
په تارد ز لفو به کفن ورته گنډمه

تر دې ناري وروسته توره کش کوی، لکه زمری په‌غلیم‌ور گډېږی، د‌ېر سره ژوبلوی، په‌پای کښې‌سخت پرهار، اخلی‌سرې وینی ئې سپین باړخو گان رنگینوی، ته‌به‌وایې له‌جنته ملکی ددې دزینت دپاره سره خالونه راوړه.

رالځی ترخپل مین پوری‌ځان رارسوی، پرلوېږی‌اوروح ئې‌جنت ته‌ځی.

بله ورځ چه شهیدان ښخېږی، دادوه د لبا خـتـگـا ن چه‌دواده کالی ئې لااغوستی وه، یوځای سره ښخ اوپه ابدی خوب بیدېږی.

ج

مېرمن جانان بېگمه

دامېرمن دعبدا لرحيم خان خانان لوروه چه‌هغه دبېر امخان‌زوی اوخه مده دقندهار حاکم‌و، چه‌په «خان‌خانان» مشهوراو ملقب و (۱)

دې‌مېرمنی له‌علم‌او فضل څخه‌پوره برخه درلوده، پر قرآن کريم ئې يو تفسير ليکلی‌دی. په‌شعر کښې‌هم‌موزونه‌طبع درلوده. په‌رنګ‌دېره‌ښايسته‌اوحسينه ښځه‌وه‌جهانګيرباچا چه‌له‌هنده ددې‌دحسن آوازه واروېده اوددې په معنوی فضيلتو نوخبرشو، نوئې‌مرګه‌ورولېږله چه‌په‌نکاح ئې کړی. مګرددې مېرمنی چه‌خوښه‌نه‌وه‌خپل غاښونه ئې‌وئيستل، کوڅی‌ئې پرې کړې‌او دمرګی په‌لاس ئې‌باچاته ورواستولې. داحرکت ددې‌برعفت‌اوښه والی‌پوره‌دلالت کوی، او دا ثابتوی‌چه دجهانګير له‌باچهی برخلافه‌وه. دامېرمن‌په(۱۰۷۰ه) کال کښې وفات‌شوې‌ده(۲) ددې‌مېرمنی هم‌نور آثارورک‌دی خودايو مطلع ئې‌په«خيرات حسان» کښې ذکر شوی دی:

مطلع:

عاشق زخلق عشق تو پنهان چسان کند

پيداست ازدو چشم ترش خون گريستن

* * *

مېرمن‌جهان ملکه

مېرمن جهان‌ملکه دسلطان‌مسعود فاضله‌لورده، چه سلطان مسعود دسلطان محمودزوی‌اود(۴۲۲ه) په‌حدودو کښې دغزنی پرتخت کښېناست (۳). نو

(۱)(۲) دخيرات حسان څخه. ج ۱

(۳) تاريخ بيهقی ص ۱۱

ددې مېرمنې ژوندهم په دغه وخت کښې دی . دامېرمن ښه عالمه اوفاضله ښځه وه. دادبیاتو سره ئې پوره مینه درلوده، پخپله هم خوږه ژبې شاعره وه چه دلاندی غزل څخه ددې افکار، دشعر روانی اوسلا ست ښه څرګند ېږی، هغه غزله داده :ـ (۱)

ای نور دیده ! د یده ګردجهان دویده
تادر جهان خوبی یاری چوتو ګزیده

دل زا شتیاق وصلت ازجان ملول ګشته
جان در هوای مهرت از غم بلب رسیده

صد پاره خار هجرت در پای دل شکسته
ا ز بو ستان و صلت هر ګز ګلی نچیده

کس چو ن تودلر بائې بی رحم پا د شا هی
فا ر غ ز هر ګدا ئی نه د یـد ه نه شنید ه

تا کلك صنع ا یز د نقش و جو د بسته
چو ن تو ملك نهاد ی هر ګز نیا فر یده

جا نـاخبر نداری کـا ین خستهٔ فرا قت
دل را یګـان بد اده غم را بجا ن خر یده

تـا دیده دید ه رویت سیلاب شو ق رانده
تادل ګزیده مهرت از جان طمع بر یده

تا چشم نیم مستت بر جان کمین کشا ده
هستم ز بار هجران چون ابرو یت خمیده

---

(۱) د ملا محمد صدیق آخند قلمی تذکره .

ح

مهرمن حرۀ ختلی

میرمن حرۀ ختلی دسلطان محمود خوروه ،په‌غزنی کښې اوسیدله، دا میرمن په(٤٢١ هـ) کال ژوندی وه ؛ ډېره فاضله‌او سیاستمداره ښځه‌لیده کیږی .

هغه‌و خت چه سلطان محمود وفات شو اوامیر مسعود هم په پارس کښی‌و سلطنتی ټول کارونه ویجاړ پراته‌وه ،دې‌میرمنی په‌ډېرمتانت خپل کهول او دننه کورنی‌ او دباندی سلطنتی امور ادا ره کړه ،څو چه ئی امیر مسعو د دسلطان محمود زوی ته مکتوب واستاوه او هغه ئې راو غوښت ، ددې‌لوړ او سیاسی فکر لوستونکی‌ددې‌میرمنی له‌دې‌مکتوب‌څخه‌څر ګند ولای شی ، چه دلته اوس ددې مکتوب عیناً رانقل کوو .

دتار یخ بیهقی لیکونکی په ٤٢١ هـ کښې داسی لیکی: «ازخواجه‌طاهردبیر شنودم ،پس‌ازآنکه امیرمسعود از هر ات ببلخ آمد و کار ها یك رویه شد گفت چون این‌خبر به‌سپاهان برسید امیرمسعودچاشتگاه این‌روز مرابخو اند وخالی کردو گفت :پدرم گذشته‌شد و برادرم‌را بتخت‌ملك خواندند. گفتم خداوند را بقاباد! پس کتابت ملطفه خودر ابمن انداخت گفت بخوان: باز کردم خط عمتش بود، حرۀ ختلی : (١)

* * *

دمیرمن حرۀ‌ختلی مکتوب :

«خداوندما سلطان محمود نمازدیگر روزپنجشنبه هفت روز مانده بو داز ربیع الاخر گذشته‌شد ،رحمت‌الله علیهٔ ، وروز بندگان پایان آمدو منبا همهٔ حرم بجملگی برقلعت غزنین میباشیم، وپس فردا مرگ اورا آشکارا کنیم

(١) تاریخ بیهقی ١١مخ

ونماز خفتن آن پادشاه را بباغ پیروزی دفن کردند و ما همه در حسرت دیداروی ماندیم، که هفته‌ای بود که تا ندیده بودیم. کارها همه بر حاجب علی می رود و پس از دفن سواران مسرع رفتند، هم در شب بگوزگان، تا برادر محمد بزودی اینجا آید و بر تخت ملك نشیند و عمت، بحکم شفقت که دارد بر امیر فرزند هم در این شب بخط خویش ملطفه نبشت و فرمود تا سبکتر دو رکابدار را که آمده‌اند پیش ازین بچند مهم نزدیك امیر نامزد کنند، تا پوشنده با این ملطفه از غزنین بروند و بزودی به جایگاه رسند، و امیر داند که: از بر ادر این کار بزرگ برنیاید، این خاندان را دشمنان بسیارند و امیر داند ماعورات و خزاین بصحرا افتاده‌ایم، باید که این کار بزودی پیش گیرد، که ولیعهد پدر ست و مشغول نشود بدان ولایت که گرفته است و دیگر ولایت بتوان گرفت، که آن کارها که تا اکنون میرفت بیشتر بحشمت پدر بود و چون خبر مرگ او آشکارا گردد کارها ازلونی دیگر گردد و اصل غزنین و آنگاه خراسان و دیگر همه فرعست، تا آنچه نبشتم نیکو اندیشه کند و سخت به تعجیل بسیج آمدن کند تا این تخت ملك و ماضایع نمانیم و بزودی قاصدان را باز گرداند، که عمت چشم براه دارد و هرچه اینجا رود سوی او نبشته می آید» (۱)

(حرهٔ ختلی)

* * *

میرمن حرهٔ جلالی

میرمن حرهٔ جلالی دسلطان بهاءالدین سام مور وه، چه هغه دمحمدزوی او محمد دملك فخرالدین مسعود بامیانی زوی و.

دامیرمن دسلطان غیاث الدین محمد سام او سلطان معزالدین چه دغور لوی

(۱) تاریخ بیهقی ۱۲ مخ

باچهان وه . خور بلل کېده ، (۱) چه منهاج السراج ئې تردې دوارو ورنو فاضله اوښه بولی ، او داسی وایی :

« . . . این همشیره ازهردوسلطان بهتر بود . . . (۲) »

دامېرمن دشمس الدین محمد په نکاح وه ، چه دبامیان پرتخت ناست و .

* * *

مېرمن حلیمهٔ حافظه

مېرمن حلیمهٔ حافظه دپښتو د مشهور شاعر خوشحال خان خټك لور او دعبدالقادرخان خټك سکنی خور ده ، چه ددې دژوند اودشعر حالات دپښتو پهٔ یوه قیمتی اثر «پټه خزانه» (۳) کښې چه دښاغلی حبیبی په زیار لاس ته راغلی دی ذکر شوی دی او زه ئې عیناً هغه عبارت رانقلوم :

« . . . دخان علیین مکان خوشحال خان خټك لوروه ، چه دعبدالقادرخان خټك سکه خور کېده ، زما پلار هسی روایت کا : چه زه (بنو) ته ولاړم ، په هغه وقت دا پښتنه ژوندی وه ، او دخپل پلار په ژوندئې مروجه علوم ولوستل ، اوبیا دشیخ سعدی لاهوری رحمة الله علیه مریده سوه ، اودخپل پلار (٤) عبدالقادر خان په لاس ئې بیعت و کا ، چه هغه هم دشیخ دوران خلیفه و .

روایت کا : چه حلیمه بی بی فاضله اوعارفه ښځه ده ، او په سراپرده دعصمت ناسته ده ، مېره ئې نه دی کړیء ، او د خالق عبادت کا ، او د خپل ورور عبدالقادرخان په کور کښې نورو ښځو ته لوستل کا ، اوقرآن عظیم ئې هم په یاد دیء ـ زما پلار وویل : چه حلیمه بی بی په پښتو ښه اشعارهم وایی ، او پخپل عصر سرامداقران ده ، اوموزونان دپښتوئې اشعار خوښوی ، دتصوف اوطریقت

---

(۱) طبقات ناصری ـ لمړی جزء ـ ۵۰ مخ . (۲) طبقات ناصری ـ ۱۰٤ مخ .

(۳) دا پټه خزانه ـ پردرو خزانو ویشلی شوې ده ـ یوه برخه قدماء تر ۱۳۹ هجری پورې دوهمه خزانه دمؤلف معاصر شعراء دریمه خزانه شاعرې مېرمنې دی .

(٤) دپلار د کلمی په عوض باید «پرور» وی او کاتب سهواً پلار لیکلی دی اویا ئې سهواً دخوشحال خان پر ځای عبدالقادرخان لیکلی دی . بینوا

کتب ئې تول لوستلی دی . اوهسی وایی : چه مشکلات دمثنوی شریف اومکتوبات دحضرت امام ربانی قدس سره حل کوی ، دحلیمي په اشعارو کښې مجازی عشق نه ښکاری ـ بلکه تول شعرونه ئې دحقیقت پرلاردی ، اودمحبوب حقیقی صفت کا دغه یوه بدله ئې زما پلار ماته وویل ، چه په خزانه کښې (۱) ئې داخلوم رحمة الله علیها .

غزل

د اشنای په فکرخوښه هسی شان شوم
نه پوهیږم چه « ممتاز » که « نورجهان » شوم (۲)

چه ئې کړمه ستا په مینه سر فرازه
ثناخوانه په څو رنګه درحمان شوم

چه مجاز می د ایاز ولاړیء له زړه نه
سربلنده ترمحمود غوندی سلطان شوم

و هرچاوته چه ګورم واړه دی دیء
د جمال په نندارو ئې شادمان شوم

غیر فکر می له زړه نه را بهر شو
پر خلیل و پر عدو باندی یکسان شوم

« حلیمي » دغماز مکر زیات له حد شو
چه دی ببل له یاره نکا ، په ګمان شوم

* * *

مېرمن حیاته

دا مېرمن دهرات په ښار کښې اوسیدله ، ښه خوږه ژبی شاعره اودروانی طبع خاونده وه ، چه تقریباً لس زره بیتونه ئې نظم کړی دی (۳) .

دا په « بی بی جانی » مشهوره وه ، چه لمړی د نورعلی شاه ماندینه وه اودهغه

---

(۱) مراد یې خزانه ده . (۲) ممتاز بیګم د شاه جهان ماندینه وه او نورجهان نه جهانګیر ښځه وه .
(۳) مشاهیر النسوان ۲۳٤ مخ .

ترمرګ وروسته ملامحمد خراسانی وغوښتله ، اودعروض او قواعدو علوم ئې له خپل دې مهرې څخه پوره ولوستل . (١) چه وروسته‌ئې په‌دې علومو کښې ښه مهارت و موند .

ددې مهرمنی اشعار په مختلفو تذکرو کښې راغلی‌دی ، «جواهرالعجائب» ددې دالاندنی غزله ثبت کړې ده .

عجب شیرین لبی ، لیلی عذاری کرده ام پیدا
درین ایام خوشحالم که‌یاری کرده ام پیدا
بیاد لعل شیرین میکنم چون کوهکن جانی
چوفرهاد ازبرای خویش کاری کرده ام پیدا
زپا افتادم از اندوه هجران چون کنم یارب
که این اندوه از دست نگاری کرده ام پیدا
چو مجنون می‌نهم رو بر کف پای سگ کویش
من دیوانه نکو غمگساری کرده ام پیدا
بیکدم صرف راه آن بت بیگانه وش کردم
«حیاتی» آنچه من در روزگاری کرده ام پیدا

دابیتونه هم ددې دی :

منع دلم از ناله مکن در پی محمل — کزناله کسی منع نکرده‌است جرس را

* * *

چاره درد من بیچاره را — دانند و عمداً تغافل میکنند

* * *

ای طاهر قدس عرش آشیان — مجو دانه از خاك این خاکدان

* * *

قفس بشکن و بال و پر باز کن — به گلزار و گل گشت آغاز کن (٢)

(١) د ملا محمد صدیق آخند قلمی تذکره . (٢) مشاهیر النسوان .

خ

مېرمن خجو

مېرمن خجو چه اصل نوم ئې بی بی خديجه وه، دتوريالی او ننګيالی پښتون وزير محمد اکبر خان مورده، چه دې ملت ته ئې دنوميالی وزير په شان زوی چه دده تاريخی کارنامې هيڅکله دپښتانه ملت هير ولای نشی، تقديم کړ او دپښتنو الی په شيدوئې وروزه.

دې مېرمنی دمملکت په انقلاب کښې ښه ښه خدمتونه کړی دی، لکه خپل زوی چه ئې دبخارا څخه خلاص کړاودپردیو له لاسه ئې دملت په خلاصوالی کښې دقدرور زحمتونه وائستل. (۱)

نافعه او ګټور آثار لکه مسجدونه اوپلونه ئې په ياد ګار پرېښوول.

نودا مېرمن ددې مملکت نوميالی اوفکوره ښځه وه چه دخپل زوی سره ئې په اصلاحی افکارو کښې مرسته کړې ده.

* * *

مېرمن خديجه

مېرمن خديجه دمحمد لور، داحمد لمسی ده، چه پلارئې لوی فقيه و(۲) نور ځای ئې نه دی معلوم خود خراسان ده. (۳)

دې مېرمنی خط ډېر ښه خوش خطه ليکه. چه دخپل وخت مشهوره خوش نويسه بلله کېده.

په علم کښې ئې هم ښه مقام درلود، له خپله پلاره اونورو علماؤ څخه ئې تحصيل کړی و.

---

(۱) امان النسوان.

(۲) پلارئې په فقيه ابو رجا النيرجانی مشهورو. (۳) خيرات حسان.

علی القاری په خپل کتاب کښې چه «ائمار الجنیه» نومیږی لیکی چه: خدیجه دمحمد لور ډیره فاضله ده اوپه فقهه کښې خاص مهارت لری.

ددې وفات په (٣٧٢ هـ) کال کښې واقع شوی دی نور حالات یاددې آثار څرګند شوی نه دی، فقط دخیرات حسان دمؤلف له خولې ئې پیژنوچه خورا فقیهه ښځه وه اوله خپله پلاره اونورو څخه ئې ډیر روا یتونه کړی دی.

د

میرمن درخانۍ

میرمن درخانۍ د طاؤس خان یو سفزی لور، اود آدم خان محبوبه وه. چه د آدم خان د داستان لویه برخه په دې پښتنې شاعرې اړه لري. (۱)

درخانۍ د آدم خان په عشق کښې ډېر تکا لیف لیدلی، او یوه وفا داره اودمینې په اور سوې پښتنه وه. داهم پر آدم خان مینه وه او ډېری عشقی نارې لري، درخانۍ د (۹۵۰ هـ) په شاو خوا کښې ژوندۍ وه او د عشق توری تیارې ئې لیدلی دی. (۲)

د دې میرمنی عشقی نارې په پښتنو کښې زیات شهرت لري او دلته لاندی یوځو نارې د نمونې په توګه راوړو:

(۱)

درخانۍ چه پر آدم خان مینه وه نو د ده په بېلتون کښې داسی اړه کوی:

«ورانه خلقه د یو پیرۍ و هلې نه یم ـ چه د چا خبره نه اروم کښه یم ...
آدم خان کوچ و کړله مالاړ شو ـ په آدم پسې په تور لیمه ړ نده یم.»

(۲)

درخانۍ چه د خپل یار په انتظار کښې ناسته ده، خپله ژړا داسی تصویروی:

« په دا نیم پلنګ یم نا سته ـ د غه نیم پلنګ می تا و ته پر ښې هم چه ته زلمی رانغلې آدم خانه ـ داور بل وینته می ژاړی گوښې گوښې.»

---

(۱) حیات افغانی (ص ۲۱۱) درخانۍ د جوګی خان حاجی خپل لور ګڼی.
(۲) پښتانه شعرا ـ لمړی ټوک (۲۱۲ مخ)

(٣)

دوصال په شپه چه درخانې اوددې محبوب آدم خان سره یوځای دی. درسته شپه وینې دمینې او محبت خوږې خبرې سره کوی، خو، دوی نه دی خبر سهار شو- ددرخانې دپلار یوې مېرنۍ نارې و کړه، ګړیا د سهار اعلان ئې خپره کړ و ګورې چه درخانې په څه تأثر ناره پر کوی :

«په کومې کښې دی خوږشه، ای زما دبابا مېرنۍ !!
سبا نه و، تاسبا کړ داشاهی آدم دی ویوست زما له غېږ ی ،

* * *

دد ی مېرمنی اشعار ټول ملی اوله سپېڅلی مینې ډك دی چه د عا مو او ملی پښتنو په خولو کښې دپر او پر ملی لحنو ویل کیږی اوزیات شهرت لری .

دامېرمن هم دزمانې له ناورو پېښو اودخپلو انودجهل په اثر د مینې قربانی شوی او مر گ ئی په نا کامۍ کښې دی .

آدم خان تر دې دمخه په جنګ کښې مړی اودابیا دخپل محبوب په غم کښې مړی اوله آدم خانه سره یوځای ښخیږ ی .

رحمان بابادې مېرمنی زحمتو نه داسې بیا نوی :

درخانې په سل غمونو خدای اخته کړ ه
زه به و لی له تازا ز کو م کـه گو رې

دشیدا سپی مور

د شیداسپی مور، که څه هم مونږته ئې اصل نو م څر ګند نه شو، مګر دمشاهیرالنسوان لیکونکی لیکی چه شیداسپه یو ه نجلۍ و ه، چه مور ئی د سیستان دپاچا لور و ه .

دشیدا سپی مور په حسن او ښکلیتوب او پوهنه او عقل کښې دخپل وخت و تلې

مېرمن وه، مگر له نکاح څخه ئې نفرت کاوه ، ځکه نو پلار دې ته اجازه ور کړی وه چه هر څوك او هر سړی چه داخوښ کړی پلار به ئې ور کوی .

کم وخت چه ضحاك جمشید اله تخته کښته کړ ، نو جمشید پټ ګرځیده ضحاك دده تصویرونه هر لور ته ولېږل غرض داوو چه که پردغه تصویر برابر کوم سړی پیدا شی باید ګرفتاره شی .

دجمشید یو تصویر سیستان ته هم راورسېد ، اودې شهزادې ولیده. دشهزادې د برخوښ شو ، شپه او ورځ به دجمشید په لټون کښې وه .

څو حسن اتفاق و ، جمشید په پته سیستان ته راغی اودشیدا سپی مورچه په هغه وخت کښې شهزاده وه ، دی وموند. او جمشید په دې شرط له دی سره نکاح وتاړه چه ده ته پناه ور کړی او پټ ئې وساتی. دا مېرمن دغشی او لندی مو جده اواختراع کوونکې ده .

له جمشید څخه ئې یوه لور پیدا شوه چه نوم ئې شیدا سپه پر کښښود چه وروسته زمونږ له سیستانه ولاړه په ایران کښې باچا شوه . (١)

دسور لور

سوردسهاك زوی دی ، کم وخت چه آفریدون پرسهاك بری وموند او مملکت ئې ونیو ، نودسهاك دوه زامن «نهاوند» ته راغله چه دمشر زوی نوم ئې سوراود کشر داسام و. (٢)

سور باچا شو ، سام ئې سپه سالار وتاکه. سوریوه لور درلوده اوسام یو زوی دا دواړه له کوچنیوالی یو پربل مین او مینه ئې سره درلوده. او پلرو هم دوی سره نامزد کړی وه. سام چه وفات و کړ دده زوی د پرزور اومړنی اوجنګیالی و.

---

(١) مشاهیر النسوان - ٧٦ مخ .

(٢) طبقات ناصری - لمړی جزء - ٣٢ مخ

چه په هغه وخت کښې ئې د توری او مړانی ساری نه درلود، د پلار ترمرګ وروسته حاسدانو، د ی خپل اکا امیرسورته بدنام اوده غیبت ئې وکړ. دا کائی هم له ده څخه زړه بدشو او غوښته ئې چه خپله لور کم بل باچاته ورکړی، لورچه ئې خبره شوه خپل دا کا دزویه سره د شې ولاړه او څومره روپۍ او جواهر چه ئې اختسلای شوه وائې خیستل. په دې تلوار د غورا نه، غروته را غله اوهلته ئې وویل :ـ «ځای منده شه!» یا «زومندیش!» دهم هغه را هیسی دهغه ځای نوم «مندیش» کښیښود ل شو .

هغه و، چه له دغی میرمنی څخه دادسام د غوریانو پښتنو نسل جاری پاته شو او غیاث الدین او معزالدین غوندی شهنشاهان ځینی پیداشوه.

اودغور غرونه په و دان او دنیائی نندارو اوبرم ته حیرانه شوله .

* * *

میرمن دلشاد خاتون

میرمن دلشاد خاتون دامیرعلی لور او دامیرحسن ماندینه وه میړه ئې څه مده په بلخ کښې حکومت کړی و . (١)

دشعر او شاعری سره ئی مینه درلوده اوپخپله ئی هم کله کله ښه خوازه اشعارو ویل ،په نثر کښې ئی ښه پوره لاس درلود . (٢)

ددې آثار هم زمونږ نورو خوندو یه شان دزمانې په لاس برباد شوی دی. فقط دغه لاندی دوه مطلع ئی لاس ته راغلی دی چه دنمونی په توګه ئې راوړو :

اشکی که سرز گوشهٔ چشمم برون کند
بر روی من نشیند و د عوی خون کند

* * *

حل شدازغم همه مشکل که مرا دردل بود
جزغم عشق که حل کردن آن مشکل بود

---

(١) خیرات حسان (٢) مشاهیر النسوان .

مېرمن رابعهٔ بلخی

په څلورم قرن کښې مېرمن رابعه لمړۍ ښځه ده چه زمونږ په هواد کښې ئې په شعرویلو شروع کړې ده .

دامېرمن دملك زاده کانو له کورنۍ څخه وه دېلازنو ئی کعب (۱) چه په بلخ قزدار (۲) ،بست او د سیستان په شاوخوا کښې ئې حکمرانی کړې ده . (۳) دامېرمن په ښکلیتوب ،حسن او جمال ،فضل، کمال او معرفت کښې دخپل وخت یوه نو مورې اومشهور ښځه وه .

دحقیقی اومجازی عشق لمبې ئې په زړه کښې بلې شوی وی اودزړه جام ئې له محبته ډك و .

مولانا جامی دنفحات الانس په خاتمه کښې دامېرمن یوه عارفه اوباسلو که ښځه بللې ده .

شیخ عطار یخپله الهی نامه کښې ددې مېرمنی مفصل حال په یوه حکایت کښې نظم کړې دی چه تقریباً پنځه سوه بیتونه رسیږی. څنګه چه هغه ګرده نشو راوړای نو خلص مطلب ئې دینبتو په نثر لا ندی ترجمه کوو .دی وائی (٤) :

په بلخ کښې یو باچاو ،چه پلرو نه ئې هم پاچاهان تیر شوی وو ،اونوم ئې کعب و

---

(۱) دتالقان اوبلخ په مینځ کښې یو ځای (کعب) بولی ممکن چه ددې مېرمنی دېلا ریه نا مه مشهو ر شوی وی .(طبقات ناصری منهاج السراج د کلکتی چاپ ص ۳٤٦ (۲) قزدار (داول توری په پښې اوددوهم په وړغندی) دیوې ناحیې نوم دی چه له بست (کلابس) څخه اتیا فرسنګه لیری دی اوقصدار ئې هم بولی، په اوسنی بلوچستان کښې واقع دی .(معجم البلدان، دمصر چاپ ج ۷ مخ ۷۸) (او ـ کتاب الا نساب سمعانی داوقاف ګیب چاپ مخ ٤٥١)

(۳) مجمع الفصحاء .

(٤) ایران امروز ص ٤۳ شمارهٔ یکم اسفند .

ددوی پلرونه دابومسلم په وختو کښې دلته راغلی وه یوزوی ئې درلود چه په ښه خوی کښې ئې ساری نه و. «حارث» نومیده، اویوه لوړئې درلوده چه لقب ئې (زین العرب) و، دېره ښکلی وه، اوهرڅه چه ئې له خلقو اروپدل دستی ئې نظم کول پلار چه ئې مړ کېدی خپل زوی ئې راوغوښت او لور ئې وروسپارله ورته وویل: «دېرو نامدار انو دا لور زما څخه غوښتی ده مگرما ورنه کړه. که دی ښه مېړه وربیدا کی ءورئې کړه. دا پرما گرانه ده ښه ئې ساته.»

دپلار ترمرگ وروسته حارث پرتخت کښېناست، حارث یوښکلی مریی درلود چه «بکتاش» نومیده. رابعه پرمینه شوه اودمینی له رنځه رنځوره شوه ډاکټران ئې په علاج نه پوهیده، دې خپل دردپټ ساته، پټ پټ به ئې خپل اشعار دمینځی په لاس ورلېږل اوهغه به پخپل مخصوص صندوق کښې ساتل. (تول تذکره نویسان وایی چه دامېرمن په ښکاره پرمریی مینه وه، مگر په حقیقت کښې ئې دحقیقی مینی اور په زړه کښې لمبی وهلې) ځکه نویوه ورځ چه مېرمن رابعه دباندی باغ ته وتلې وه بکتاش ولیدله لاس ئې ورواچاوه دا په قهر ځنی ټهره شوه اووې ویل: «فقط دغه زما دمینی نسبت تاته بس نه دی چه لاس هم اچوی، زما په زړه کښې بل اوردی ته محض بهانه یې!» هاتفی ویل: «کم اشعار چه دې مېرمنی ترخولې راوتل هغه هېڅکله دداسی ناوړو کارو په اثر نه وه بلکه دمینی له حقیقی دنیا څخه یې حکایت کاوه..» کمه ورځ حارث پردې لږڅه بدگمانه شو مگر څه ئې نه وویل بله ورځ چه حارث دجنگ په میدان کښې وبکتاش تپی شو «نژدې وچه دغلیمانو په لاس کښې وزی په دې وخت کښې مېرمن رابعې خپل مخ پټ کړی میدان ته راغله دلسو دښمنانو سره ونه ئې پرې کړه او بکتاش ئې خلاص کړ حارث چه ښار ته راغی ء په دې مخ پټی سپاره پسی ئې خلق واستول مگر هیڅوا ونه موند. بله ورځ رودکی شاعر پرلاری تیرېدی ء رابعه لاری ته نژدې وه رودکی څو اشعار وویل. مېرمن رابعې ئې دستی ځواب ووایه، رودکی ددې اشعار

په یاد کړه اوددې له مینې خبر شو . بخارا ته چه ولاړ ی ء دپاچا په دربار کښې ئې چه حارث هم ناست و ، دې مهر منی اشعار ولو ستل څنګه چه ئې حارث نه پېژانده نو وې ویل «چه داد کعب دلور اشعاردی چه پرخپل مریی مینه شوې ده او بی شعر و بلو بل کارنه لری» حارث چه بیرته خپل ښارنه راغی ء پرخپل خور لاښه بد ګمانه شو، بله ورځ دبکتاش یو ملګری په دی خیال چه دبکتاش په صندوق کښې جواهر دی پلاس به ورشی ، ددې مهر منی اشعار پلاس ورغله او حارث نه ئې یو ړه حارث دخور دوژلو قصدو کړ لمړی ئې مریی په څاه کښې واچاوه اوبیائې حمام تود کړ ، ر ګ وهونکی ئې راوغوښت ورته ئې وویل چه «دمهر من رابعې ر ګ خلاص کړه. اومه ئې بندوه چه تولی وینی ئې تمامی شی» ر ګ ئې ورخلاص کړ او په حمام ئې ننه یستله دحمام ورئې په ګچو اوخښتو پسی وتاړه دې بیوزلی مهر منی پکاسه کښې خپلی وینی نیولی اوپر دیواله ئې پخپلو وینو به ګوته اشعار لیکل څو چه ئې آخر څا څکی وینه هم تمامه شوه او ولو یده له دنیا ولاړه ! «داوه دمینې قربانی ! »

داخبر بکتاش ته ورسیده ، هغه له څاه څخه په ډېر زحمت ځان راویوست اوسهار په شنه خړه ئې دحارث سر پرې کړ اودخپلی محبوبی مزارته راغی ء دهغې دمزار له څنګه ئې چاړه په نس کښې ووهله، دی هم مړشو اوهلته دمحبوبی له څنګه په خاورو کښې پریوت . . . (١) »

له دې داستانه څخه څرګنده شوه چه دامهر من درودکی معاصره اودځلرم قرن په ابتدا کښې اوسیدله، ځکه چه رودکی خو په ٣٢٩ ه کښې وفات شوی دی (٢) نو یقیناً به ددې مهر منی هم دادژوند وروستنۍ ورځی وی اوله اشعارو څخه ئې معلومېږی چه یخه شاعره ده اوویل ئې که څه هم په څلرم قرن کښې وه مګر ډېر روان اوخوازه دی .

---

(١) ایران امروز - ص ٤٤ شمارهٔ یکم اسفند . (٢) تاریخ ادبیات - رضازادهٔ شفق ص ٢١

د شعر نمونې :

(١)

د بلخ پسرلی

زبس گل که درباغ ماوی گرفت — چمن رنگ ارژنگ مانی گرفت (١)
صبا نافهٔ مشك تبت نداشت — جهان بوی مشك از چه معنی گرفت؟
مگر چشم مجنون به ابر اندر است — که گل رنگ رخسار لیلی گرفت
بمی ماند اندر عقیقین قدح — سرشکی که درلالهٔ ماوی گرفت
قدح گیر چندی و دنیا مگیر — که بدبخت شد آنکه دنیی گرفت
سر نرگس تازه از زر و سیم — نشان سر تاج کسری گرفت
چو رهبان شد اندر لباس کبود — بنفشه مگر دین ترسی گرفت

(٢)

مرا بعشق همی متهم کنی به حیل — چه حجت آوری پیش خدای عز و جل
بعشقت اندر عاصی همی نیارم شد — به ذنبم اندر طاغی همی شوی بمثل
نعیم بیتو نخواهم جحیم با تو رواست — که بیتو شکر زهر است و با تو زهر عسل
بروی نیکو تکیه مکن که تا یکچند — به سنبل اندر پنهان کنند نجم و زحل
هر آئینه نه دروغست آنچه گفت حکیم — فمن تکبر یوماً فیعد عز اذل

(٣)

فشاند از سوسن و گل سیم و زر باد — زهی بادی که رحمت باد بر باد
بداد از نقش آذر صد نشان آب — نمود از سحر مانی صد اثر باد
مثال چشم آدم شد مگر ابر — دلیل لطف عیسی شد مگر باد
که در بارید هردم در چمن ابر — که جان افزود خوش خوش در شجر باد
اگر دیوانه ابر آمد چرا پس — کند غصه صبوحی جام زر باد

---

(١) از تنگ هم راغلی دی .

گل خوشبوی ترسم آورد رنگ از ین غماز صبح پرده در باد
برای چشم هر نا اهل گوئی عروس باغ را شد جلوه گر باد
عجب چون صبح خوشترمی برد خواب چرا افگند گل را در سحر باد

(٤)

عشق او بازاندر آورد م به بند کوشش بسیار نامد سود مند
توسنی کردم ندانستم همی کز کشیدن سخت تر گردد کمند
عشق دریائی کرانه ناپدید کی توان کردن شنای هوشمند
عاشقی خواهی تاپایان بری پس بباید ساخت باهر نا پسند
زشت باید دید انگارید خوب زهر باید خورد پندارید قند

(٥)

الا ای باد شبگیری پیام من بدلبر بر (١)
بگو آن ماه خوبانرا که جان بادل برابر بر
بقهر از من فگندی دل بیك دیدار مهر ویا
چنان چون حیدر کرار در آن حصن خیبر بر

. . . . . (٢)

بدان مانند که بنشینند خطیب مه بمنبر بر
توچو ماهی ومن ماهی همی سوزم بتابه، بر
غم عشقت نه بس باشد جفا بنها دی ازبر بر
تنم چون چنبری گشته بدان امید تار وزی
زالفت برفتد ناگه یکی حلقه به چنبر بر
ستمبر گشته معشوقم همه غم زین قبل دارم
که هر گز سود نکند کس بمعشوق ستمبربر

---

(١) دشرق مجله ص٤٦٢ (٢) به اصل کښې ددی مصرع پرځای دتېر بیت لمړی مصرع اشتباهاً لیکلې شوې ده .

اگر خواهی که خوبانرا بروی خود بهجر آری
یکی رخسار خوبت رابدان خوبان برابر بر
ایا مؤذن بکار وحال عاشق گر خبر داری
سحر گاهان نگاه کن توبدان الله اکبر بر
مدارای «بنت کعب» اندوه که یار از تو جدا ماند
رسن گرچه دراز آید گذر دارد به چنبر بر (١)

(٦)

دوش برشاخ درخت یکی مرغ (٢) نوحه میکرد و میگریست بزاری
قلت لطیر لم تنوح و تبکی فی الدجی اللیل والهجوم داری
من جدایم زیار خویش وننالم تو چه نالی که با سعادت نالی
من بگریم چه خون دیده ببارم توچه گریی که خون دیده نباری

(٧)

دعوت من برتو آن شد کایزدت عاشق کناد
بر یکی سنگین دل نامهر بان چون خو یشتن
تا بدانی درد عشق وداغ هجر و غمکشی
چون بهجر اندر بپیچی پس بدانی قدر من

* * *

داپورته دوه بیته په تذکرة الخواتین کښې داسی لیکلی شوی دی :
دعوتم اینست بر تو کایزدت عاشق کناد
بر بت سنگین دل نامهر بان خو یشتن
تا بدانی درد عشق و داغ مهر و غم خوری
چون بهجر اندر بپیچی پس بدانی قدر من

---

(١) په دی غزل کښې دتجنیس مکرر صنعت دی .
(٢) ځینی ددی بیتو نسبت ورودکی ته کوی . (دشرق مجله)

ددې لاندې بیتو په نسبت دامېرمن «په مګس روئین» سره مشهوره شوه .

خبر دهند که بار ید برسر ا یو ب ز آ سما ن ملخان سر همه ز ر ین
ا گر ببار دزرین ملخ برسر او ازصبر سزد که بارد برمن بسی مګس روئین

دابیت به هم ددې مېر منی دی چه په المعجم فی معا ئیر اشعار العجم کښې د کعب دلور په نامه قید شوی دی . (۱)

ترك ازدرم درآمد خند انك آن خو بروی چابك میهمانك

* * *

مېرمن رابعه

دمېرمن رابعې ذکر په (پټه خزانه) کښې شوی دی ، مګر دپټې خزانې لیکو نکی هم ددې مېرمنی په پوره حالاتو خبر نه دې اوداسی لیکی : -

«... حال ددې شاعرې مانه نه دی معلوم سوی، خو لږ څه چه ښکاره ده هغه هسی ده، چه داشاعره دقندهاروه، او په دوران دمحمدبابر پادشاه ئې ژوند کا. هسی وایی! چه اشعار ئې ډېر و، دیوان ئې درلود، دغه یوه رباعی مانه صدیق اورفیق محمد طاهر جمریانې وویله . چه زه ئې دلته په خزانه کی رانقل کوم :

رباعی

آدم ئې مځکی، وته راستون کا په اور دغم ئې، سوی لرمون کا
دوزخ ئې روغ کا، پرمخ دمځکی نوم ئې دهغه، دلته بیلتون کا (۱)

* * *

مېرمن رابیا

مېرمن رابیا یوه پښتنه نجلی وه، چه دقندهار دهلمند درود پرغاړه د «بست» په تاریخی ښار کښې چه اوس ئې «کلابس» بولی اوسېدله . دپښتنو په هم هغه آزاده هوا کښې روزلې شوې او لویه شوې وه .

---

(۱) دطهران چاپ مخ ۱۱۲

(۲) له پټې خزانې څخه .

داد کلا بس دمشهور باچا اسلم خان (چه قصه ئې په پښتنو کښې ښېخی دېر شهرت لری) معاصره وه اوددې پلارداسلم خان باچا وزیرو . (١)

داسلم خان زوی فتح خان (چه دده داستان له ملی افسانو او تاریخی نقلو څخه بلل کیږی اوزمونږ دادبیاتو یوه مهمه برخه اړه پوری لری) پر مېرمن رابیا مین شوی و، اومېرمن رابیاهم زړه پربایللی و، څوپه آخر کښې رابیا دده معشوقه او نجل وبلله شوه .

ددې مېرمنی ژوندد (٩٠٠ هـ) په حدودو کښې تاکلای شو چه دفتح خان دژوندهم دغه دوره وه .

دې پښتنې نجلۍ پرملی لحن اووزن اشعارویل چه په پښتوئې «ملی ناري» بولی ـ داناري دېری خوزې اومؤثری دی، مګرهو، دهغه چاپه نردچه پښتنی روح ولری اویا ور سره اشناوی .

مونږد نمونې په تو ګه ددې مېرمنی څو اشعار راوړو :

(١)

رابیا دفتح خان معشوقه هم لکه د پښتنو نورې میرمنې او نجونی په ټولو جګړو کښې دخپل مین سره ملګرې وه، اودایوه توریالۍ او مېرنۍ پښتنه وه چه دفتح خان په قصه کښې مهمه برخه لری .

هغه وخت چه فتح خان دهندخواته ځی نو پرخپلی معشوقې رابیا داسی نااره کوی او پوښتی ئې چه راسره ځې که نه ؟

« که پوځی د ر ا بیا خو لګۍ می پوځی ! ـ

فتح ځی دهندو لورته دغه ګل رابیا می ځی که دلې اوسی »

---

(١) پښتانه شعراء ج 1

رابیادخپل گران مین په جواب کښې داسې لهغروره د کهناره کوی : -

« که ځورانده ، ځورانده ی د کرنګ ورځی ځورانده ی
فتح ځی دهندولورته ، دغه ګل رابیامی ځی ترده دور اندی »

(٢)

یوه شپه چه فتح خان له جنګه ستړی ، ستومانه راغی نو ویده شو ، سهار وختی دستړیا له املهنشوای را کښېښتلای ، نو رابیاناره پر کوی اووایی چه که ته جنګ ته نه ځې زه دایم سپر ېږم :

« سر دسره ، سره پلنګه لور که فتح خا نه
رابیا ګلمی ، ګلمی یوندهورته کړه سپره سوه ! »

(٣)

هغهوخت چه پښتانه ملګری او فتح خان جنګ ته آخرنی پلاځی ، نو مېرمن رابیا په څه تاثر او جذابیت د فتح خا ن آس (کرنګ) ته خطاب کو ی :

« د فتح کر نګه نا ل ، نا ل بـه د ی ز ر ین کړ م
که دی داوارفتح راوی ء زما امپل به دی دغاړی لونګین کړ م »

* * *

مېرمین رابیا

مېرمن رابیا یوه بله پښتنه توریالی مېرمن وه ، چه په ٩٠٠ هـ کال چه ناز کشاه د کشمیر دولایت حکمران و ، څو جنګی پښتنو افسرانو چه هیبت خان ، سیدخان اوفیرزخان نومپدل ددې ولایت د تسخیر اراده و کړه او تقریباً څو کاله جګړه وشوه ، دې مېرمنی د جنګ په میدان کښې خپله پښتنواله څر ګنده کړه اود مېړه پښتون په شان په میدان کښې جنګېده .

مېرمن رابیا د هیبت خان خوروه چه ددې مېرمنی دهمت په اثر ئې کامیابی په برخه شوه او خپل وروره ئې میدان و ګا ته . (١)

---

(١) مشاهیر النسوان - ٦١٦ مخ

مېرمن روښانه (١)

مېرمن روښانه د آريانا ديو با نفوذه رئيس لوروه چه د دې ر ئيس نوم «او گزيار تس» و ' او دا رئيس يا دبدخشان په غرو کښې اوياد هندو کش په لمه دره کښې اوسېده ' او په اصل کښې د باختر و .

خو په هر صورت د «روښانې» پلار يونانى مؤر خينو دباختر بللى دى . د ده حکومت داسکندر په عصر کښې و ' اوبيائې «پاروپاميزاد» هم ترلاس لاندى و .

«او گزيارتس» د هغه وطن پر ورې داحساساتو په اثر چه در لوده ئې ' خپلى لونى اوعيال ئى په يوه ټينگه اومستحکمه جنگى قلا کښې پرېښى وه ' او په خپله دوطن دخاورى دمدافعې دپاره وتلى و ' اودې ر زيارئې يوست .

څو هغه و ' چه دبا ختر باچا بسوس ماتې و گړه او بند ى شو يونانى قوې دقلا په ما تولو کښې د ې ر زحمت ويوست څو په آخر کښې پخپله تسليم شول . دقلا ترنيولو وروسته اسکندر پرمېرمن «روښانى» مين اوعاشق شو . دتولويونانى مؤر خينو په عقيده ' مېرمن «روښانه» دآسيا ترټولو ښکلې اوښا يسته وه .

اسکندر که څه هم «استاتير» ددريم دار يوش لور غوښتې وه . مگر مېرمن روښانې ئې داسى زړه ورى و ' چه د ئې هم په نکا ح کړه .

ځينى يو نانى ليکونکى دآسيا ددې ښکلى او زيبا نجلۍ دواده او عروسۍ صحنه دمر گرى هندو کش په درواودپنجشيراوا ندراب په لټو کښې تصويروى او ليکى چه ددې ځا ى دعرف اواصطلاح سره سم دشپې په ټولو غر و کښې او ر و نه بل وه .

اسکندر له بلخى «روښا نى» څخه يو زوى پيدا کړ ' مگر دا زوى د پلار ترمر گ وروسته پيداشو او دې ئې : «اسکندر انگيس باله»

---

(١) Roshana مأخذ :- پخو انى هند - او دا سکندرله خوا يرهنه تهاجم د «مکد ونالد» تأ ليف اود ښاغلى احمد على خان کهزاد تر جمه

او څنګه چې وړوکي و ، نو دا فیصله وشوه چې څو دی لو ئېزی دده پرځای بـه (پرد یکاس) دنا ئب السلطنه په حیث حکومت کوی دامپر من دژوند په پای کښې د خپل زوی سره د« کساندر »لاس تهورغله او دوی ئې په « امفیپولیس » کښې بندیان کړه او هلته په (۳۱۱ ق م) کښې زوی ارمور دواړه د« ګلوکیاس » محافظ له لاسه مړه شول .

دامپر من دافغانستان لمړی نامتو مپرمن ده چه داسکندر مایئه شوه .

او د دې ژوند تر (۳۱۱ ق م) پخوا دی .

*

مپرمن ریحانه

مپرمن ریحانه دحسین یاحسن خوارزمی لورده ، چه په غزنی کی او سپدله . او ابوریحان محمد بن احمد بیرونی خپل کتاب چه (التفهیم - لاوائل صناعته التنجیم) نومپزی ددی مپرمنی په خواهش لیکلی اودې ته ئې اهدا کړی دی .

څنګه چه دا کتاب په ٤٢٠ هجری قمری = ۳۹۸ یزد ګردی او ۱۳٤۱ اسکندری او = ۱۰۲۹ میلادی کښې لیکلی شوی دی (۱) ، نوددې مپرمنی دژوند تاریخ هم دغه پورته وخت تا کلای شو .

اوددې کتاب له اهدا څخه څرګندیزی چه مپرمن ریحانې له علم نجوم سره مینه درلوده ، اومعلو مپزی چه په دی علم کښې دمطالعې مپرمن هم وه .

ابوریحان خپل دا کتاب هم په عربی او هم په پارسی لیکلی دی مګر داپوره نه ده معلومه چه عربی لیکل ئې دمخه دی که پارسی ، خو په دواړو نسخو کی ئې خپل کتاب د دې مپرمنی په خواهش لیکلی دی . د عربی نسخی په مقدمه کښې لیکی :

« . . . و کذلك عملت هذه التذکره لطا ابها « ریحانه » بنت

(۱) ص (ج التفهیم)

الحسن علی طریق السوال والجواب علی وجه هو احسن والمتصور اسهل.. (١)»

په پارسی نسخه کښې ئی دا سی ددې مېرمنی نوم اخیستی دی .

«... واین یاد گار همچنین کردم مر ریحانه بنت الحسین الخوارزمی را که خواهندهٔ او بود، برطریق پرسیدن وجواب دادن بر روی که خوبتر بود وصورت بستن آن آسانتر .. (٢) »

اوداچه مونږ وویل چه دا مېرمن په غزنی کښې اوسېدله دلیل ئې دادی چه دا کتاب ابوریحان په غزنی کښې لیکلی دی، ځکه چه ددې کتاب د تالیف په وخت کښې یعنی په ٤٢٠ هجری قمری کال ابوریحان په غزنی کښې و، دیمین الدوله سلطان محمود غزنوی له خاصانو څخه باله کېده (٣٨٧-٤٢١) اویو کال وروسته یعنی په ٤٢١ هجری چه د محمود دژوند وروستنی کال و دې نباغلی د قانون مسعودی کتاب په هم دې نښار کښې د محمود دپاره شروع او ترڅو کلو وروسته ئې دامیر مسعود د محمود دزوی په نامه ختم کړ . (٣) نو څرګنده شوه چه دا مېرمن په غزنی کښې اوسېدله ددې نور حالات مونږ ته معلوم نشول .

(١) ص کط - التفهیم - لاوایل صناعة التنجیم

(٢) ص ٢ « « « «

(٣) ص - ح التفهیم .

ز

مېرمن زاچی پاولومی

مېرمن زاچی پاولومی هم دویدا دعصر (۲۰۰۰ - ۱۰۰۰ ق م) شاعره ده، چه د کلام نمونه ئې دریگ ویدپه لسم کتاب او ۱۵۹ سرود کښې ثبته شوې ده، چه اوس ئې دلته دیوه شعر ترجمه لیکو (۱).

* * *

۱ :- هلته لمر راختلی دی اودازما ښه بخت او نېکمرغی ده. چه را پورته شوې ده، زه پوهېزم چه مادیوه بریالی په څېر خپل مېړه دځان کړی دی.

۲ :- زه بیرغ اوافسریم. زه یوه غښتلې اووا کمنه حکم کوونکې یم. زه بریالی یم او زما خاوند به زما خواهش ومنی.

۳ :- زما زامن ددښمنانو وژونکی دی. لورمی فرمانر وایه ملکه ده، زه بریالی یم، زمادبری سرود زما پرخاوند حکومت کوی.

٤ :- ماهغه میگساری چه «اندرا» مونږته را کړه او هغومره لوړه اوځلېدونکې شوه تقدیم کړې ده، اې ارباب الانواعو! ماله هری هغی ښځی څخه چه زما سره رقابت کوی وساته.

٥ :- دنورو، برم او شکوه می داسی واخیستله لکه دیوې بې وزلی پېغلی ثروت اوپانګه.

اودامی دښمنی دور کوونکې اودیوه فاتح او کامل بریالی په حیث واخیستله.

٦ :- دبریالی فاتح په څېر می دارقیبان مغلوب کړه، داخپلی ښځی منی محکومی کړې، څو پرخپل پهلوان (مېړه) اونورو خلکو حکومت اوفرمانر وائی وکړم.»

(۱) داشعر ښاغلی پژواك ددې کتاب دپاره له انګلیسی څخه په پارسی ترجمه کړی دی.

زرغونه انا

زرغونه انا داعلیحضرت احمدشاه بابا موروه ، چه داپښتنه مېرمن ددې لویو هسکو غرو په لمنو کښې دپښتنوالی یوه ښه محرکه بلله کېږی .

زرغونې انا ددې پاکی خاوری دخدمت او لوړوالی دپاره یو داسی نابغه زوی لکه احمدشاه بابا دپښتانه وملت ته تقدیم کړ .

اولکه احمدشاه بابا چه د(بابا) لقب وړی دی هم دغه رنګه دې پښتنې مېرمنی د(انا) لقب ګټلی دی . اوتراوسه پوری ئې په پښتنی دنیا کښې نوم ژوندی دی .

زرغونې انا تل دخپل نابغه زوی سره په ښو ښو افکارو کښې مرسته کوله لکه په خپلو پاکو شیدو کښې چه ئې دپښتنوالی غذا ورکوله ، هم داشان ئې دپښتنوالی اوغیرت درس په خوله ورښووه .

په (١١٧٤ هـ) (١) چه احمدشاه بابا دپښتنو مشران اونورارکان راوبلل چه دقندهار دنوی ښار دجوړولو دپاره یوه سمه صحیحه نقشه طرحه کړی ، تر دې پرو نظر یو وروسته دانظریه خوښه شوه چه ښار باید اوه دېوالونه اوڅو خندقونه ولری چه دښمن له حملې څخه خوندی شی . دانظریه تولوومنله ، مګر په دې حال کښې «زرغونه انا» خبره شوه . اعلیحضرت احمد شاه بابا ئې کورته وغوښت ورته وې ویل : ـ

«زویه ! داخبره تینګه په غوږ کښې ونیسه ... چه پښتون هیڅکله دخاورو دېوالوته پناه نه وړی ، اونه په خندق ځان له غلیمه خوندی کوی .

پښتون دخدای په مرسته اوپه خپل وچ موته ځان اووطن ساتی .

که ته پښتون وې ـ اوپه حقیقت کښې دپښتانه دغیرته دکی وینی تر تاپوری رارسېدلی وې ، نو په خپل پښتنی همت او استقامت به ځان اوپښتون اووطن وساتې ...

---

(١) احمد شاه بابا ـ دښاغلی غبار اثر ٢٦ مخ .

د قندهار د کوهک
پسه کلی کښې
د زرغونې نامقبره

خوشي دپوالونه اوخندقونه مه جوړوه ! !

په دي دپوالو به يوازی زه اوته خوندی شو هغه پښتني ورينداركانی او پښتانه ورونه چه ددي خندقو اودپوالو ، وها خواته دی هغه نوله تاځخه سانته نه غواړی ؟ اوزمونږ پښتانه نه باله کپږی؟ ؟ اوهم ته بايد دومره انتظارو نباسی چه دښمن ترښاره پوری راورسپږی ! »

* * *

هغه و ، چه داحمدشاه بابا لهمغزو څخه هغه دباندينی مفکوره ووتله ، اويوه معمولی کلا ئي جوړه کړه .

همداشان نقل کوی چه :- په ١١٧٤ هـ کال داحمد شاه بابا دماتي زغ په درواغو (خلاف له واقع) قندهار ته راورسيد ، خلك داحمدشاه بابا لهماتی اودعسکر دپوښنا کپدو له آوازي وارخطا ښکارښده ، څوداخبره زرغونې اناته راورسيد ، دي مړمنی وويل :- «بری اوماتي دتقدير پهلاس دی ، مګر «احمد» ځان وژنی اوماتي نکوی ! »(١) زرغونه انا دالکوزوتبرته منسوبه وه (٢) که څه هم ددي انا دمړينی او وفات تاريخ پوره څرګند نه دی ، خو دونی ښکارپږی چه تر (١١٧٤ هـ دقندهار دښار دجوړولو تر تاريخ) وروسته اود احمدشاه بابا پهژوند وفات شوي ده . څنګه چه احمدشاه بابا په (١١٨٦ هـ) وفات شوی دی نوددي مړمنی وفات د(١١٧٤ هـ او ١١٨٦ هـ) کالوترمنځ واقع شوی دی . اود ارغنداو درود پرغاړه د کوهك په کلی کښي ئي مزار دی - (خدای دی وبخښی) .

نو که مونږ زرغونه انا ددي د ننګيالی زوی احمد شاه بابا د زېږېدو په وخت ١١٣٥ هـ (٣) د شلو کالو و بوډلو او مرګ ئي هم مثلاً

---

(١) احمد شاه بابا - دښاغلی غبار اثر ٢٧ مخ .

(٢) احمد شاه بابا - دښاغلی غبار اثر ٢٥ مخ .

(٣) احمد شاه بابا - دښاغلی غبار اثر ٢٧ مخ .

د ۱۱۸۰ هجری په حدود کښې و ګـڼو ، نو ویلای شو چه ددې پښتنی انا ژوند دشپیتو ، اویاو کـالو په منځ کښې و .

* * *

زرغونه ادې

زرغونه ادې په قام اخکزی ـ دقندهار د کدنی دیوه کـلی ده ـ چه تقریباً څلیرویشت کـاله دمخه ژوندی ـ اودوطن دا ستقلال ګټلو په کـال ئې دوطن دمدافعې په فدا کـاری ـ کښې ښه برخه اخیستې وه. دخپل پښتون مېړه زمری خان بابا سره ارخ په ارخ په سپین میدان کښې جنګېدله .

زمری خان باباچه مړ شو ، دې ادې دهغه په توره دهغه قاتل مړ کړ .

دامېرمن دتوریالی ـ پښتنې «تورپېکی» خوابنې اودریدی خان چه دتورپېکی ـ زلمی مېړه و ، مورده .

ددې پښتنی نارې :

(۱)

ریدی خان زلمی چه غوښته یوازی جنګ ته ولاړ شی دده مور او پلار دده له ددې قصده د پر پقهر شول اووې ویل چه :

« مونږ نوپښتا نه نه یوچه ته به ځی او مونږ به پاتېږو ؟ »

دده پلار زمری خان باباوویل :

«زویه زه پښتون یم ، پښتون!... زمالا دپخوا د پرارمان په زړه کښې دی ـ هو زه سپین زیری یم ، ستر ګی می ښه نه وینی ، پرملا کړوپ یم... لاس می ریږدی .. مګرایا سپین زیرتوب نوزما څخه پښتنوالی ور کولای شی؟ ـ آیازه نو پاته سم؟ یه ، یه... زویه! زه کورټ نه پاتېږم؟»

په دی وخت کښې زرغونه ادې دریدی خان بوډی ـ مور چه سپینی پیچی ئې پرمخ ښکار ېدلې راغله ، زوی ته ئې وویل :ـ «ریدیه زویه !... ستا خیال دی چه

یوازی تەزلمی یې، زورورپې - های، پەځان مغروره! تەبه دجنګ پر میدان توری وهې، زەبه پاتېږم ؟» راتپره شوه، ریدی ئې پر تندې مچ کې ءوې ویل: «زویه! ټول بەیوځای سره ځوچه ځانونه تروطن قربان کړو !» نودانارە ئې وکړه :

تو لـه بـه ځـو د جنګ مید ا ن تـه
نەچه پېغور دکوم غلیم راپاته شینه

(٢)

دجنګ پەمیدان کښې زرغونی ادې پەرېږ دولی آواز ناری کړه :

توری به نکړیء نوبه څه کړیء ؟
چه مو شیدې دپښتنې رو دلی دینه
حق به هیڅکله در پل نـکړ م
څو دغلیم پەوینو سرەنکړې لاسو نه

ددې مېرمنی نوره قصه دطلوع افغان د ١٤ کال په لمړی شماره کښې لوستلای شیء .

* * *

مېرمن زرغونه

«دپټی خزانې» لیکونکی دامیرمن داسی معرفی کوی اوشرح حال ئې په دې ډول لیکی : -

«زرغونه دملادین محمد کاکړلوروه، په پنجوائی(١) کښې اوسیده اوله پلارەئې تحصیل دعلو موو کا اودفصاحت احکام ئې زده کړل، اودفصحاواشعار ئې ولوستل. زرغونه پەحباله دسعدالله خان نورزی وه، چه توریالی زامن ئې درلود، اوټول دعلم اوهنر خاوندانو. ماتەهسی نقل و کازما پلار: چەزرغونې

(١) پنجوائی دقندهار دښار جنوب غربی خواته ٩ کروه لری واقع دی .

دشیخ مصلح الدین سعدی رحمة الله علیه دبوستان کتاب تول په پښتو شعر نظم کا. او نوم ئې و «بوستان د پښتو» چه دا کتاب ئې په سنه (٩٠٣) هجری قدسی پای ته ورساوه (١) او تول نکات عارفانه، او نصایح حکیمانه ئې په پښتو کړل.

علا وه پر دې زر غونی نو ر اشعا ر ا و غز لو نه هم وویل، او په ز مره دفصحا ئې شهرت و کا، هسی چه موزو نا نودروز گار به ئې اشعا ر لو ستل، او د پښتو په بو ستان بې سیر کا، او گلونه د پند او نصیحت به ئې تولول. هسی وائی: چه زر غونه کمال داره پښځه وه. خط ئې هم خو را ښه و، او کاتبانو به ئې له حسن خط، اقسام دخط زده کول.

زما پلار هسی وویل: چه په سنة (١١٠٢) هجری ماد زرغونی په خط «بوستان د پښتو» ولید، چه خپل اشعار ئې پخپل ښه خط هسی کښلی و، چه ملغلری ئې خط ته عاجزی کا. او دغه حکایت له هغه کتابه زما پلار رحمة الله علیه په یادو، چه زه ئې په خزانه کی کازم:

حکایت له بوستانه د پښتو

او ر ید لې می قصه د ه	چه له شا تو هم خو ز ه د ه
د ا ختر په و ر ځ سها ر	با یز ید چه و، رو ید ا ر
له حما مه را وتلی ء	په کوخه کی تپریدلی ء
ایرې خا وری چا له با مه	راچپه کړلې نا پا مه
مخ اوسر ئې سو ککړ	په ایرو په خا و روخړ
با یز ید په شکر کښو سو	د خپل مخ په پا کیدو سو
چه ز ه ور یم دبل اور	چه په او ر کی سم نسکو ر
له ا یر و به څه بد و ر مه	یا به لږ شکوه کومه

(١) ددې سنې څخه ددې مېرمنی ژوند هم په دغو حدودو کښې څرګند ېږی.

هو۔ پوهانو ځان ایري کړ له لوینی ئې ځان پري کړ
څو کې چه ځان ته ګوری تل خدای ته نسی کړای کتل
لو ئې تل په ګټتا ر نه د ه لو خبر ه په کا ر نه د ه

تواضع به دی سر لوړ کا
تکبر به د ی تل ځوړ کا

* * *

میر من زیبائی

میر من زیبائی دمولاناجامی(رح) معاصره وه اومولاناصاحب هم دامیرمن ستا یلی د ه . (۱)

ددې نورحالات معلوم نشول خوځر ګند ېزی چه ښه شا عره وه .

دا بیت ددې دی :

قا متت شیو ۀ رفتار چو بنیاد کند
سرورا بندۀ خودسازدو آزاد کند

* * *

میرمن زینبه

میر من ز ینبه د ملی پښتو ن قا ئد حا جی میر ویس خا ن لو ر ده ، چه ددې میرمنی شرح حال هم په (پټه خزانه) کښې لیکلی شوی د ی او له هغه ځا یه ئې عیناً را نقل کوو :-

«...بی بی زینبه دحاجی میرخان(۲) علیین مکان اوروه ،چه له کو چینوالی ئې په حرم کښې دعصمت او عفت لوست و کا ، پسله هغه چه قران کریم ئې و لوست، داحکام اسلامی اوفقه کتابونه ئې هم و لوستل ، اود فارسی مشهور

(۱) خیرات حسان ج ۲
(۲) پښتانه تراوسه حاجی میرویس خا ن حاجی میرخان بولی .

کتب ئې ضبط کړل ، استاد دعلوموئې ملا نور محمد غلجی دی، چه ډېر عمر ئې مخدر انو ته دحرم درس لوستلی دی ء

هسی روایت کا : چه بی بی زینبه ډېره هوښیاره اوپه مهماتو دامورو عالمه ښځه ده ، اودپادشاه جمجاه شاه حسین په امورو کی تدبیر کا اوهر کله په رای صایب مشکلات دا مو رو حل کا ، او پا دشادزمان ئې په خبرو عمل کا ، اونصائح ئې اوری .

دادرشهوار دصدف عصمت ښه ښه شعرونه هم وایی ، اودموزونانو اوشا عرانو قدر کا ، دواوین دشعراو، هر کله لولی ، اوله مضامین شیرین ئې کام شیرین کا ، عمر په عبادت دخدای او تلاوت دقرآن شریف تېروی، اومخدراتو دحرم دپادشاه ته درس او کښل او لوستل ورښیی، نقل کا: چه دشاه محمود جنت مکان دمرګ حال قندهارته راو رسید نود پاد شاه خاندان عالیشان ټول غمجن سول او مخدرات و دحرم ساندی او غلبلې کا .

بی بی زینبی چه واقعه دورور دوفات واوریدله، ډېره غمجنه سوه اوپه تلاوت دقرآن اولما نځه ئې تسکین ګ کاد نتلی زړه، اوهسی ویرنه (۱) ئې په ویر دخپل ورور مرحوم وویله، چه زه ئې دلته را نقل کوم ، خدای تعالی دی ټول خاندان عالیشان دپاد شاه ظل الله ژوندی ولری او خوښ .

مرثیه دشاه محمود جنت آشیان

بزغ سوچه ورور تېر له دنیا سو نا قندهار واړه په ژړا سو نا (۲)
زړه مې په ویر کی مبتلا سو نا چه شاه محمود له ما جلا سو نا

* * *

دارون جهان راته تورتم دی نا زړه دبېلتون په تیغ کړم دی نا(۳)
هو تك غمجن په دې ما تم دی نا د پا چهی تاج مو بر هم دی نا

---

(۱) ویرنه یعنی مرثیه (۲) نا- دوزن دیاره دی (۳) کړم- زخمی -قطع

چه شاه محمود تپر له دنیا سو نا قندهار و اړه په ژړا سو نا

* * *

ځوان‌و،مېړه‌دتوری جنگ و و نا ولاړ د کا م په نام ونننگ و و نا
دښمن له‌ده په وینو ر نگ وو نا پر میدان شیر و، یا پلنگ و و نا
افسوس چه مر گ‌دده په خوا سو نا
قندهـا ر و اړ ه پـه ژ ړ ا سو نـا

محمو د ه ! نه یو ازی خور ژاړی پرمر گ‌دی‌تو له کلی کورژاړی
خپلوان لاڅه، پاچادی‌ورورژاړی لښکر سپاه دی پلی سپور ژاړی
پښتو ن دی تو ل په و او یلا سو نا
قند هـا ر و ا ړ ه پـه ژ ړ ا سو نـا

اصفها ن پاته تاج نسکور عا لمه چه‌شاه‌محمود سونن په گورعالمه
دپښتون لمر سو، تیاره تورعالمه را ته دښمن به کـا پېغور عالمه
چه پـاچـا ولاړ پښتون گدا سو نا
قند ها ر و ا ړ ه پـه ژ ړ ا سو نـا

لښکرسوخپورپښتون ولاړدی اریان په‌خاوروځای کاشاه‌محمودعالشیان
پاته سو تخت و تا ج‌دتول ا صفها ن زړه‌ئې‌راسوړسو، کاخوښی‌دښمنان
وایی پښتون ا و س بې پا چا سو نا
قند ها ر و ا ړ ه پـه ژ ړ ا سو نـا

آسمانه‌بیا دی‌څه ستم کـاخر گند و شلا و ه تا چه دپښتو ن و، پیو ند
دښمن‌دی‌بیازموږ په‌ویر کـاخورسند چه‌شاه محمود دی کـا په قبر کی بند
پرکور مو و یر شو او غو غا سو نا
قند هـا ر و ا ړ ه په ژ ړ ا سو نـا

هوتکو ! ژاړی ء محمود شاه څه سونا ؟ پښتنو ! ستاسی لوی سپاه څه سونا ؟
له اصفها نه تر فراه څه سونا ؟ یا چاچه ؤ حشمت پناه څه سونا ؟

د پښتنو پرتم فنا سونا
قند هار واړه په ژړا سونا

محموده ! خوان وي ولی ولاړي له ما ؟ له تخت وتا جه ' ته پر څه سوي جلا ؟
اصفهان ولی پاته سونا له تا ؟ سردی راپورته کړه چه څه کړی اعدا ؟

د بنمن ولاړ بیا شاو خوا سونا
قند هار واړه په ژړا سونا

اورم نارې دغم چه کړینه فریاد پښتون په مرګ د شاه محمود سو برباد
زړونه چه تل به ؤ ښاد من سوه ناښاد دساند وزغ دی چه راوړینه ئي باد

ماتم زده پېرو برنا سونا
قند هار واړه په ژړا سونا

ور وره ! مقرد ی ستا مولا کی جنت در ' دی کی تاته پسله مرګه راحت
روح دی وښا دیه لویه ورځ د قیامت مخ دی وه رون د خدای په مهرو رحمت

د خالق رحم تل پرتا سونا
قندهار واړه په ژړا سونا »

* * *

ددې مرثیې سلاست اوروانی ـ او داچه پرملی وزن ویلی شوې ده اوملی روح پکښې ځلېږی د ستا یلواودډېر قدرورده ' هو ' ددې مهر منی (دورور په ماتم کښی) نور غمونه هېر دی فقط د پښتنو دبې وزله کېدو او داصفهان دپا ته کېدو او د پښتون ملت له برمه لوېدو غم ورسره دی اود گران ورور په مرګ سا ندی وایی ' د ددې دیاره چه د پښتنو مشرو . او پښتانه بې وا کمنه شول تنها ددې دپاره نه ژاړی چه یو ازی ددې ورور و ' نو ددی پښتنې مهر منی لو ړ روح ته سلام کوم ! ! !

س

مهرمن سار پراجنی

دامهرمن دویداد عصر (۲۰۰۰ ـ ۱۰۰۰ ق م) شاعره ده چه خوازه اشعار ئی ویل ـ ددې مهرمنی شعر دریگ ویدپه لسم کتاب او ۱۸۹ سرود کښې لیدلی شوی دی .دلته ئی یوه نمونه ترجمه کوو (۱) :

* * *

« ۱ :ـ دانرغو یی (لمر) تکیالی او چرگی راغلی او د مورمخ ته په شرق (سپیدو) کښې ولاړ دی او دخپل پلار اسمان خواته پرمخ لځی .

۲ :ـ کم وخت چه ساه باسی او ساه ننه باسی دځلیدونکو کروپه اوږدو کښې خوځیږی . دانرغویی د آسمان له یوه سره تربل سره ځلیږی .

۳ :ـ هغه مرغه (لمر) ته سرود ورکړی شوی دی چه گئیځ دسپیدو چاودلو په وخت پردهر شو مملکتو حکومت و کړی . »

* * *

مهر من سپینه (۲)

مهرمن سپینه یوه پښتنه شاعره ده ، چه دوزیر یار محمد خان الکوزی دحکومت په وخت دهرات په شاوخوا کښې اوسیدله داپښتنه دنور محمد خان الکوزی لور وه ، او هغه وخت چه ایرانیانو په (۱۲۵۵ ه) کال هرات کلابند کړ ، او دهرات پښتنو ددوی سره د مهرانی مقابله وکړه ، زمونږ پښتنه شاعره ژوندی وه دهرات محاصره خویو کال اواته میاشتې اوزده شوه مگر پښتنو ځان تسلیم نه کړ اوهرات ئی نه پرښود (۳)

---

(۱) داشعر هم شباغلی پژواك له انگلیسی څخه په پارسی ترجمه کړی دی .

(۲) دکابل دمجلی ۱۲۶ شماره ، دښاغلی حبیبی لیکنه .(۳) تمته البیان سید جمال الدین

په‌دې جګړو اوملی مېړانو کښې دپښتنو سردا ران شاه کامران سدوزی او وزیر یارمحمد خان الکوزی و، دوی دپښتنو الی ، ټینګار او راسخ عزم په‌دی مقاومت کښې څرګند کړ .

زمونږ پښتنه شاعره «سپینه»هم په دی‌ملی جګړو اودآزادی‌ سا تنی په محاربانو کښې ژوندی وه اوډېر خوازه اشعار ئې په ملی لهجه دپښتنو دتوری او ننګیالی توب په ستاینه کښې و یلی دی ، چه د پښتنو ښځو حماسی افکار ښه‌ځنی څرګندېږی .

سپینه ددغی محاصرې اوجنګ په‌تولو واقعاتو خبره ده او دابنکا رېږی چه‌دا اوخپلوان ددغی ننګی په لار کښې‌ولاړه وه اوتوله وقائع ئی په ستر ګو لیدلی دی .

که مونږ تخمین‌او اټکل وکړو ، چه‌په د غه و خت کښې دا پخه ښځه وه ځکه چه افکار او احساسات ئې هم پاخه‌دی نوبه په‌دغه محاصره کښې‌ددې عمر له ۳۵ تر ٤۰ پو ری تخمین کړ و ا و د تو لد کا ل به ئی هم پسله (۱۲۰۰ه)وبولو .

د سپینی دا شعارو له مضا مینو داهم ر ایستل کېږی چه ددې کو رنۍ دوز یر یار محمدخان له کورنۍ سره خپلوی یانژدې تماس درلود ،ځکه‌چه دمحاصری اوجګړی‌ډېر خصوصی وقائع ئې‌راوړی او نظم کړی دی !

دسپینی پښتنی حماسیات :

زمـو نږ ملـی شاعـرې په‌خپله ملـی ژبه مو نږ ته یـوه مفصله قـصه پـه څو سوه بیته کـښې پرې پـښې ده چـه د هـرا ت د مـحا صـرې مـنظوم تاریخ ګڼه‌شی ، په‌دې قصه کښې پښتنه شاعره ، دخپلو ورونو مېړانی ستایی اوپه خورا ساده او سپېڅلو الفاظو ددې جګړی‌مختلف مناظر تصویر کوی!

دقصې په ابتدا کښې په يو څو بيته د کامران اووزير يار محمد خان ستاينه کوی وروسته بيا په قصه شروع کوی .

دسپينی پښتنی شاعرې حماسی احساسات د هر پياوړی اوننګيالی دی ، شعر او کلمات ئې له تأثير اوجذابيته ډک دی ، وينائې د حماست يوه توته ده ، او د پښتنوالی اومېړانی نمايندګی کولای شی . دسپينی شاعرې نور څه اشعار مونږته نه دی رارسيدلی ، فقط ددغی محاصرې منظوم تاريخ چه د مثنوی په ډول دی ، ځنی برخی را څخه شته چه هغه هم بشپړی نه دی ، ددې مثنوی په سرکښې پښتنه شاعره په حمد اونعت ابتدا کوی وروسته نودشاهزاده کامران اووزير يار محمد خان ستاينه شروع کوی ، ددې له مضامينو داسی ښکاری چه سپينه يوه عالمه اوفاضله په تاريخ اودپښتنو په حال خبره ښځه ده ، که څه هم اشعارئې ټول تاريخی دی وقائع اوحوادث بيانوی ، مګر د حماست اوجذابيته هم ډک دی ځکه چه دا اشعار خورا سليس او روان او خو ازه دی ، نودلته ټولی هغه برخی چه لاس ته راغلی دی ليکو :

<u>مېرمن سپينه په خپله قصه داسی پيل کوی :</u>

لمړی څښتن د ټول عالم ستا يمه
بيا محمد رسو ل اکرم ستا يمه

درود په واړو اصحا بانو دی وی
د پاک نبی پر ښو يارانو دی وی

دی و ، استا ځی د کونينو بادار
په دوه جهانو د نبيانو سردار

د ګنهګارو ، شفاعت کوينه
رحم پر خپل خسته امت کوينه

بیا منقبت د ا بو بکر وا یم — صدیق ئې نوم په صداقت ئې ستایم
دی لمړی یارو دخاوند د رسول — په لوی دربار په دوه جهانه مقبول
په یاروغار دپاك نبی دی مشهور — توره تیاره ئې په انوار وده پور
دوهم فاروق عمرو خدای ته نژدې — د عدالت ئې پر جهان نښداري
شو رودنیل ئې له پرتمه کښته — مړه کافران دده له ډیر هیبته
د عدالت دره ئې هسی کا ری — چه ریږدیء به ځنی زړه دمزری
دریم عثما ن ذی النورین و نمر — هم وجامع دپاك قرآن دا کبر
حلم و حیا کښې و بادار د امت — ابن عفان مو شو سردار د امت
څلورم یار و شیر دخدای و کرار — علی حیدر و تل په لاس ذوالفقار
دخیبر ورئې ذو الفقار ته و، مات — په بریښ دتوری ئې تل ورك ظلمات

* * *

بیانو کومه په خوښی په عزت — د پاك نبی د اصحا بانو صفت
چه دوی وه ستوری پر اسمان ځلیده — تل وه خوشحاله پاك رسول ئې لیده

دخدای رحمت دی وی پر دوی تر ابد
خالق دی عفو کی په دوی ، ځمو ز بد

د باچا او وزیر په ستاینه کښې :

اوس نو شروع کړم دباچا په صفت — زموز شاهزاده دی ننګیالی په غیرت
دی دی دیوه د سدو زو د تبر — په څربنو کښې ننډی دی لکه لمر
داحمد شاه غازی پښتون له کوره — ننډی کامران شهزاده کښلې توره
غلیم له ده نه پرحذر دی جانه — دده له توری نه ابتر دی جانه
په ننګیا لیو تور یا لی شهزاده — په غیر تمنو بر یا لی شهزاده
د درانو ناموس په ده دی خوندی — د پښتنو متی په د ه د ی قو ی

په‌درانه‌سیوری‌ئې هرات‌شو آرام — له دښمنانو ئې وکښو انتقام
دی په رښتیا نعم‌الخلف د محمود — خالق‌دې کاندې په‌دارینو مسعود
د پښتنو پرننګه کلك دی ولاړ — ټول غلیمان دده له توری لټار
بل‌ئې وزیر یارمحمدخان توریالی — په سپین‌میدان ځنی‌ر پېښی زمری
دی په تدبیر آصف نظام دهرات — ښه‌ئې سنبال کړ انتظام دهرات
دی ننګالی د الکو د تبر — دغنی‌خان دستر گو تور دزړه سر
چه سپینه توره‌ئې له تیکی بدر — د شهزاده دی مړنی برادر
پښتون پرده‌راټول‌دجنګ‌پرمیدان — ستئې په توره کړه غلیم دښمنان
خالقه دا د پښتنو تور یالی — وی دهرات پرسیمه‌تل‌دی ژوندی
څوچه‌شینکی آسمان‌ولاړ پرمځکه — څوچه‌سپوزمی‌راونمرخاته‌لوېدەکه
دپښتنو سر دی په دوی وی بلند — هم‌په‌غیرت‌وټول‌جهان ته‌څرګند
وروسته‌ترمدح‌دکامران‌شاهزاده — واوره چه کاندم دجنګو ښه‌قصه

له «سپینی» خواری څخه به نه وی آثار
دا به وی خاوری پاتی شی په یاد ګار

په هرات او قندهار کښې د سدوزو باچهی :

راسه چه‌تاته‌حکایت کو مه — د سدوزو دسلطنت کو مه
پخوا تردې وه دهرات باچهان — دسدوزو ذوالفقارزمان خان
دوی سردارانو دپښتنو دهرات — غلیم ئې تل‌له تېرې توری ومات
د پښتنو توری به تل ځلېدې — ددښمن ستر گې‌له برېښناوې‌رندې
دوی وه مېړونه پښتانه تور یالی — پرننګه تینګ‌وه‌دوطن ننګیالی
په جنګ کښې‌هر یولکه‌غټ‌شین‌مزری — دسدوزو هرزلمی بریالی
چه به ئې توره له نیامه وکښه — غځ او کینه‌بې‌له ایامه وکښه
دهرات خوا وه دغلیمه خالی — دلته خپره‌وه هوسائی خوشحالی

تول پښتانه په اتفاق وه ولاړ کاردد ښمن ددوی له لاسه ویجاړ
چه به پښتون زلمی په خوب کښې د ښمن ولیدله ویری به ئی رېږد په بدن

* * *

متأسفانه تردې ور وسته اشعار له دغی قصې څخه لاس ته را نغله . له دغو څخه هم ویونکې ددې پښتنې افکار اود طبع روانی او نور علمی اوتاریخی معلومات، ښه څرګند ولای شی .

* * *

دغه لاندی بیتونه هم له دغې قصې څخه لاس ته راغلی دی چه د محاصرې دیوه جنګ حال ښئی : ـ

غلیم پر ښهر بیا هجوم راوړی مخ تې ولاړ دی یار محمد پیاوړی
زموږ پښتانه لکه مزری جنګېږی ولې دوینو پسر حصار بهېږی
هرات په وینود پښتون شو ګلرنګ پښتون زخمی دی دغلیم په خدنګ
یار محمد وایی پښتنو زما زمرو تو له راوو زیء وسله دار له کوروو
پرغلیم وکړیء یوهجوم ګړندیء هرات له لاسه په ژوندون مه باسیء
داخوږ موږ کوردی زموږ وطن دینه داز موږ تاتوبی زموږ مأمن دینه
کفن په غاړه داوطن وساتیء زموږ دپلرو ښکلی مدفن وساتیء
دلته پراته دی ننګیالی نیکه ګان دلته بهېږی وینی تل دافغان
هرات زموږ دی زموږ کور دینه زموږ نغری دی زموږ ګور دینه
دښمن را غلی تر دېواله دکور ولاړ سیء دادی دپښتون لوی پېغور
کامران ناړې کړې چه پښتونه قامه توره را باسه مره پر ننګه نامه
مه بایله ځان اوسه ولاړ پرحصار دپښتانه پرننګه ځان کړه ایثار
بویه غیرت چه مو ناموس خوندی سی نوم دپښتون نوم داولس خوندی سی
زلمو چه وا رو بدې نارې غلبلې له یار محمده او کامرانه دلې
له کلاوواته زمریانو په څېر پر دښمنانو ئې جوړ کړ لټېر

سرونې غوښ کړه دد ښمن په توره مو ر ه ئې کړه پر غليما نو بو ر ه

دښمن شومات راغیء دوران د کا مران

د يـا ر محمد د بـری ستو ر ی ځـلا ن

که ښاغلی ویونـکی داوروستنی دمحاصرې اشعار په دقت ولولی نوددې پښتنې مېرمنی تاوده احساسات او پښتنی جذبات به ښه ورڅرګند شی .

په څه آمرانه اوله غروره ډ که لهجه پښتنوزلميونه دپښتنوالی درس ور کوی .

اوله هم دې جذباتو څخه معلومېږی چه دښځی تأثرات او احساسات څومره لطيف اوله حرارته ډک دی اودښځی له خوا داتعليم ترڅه اندازې مؤثر واقع کـېږې. اودغه نمونه دنر اوښځی دتأثراتو په منځ کښې ښه قضاوت کولای شی.

* * *

مېرمن سلطانه

مېرمن سلطانه دميرزا سنجر لوروه اودسلطان بايقرا چه په ۸۵۰ هـ کښې مړه دی. ګرانه محترمه ماندينه وه .

لوی خدای دې مېرمنی ته هر ډول صوری ښـکلیتوب اوعلمی حسن ور کړی و مګر ډېره تندخويه اوعصبانی مېرمن وه، نسبی شرافت او دباچهی دبدبه ئی په نظر نه ورتله، ځو په آخر کښې ئې پرباچاهم دونی تندخوئی کوله چه باچا مجبوره شو طلاقه ئې کړه .

په هم دې غم کښې دامېرمن مړه شوه، دې مېرمنی دعامو خلکو ديارهدهرات په ښار کښې يوه لويه مدرسه جوړه کړه .

کم وخت چه په ۸۹۳ هـ کښې (۱) وفات شوه په هم دې مدرسه کښې ښخه شوه اوهلته ئې مزار دی . (۲)

---

(۱) په مشاهير النسوان کښې داسنه ښه نه معلومېږی چه ۸۶۳ دهاو که ۸۹۳ ؟

(۲) مشاهير النسوان ۳٤٥ مخ .

مېرمن سلیمه

دامېرمن دمیرز انورالدین محمد لوروه اومورئي ګلرخ بیګم نومېده، چه په (۹۶۱ھ) کال زېږلي ده (۱) اوبیرامخان خان خانان په نکاح کړه، چه مېرمنۍ ئي څه وخت دقندهار په خوا کښې حاکم و (۲) دامېرمن په خپل وخت کښې ښه شاعره وه، خوږ شعرئي وایه، څلور واره دحرمینو په زیارت مشرفه شوې ده چه په آخر کښې په (۱۰۲۱ھ) کال دشپېتو کالو په عمر وفات شوه (۳) دي مېرمنې دېر اشعار ویلی دی مګر مونږ ته ئي دغه یومطلع پلاس راغلی دی.

کاکلت را گر زمستی رشتهٔ جان گفته ام
مست بودم زین سبب حرف پریشان گفته ام

* * *

مېرمن سنګی

دا مېرمن چه په بی بی سیدی هم مشهوره وه، مریمه نومېده، چه دخواجه سنګی محمد مشهور په باباسنګی لور ده، دپلار له خوا خواجه زاده اودمور له خوائي نسب د کهنر سیدانوته یعنی میان عباس نیکه ته رسېږی.

دامېرمن په ۱۲۵۳ھ د کابل په جواهر کوشه کښې زېږېدلي ده؛ خپل ابتدائی تحصیلات ئي له اخوند غلام رسول څخه لوستلی دی اوبیائي له خپلې مور څخه استفاده کړي ده، پخپله ئي هم زیار ایستلی دی، څه مده وروسته ئي له ادبیاتو سره مینه پیدا کړه، اود خپل طبیعی استعداد له رویه ئي په دي لار کښې ښه قدمونه واخیستل، پخپله ئي هم اشعار ویل، وایی: چه خورا ښه حاضر

(۱) مشاهیر النسوان - ۳۴۶ مخ. (۲) تذکرة الخواتین.
(۳) مشاهیر النسوان.

ځوابه وه ، اکثره اشعار به ئې په ارتجالی صورت او فی البدیهه ویل ، په فقه کښې ئې هم تریوې اندازې پوری درس لوستلی و .

دی ډیر اشعار ویلی دی ، مګر متاسفانه چه تیت اوپاشلی شوی دی ، پوره مرتب دیوان ئې نشته ، لکه وایی چه ددې مېرمنی داشعارو لویه برخه مثنویات دی ، پهرصورت دامېرمن دوطن یوه شاعره معرفی کولای شو ، چه په ۱۳۱٦ ه کال دصفری په میاشت وفات شوه ـ اوس به ددې مېرمنی څوا شعار دنمونې په ډول څه چه لاس ته راغلی دی راوړو :

گر نکیر و منکر آید پرسد احوال مرا
یا محمد گویم و گویان شود زبان من
دربغل گیرد مرا قبر ای خدایا دستگیر
مثل مادر آن زمین مشفق شود برجان من
روزمحشر چون سر ازخاك لحد بالا کنم
یا محمد گویم و روشن شود چشمان من
نامهٔ اعمال من را گر بدست چپ دهند
سمع پیغمبر شنود آن ناله وافغان من
چندمصرع وصف تو گفت دخترت ای مجتبی
این کنیزك را ببخش ای سرورسلطان من
(شور) مسکین را زخاك پای کلبانت شمار
یا محمد گویم و روشن شود ایمان من

ماچه اروېدلی دی دې مېرمنی په هجو کښې پوره لاس درلود او په دې موضوع کښې ئې رازراز اشعار ویلی دی ، چه مائې نمونه پیدا نه کړه ، دې مېرمنی خپل تخلص لمړی (شور) او بیا ئې (بیخود) او و رو سته ئې (نسیفی) تا کلی و .

مېرمن سوریا

دامېرمن هم دویدی عصر شاعره ده چه اشعارئې دریګ‌وید په‌لسم کتاب اوپنځه‌اتیایم سرود کښې راغلی‌دی . (۱) دلته‌ئې دنمونې په‌توګه ذیوه‌سرود ترجمه راوړو (۲) :

لمړی‌بند : ـ «رښتیا او حقیقت هغه اساس دی چه مځکه باندی ولاړه ده سوریا آسمانو نه ټینګ در ولی او ساتی ئې . آدیتیا ګان د محکم قانون په‌واسطه ټینګ دی اوسوما په آسمان (جنت) کښې خپل‌مقام‌ساتی .

دوهم‌بند : ـ Adityas دسوما په واسطه غښتلی اوقوی دی . دمځکی قوت دسوما‌دی . په‌دې ترتیب نوسوما ددې ټولو اجراموپه‌مرکز کښې ځای‌لری .»

داسرود چه‌دوه اول بندئې دنمونې په توګه تقدیم شوه ، دریګویدا دخورا اوزدوسرودو څخه‌دی. مضمون‌ئې‌دواده جشن په‌عمومی‌صورت اومخصوصاً دلمر دلور «سوریا» ازدواج دی‌چه‌ریګویدا دواده‌په حیث هغه یادوی. داسرود ۴۷ بنده‌دی، له ۴۲ بند څخه‌تر ۴۷ بنده پوری یوه دعاده چه دهغه څخه دمړوښې او کورنی سعادت‌مفهوم دریګوید ادشاعرانوپه نزد کښې ښه ځنی څرګندیږي اوځکه‌چه ډېر خوزاودلچسپ دی دلته‌ئې دنمونې‌په‌ډول‌وړاندی کوو :

۴۲ بند : ـ ستاسی بېلتون دی‌نه‌وی(مېړه اومېرمنی ته خطاب) دلته په یوه‌زره ژوندسره کوئ . خدای‌دی وکړی‌چه دبشری‌عمرورو ستنې مرتبې‌ته ورسېږئ . خدای‌دی‌وکړی چه‌له‌خپلوزامنواو نمسوسره پخپله کورا وتاتوبی‌کښې په‌لوبو اوسپورټ سره ژوندون وکړئ .

۴۳ بند : ـ خدای‌دی‌وکړی‌چه «پراجاپتی» مونږته‌اولادرا کړی، خدای‌دی

---

(۱) دآریانا مجله ـ شپږمه ګڼه .

(۲) داسرودهم ښاغلی پژواك له‌انګلیسی‌څخه‌په‌پارسی ددې کتاب‌دپاره‌ترجمه کړی دی .

و کړی ترهغوچه دزوړوالی وخت راځی «ار یامن» موږ و ګانی، ښکلی اوزیبا مووساتی .

٤ بند : ـ خدای دی پردوو پښو لرونکو اوڅارو یو برکت کښېږدی . خدای دی و کړی چه هیڅ بدی او بدغوښتل ستادمېړه کورته رانشی .

٥ بند : ـ ای غنی اوسخی «اندرایه» ! داناوې په ښوزامنواو ښه ثروت ښاده کړه، دې ته لس زامن ور کړه اومېړه ئې د کوربوولسم مېړه کړه .

٦ بند: ـ خدای دی و کړی چه دمېړه پرپلار اودمېړه پرموردی حکمفرمائی ستاپه نصیب شی اودمېړه پرخوراو دمېړه پر وروڼو بری ومو مې .

٧ بند :ـ خدای دی و کړی چه ټولا رباب انواع، ټولی اوبه (رب النوع) زموږ په زړو کښې یوځای شی.

خدای دې و کړی چه «ماتریسوان دهاتر» او «دشتری» موږ سره متصل اوبو ځای وساتی ـ اوسره پیوند مو کړی .

څ څ

مېرمن شاپانو

مېرمن‌شا پانو ديوبدای سړی لوروه، چه دقندهار په بکوا کښې اوسېدله(۱) اوخپل دا کازوی علی‌بېګ نامی‌ته په نکاح ور کړه شوې وه.

دوي‌خورا مينه‌اومحبت سره‌درلود. علی‌بېګ تجارت کاوه.

ددې‌مېرمنی‌افسانه هم په پښتنو کښې شهرت لری، دژوندتاريخ ئې‌معلوم‌نشو اوس ددې څوناړي راوړو!

(۱)

علی‌بېګ په تجارت هندوستان ته‌تللی و، دسفر مده‌ئې اوزده شوه، ددوی دکلی مشرخان چه معصوم خان‌نومېد، واروبده چه‌علی بېګ مړشوی دی نو غوښته ئې چه دمېرمن شاپانو سره نکاح وترې، دامېرمن و خپل مين‌ته داسی حال ليږي:

«علی‌بېګ لره‌به‌واستوم حالونه..... (۲)

که په‌دې ميا‌شت کښې رانغلې، معصوم خان دی په‌باغ کې‌ائستل مالونه»

(۲)

څوورځی وروسته ئې‌خيال‌و، چه پخپل مين پسی هند ته و لاړه شی، خدای و مين‌ئې‌راغې‌ء اودې‌داسی‌نارې پرو کړه:

ښه دی چه راغلې مسافره له‌د کنه

ماپر څپلی‌ږ پتری وهل در پسی تلمه

---

(۱) ملی‌هنداره - قلمی - دوهم توک. دښاغلی نوری ليکنه

(۲) هم دانيم مصرع بيرته تکرارږی

میرمن شاه بیگم

دامیرمن د سلطان محمد خان بدخشی لور او دیونس خان چغتا ئی کونده وه، چه په ۸۹۲ هـ کال کونده شوه او دمیړه ترمرګ وروسته ددې دمیړه پرځای ددې زوی محمود په حکمرانی سره انتخاب شو (۱) په سیاسی امورو کښې ئې دخپل زوی سره ښې مرستی و کولې اوزوی ئې هم ترداسی اندازی احترام کاوه چه بی له ددې داجازی پرآس نه سپریده .

د دی میرمنی دښمنانو داوضعیت نه شوزغملای اوددوی دا نفاق تحمل ورته سخت ښکاریده . نووې وغوښتل چه دوی په نفاق سره اخته کړی - دوی داتجویز و کړچه دامیرمن «شاهی بیگ خان» ته واستوی اود کم وطن خواهش ځنی و کړی - مګر دامیرمن ددوی په چل اومنافقت پوه شوله، دمخه ترهغه چه زوی ئې پربد ګمانه شی سمر قند ته ولاړه اوهلته پخپلی پلر ګنیږ کښې اوسپدله - کم وخت چه «شاه بیگ خان» دامیرمن دسمر قند د هستو ګی څخه منع کړه نودخراسان له خوا کابل ته راغله اوبابر باچا په ډیر عزت خپل دربار ته وبلله اودې ته ئې ښه مقام ورکړ .

په ۹۱۳ هـ کال ئې دبدخشان د حکومت دعوه وکړه اووې ویل د دریو سوو (۳۰۰) کالوراهیسی داهواد (مملکت) زمادا سلافوتر حکمرانی لاندی وه، هغه وه، چه دخپل تدبیر اوقوی منطق په زور ئې داهوادله بابره څخه واخیست اودخپل نمسې سره هغې خواته وخوځیده اودهغه ځای حکمرانی ئې لاس ته راوستله - خویو کال وروسته د کاشغر دغلو پلاس کښیوتله او هلته د کاشغر په بند یخانه کښې مړه شوه .

---

(۱) مشاهیر النسوان .

مېرمن شاترینه

مېرمن شاترینه دترینانو دیومشر لور اوپه‌قوم ترینه‌وه،ددې مېرمنی خوزه افسانه هم په‌پښتنو کښې‌د‌پرشهرت‌لری ، ددې له‌نارو اواشعارو څخه ښکار ېږی چه‌د‌پره مرنی اوتوریالی پښتنه وه .

دا مېرمن دخیشکیار (۱) نامی محبوبه وه . خیشکیاردقند هار د ارغنداو د خیشکو د کلـی‌و . (۲)

خیشکیار هم دیو غټ خان اومشر زوی و،چه د پلار تر مرګ وروسته دورونو له‌ېې اتفاقی اوبد وضعیت څخه تنګ شوی له وطنه جلاشو .

خیشکیار آدم خان هم لیدلی او دورور ګلوی لاس‌ئې ورکړی دی څنګه چه‌د‌آدم خان دژوند تاریخ‌مو ترزرم هجری کال دمخه‌تخمین کړی‌و ، نودمېرمن شاترینی ژوند هم‌د(۹۵۰ه) په شاوخوا کښې ټاکلای شو .

خیشکیار چه له خپله وطنه ولاړ اول دآدم خان سره اشنا شو ورسته دمېرمن شاترینی درک‌ئې وموند په‌هغې‌پسی ولاړ، څوپه آخر کښې دشاترینی په‌وصل کامیاب‌اوهغه‌ئې‌له ځانه سره راوستله .

اوس ددې مېرمنی دشعرنمونې راوړو :

(۱)

کم وخت چه‌خیشکیار شاترینه پرآس ترشا سپره کړه اودشاترینی دپلار له خوا لښکر پسی راووت ، نو د خیشکیار زړه دډېر محبت له فشاره رېږدېد دشاترینی‌خیال‌شو ، چه ددەزړه له‌ېېری رېږدی ، دپښتنوالی وینی‌ئې په‌جوش راغلې اودپېغور په‌ټوګه‌ئې ورته وویل :

---

(۱) وایی چه اصلی نوم ئې «یار» و ، دانوم آدم‌خان پریښی دی ، آدم خان چه‌پوښتنه ځنی وکړه چه ستا ځای څه نومی ؟ ده ویل خیشکی ، نو هغه وویل چه ستا نوم ئې خیشکیار (ملی هنداره - ۲ ټوک) .

(۲)ملی‌هنداره - دوهم ټوک - قلمی

خیشکیاره ! ته زما په غېږ کښې ږېږدې که لښکر د کرم راغیء
خیشکیاره ! ته به ټـرپلې ما به پـرېږدې ارمان دی ، ارمان دی

ددې پښتون مین خیشکیار په څه غرور دمینی په جامه کښې نغښتی جواب ور کړ :

شاتریني ! زه چه ستا په غېږ کښې ږېږدم که لښکر د کرم راغیء
شاتریني ! سر به ستا په پښو کښېږدم (۱) ارمان دی ، ارمان دی

(۲)

د کرم خان لښکر راورسید ، نور لښکرمات شو یوازی کرم خان او خیشکیار په میدان کښې پاته شوه ، په جنـگ اخته دی ، کرم خان خپل واری وکړ خطا شو اوس د خیشکیار واری دی پرخپلی محبوبی ناره کوی :

شـاتریني ! د پـلیـا ر تـر پلو گـو ر ه د کرم واری دی ټېرشو
شـاتریني ! د خپل یـار واری ته گـوره ارمان دی ، ارمان دی

چه واری ئې وکړ ، د کرم خـان سرئې غوڅ او دوښځې ئې پرآس پاته شوې نو پښتنه مېرمن د خپل مین له توری څخه خوشاله او پر کرم خان ناره کوی :

کرمخانه ! ته شپـا نه غـپلی د ی پو و ی دوښځې دی اوس کرنـگ
کرمخانه ! اوس کرنـگ پر کوپـې یووړې ارمان دی ، ارمان دی

* * *

داملی ناری ملی لحن هم لری ، گویا د پښتو د موسیقی یو ښکلی نوټ هم باله کښېږی .

تر دې جنـگ ور وسته شاتر ینه د خپل محبوب خیشکیار سره د آدم خان کره لځی اوهلته خپل ژوند په ډېره خوښی تېروی .

---

(۱) دا وروسته نیمه ناره څوک داسی وایی : شاتریني سر به ستا په وړاندی کښېږدم .
یاداسی :- شاتریني سپین گردن به پر تا کښېږدم .

میرمن شامایله

ددې میرمنې اصلي ځای معلوم نشو ، خو ددې په نامه یوه افسانه په پښتنو کښې د پرشهرت لري چه دامیرمن د «خونکار» نامې باچا لوروه اوتر ډیرو زحمتو اوتکالیفو ګاللو او مهمو شرطو ادا کولو روسته دجلات نامې زلمي ماندینه شوې ده . ددې میرمنې مفصله قصه په ملي هنداره کښې خپره اوطبع شوې ده . (۱)

اوس ددې دوې ملي ناري راوړو چه پرملي آهنګ ویلی کیږي !

(۱)

کم وخت چه ئې دده ګوتمې په ګوته کړه ناري ئې کړه :

« که کرار دی نن زما زړه نا کرار دی . . .

تاسی کښینیء سهیلیو دایلاس ګوتمې زما ده که دیار ده !»

(۲)

هغه وخت چه له خوبه راپورته شوه مخ ئې لوند و ، نو وې ویل :

« که کرار دی نن زما شوی کرار دی . . .

تاسی کښینیء سهیلیو چه پرمخ می دخونې زمری پرهار دی !»

* * *

میرمن شمسو

میرمن شمسو د ګرندی لور په خټه تره کي په مقر کښې د کمکې ناوې اوسېد نکی وه .

دا میرمن ښه شاعره وه . اوپه شعرو یاو کښې دخپل ټبر مشهوره ښځه ده اشعار ئې فی البدیهه ویله ، مګر ددې میرمنې ډیره اشعار هجویه اوهزاحیه دی یعنی تو کی تا کی .

---

(۱) ملي هنداره - لمړی ټوک ۱۴۹ مخ .

دامېرمن ددیر شو کلو په عمر مړه شوې ده ، اوددی خوند ور اشعار د خلقو په خولو کښې پاشلی پاته شویدی . اودهغه ځای اوسېدونکی ئی په خو راخو ند اوشوق وایی .

دې مېر منی دځینو نارینه و ، شا عرانو سره هم مشا عري کړی دی مګر متأسفانه داتول شفاهی یعنی په خوله وه ، په کم ځای کښې لیکل شوی نه دی نو ځکه ئی ماته اشعار پلاس را نغله .

* * *

مېرمن شیرینو

مېرمن شیرینو دقندهار په سیمو کښې اوسېده ـ (۱) ددې پلار د خپل وخت لوی خان و .

دامېرمن «دمؤمن خان» نومی چه ددې دا کـا زوی و ، نجل اومعشوقه وه چه خپل پلار په کوچنیوالی مؤمن خان ته ور کړې وه مګر هغه وخت چه ددوی پلرونه مړه شوه دشیرینو ورور «زبردست خان» داولس مشر شو اوخپله خور ئی له مؤمن خانه ځخه و ګرځوله .

مؤمن خان نه غوښته چه په اولس کښې بدی جوړه شی نود مینی په اور سوی له وطنه جلا شو . اوبل هوادته ولاړ .

دمؤمن خان پردیسی ډېره اوزده شوه ، دوولس کاله له کوره ورك وو ، اودبیلتون شپې ورځې ئی په سختی تیرولې .

مؤمن خان مېړه پښتون و ، هرځای ته چه به ئی ، هوري به ئی ډېره مړانه ښکاره کوله ، اوبی وزلو خلقو ته به ئې نجات ور کاوه !

تردوولس کالهٔ وروسته مؤمن خان دشیرینو مینی خپل کورته راووست خودقضا کارونه دی ، دی دشپې راغې .

---

(۱) پښتانه شعرا (۱۲۷) مخ لیری ـ تورك

د کور خلقو ونه‌ښیژاند ،اودپردی سړی خیال‌ئی پر و کړ ، زبردست خان چه‌دشیرینو وروړو ؛ دا ګلالی اوددوواسو کسالو پردیس ځوان ئی په نافهمی کښې وواژه ،اوشیرینو هم هغسی دمحبت اومینی په‌دنیا کښې نا کامه‌پاته شوه اوزبر دست خان چه مؤمن خا ن و ښیژ ا ند ، خپل ځا ن ئی هم مړه کړ .

دشیرینو دژوند وخت پوره‌نه‌دی معلوم، خودد ې دقصی په یوه ځای کښې داسی راغلی‌دی چه‌دمغولو په‌عصر کښې وه. نوځکه چه دمغو لو د وره ترزړم هجری کال دمخه او وړو سته هم وه نو دلسم قرن په‌پای کښې ددی‌ژوند تخمین کولای شو .

مهرمن شیرینو دخپل پردیس مین په یاد کښې دهری سوی‌نا ری اوغلبلې کړی دی چه خورا خوږې او سو ځو نکی دی د لته ئې دنمو نې په‌تو ګه څو ناړې چه دښپټو دلندیو پروز ن‌دې له دې قصې را نقل کوو ؛

(۱)

کم وخت چه‌مؤمن خان دسفر عزم و کړ ،نوشیرینو داسی‌ناره پرو کړه:ـ

تاد سفرموزې په ښپنو کړې

دژیړو ګلوباغ پر چاسپارې مینه !

په‌پورته لندی کښې ځان دده په‌بیلتون کښې دژ یړو ګلو سر ه تشبیه کول دپر له‌نزا کته دك اوخو زتعبیر دې مؤمن خان ددې لندی په ځواب کښې‌داسی وایی :

ما د سفر مو ز ې په ښپنو کړ ې

دژیړو ګلو باغ پرخدای‌سپارم مینه !

(۲)

مؤمن خان چه سپرېزی اوځی، شیرینو خپلی اوښکی داسی تصویر کوی:

یار می سپرېزی روا نیږی

پرنار نجی مخ می سیلاب داوښکوځینه!

نار نجی مخ اوداوښکو سیلاب دپر خوند و رالفاظ دی.

(۳)

کم وخت چه مؤمن خان ولار، نومړمن شیرینو خپل ډعشق اومحبت پیمان په څه سوز او گداز پسی وراستوی اوورته وایی:

مؤ منه! څه الله دی مل شه

داشینکی خال اوزلفی تالره ساتمه!

(٤)

چه تردوولسو کالوورو سته مؤمن خان کورته راغی، اودشپی په ناپوهی کښی د «شیرینو» ورووردی تپی اومړ کړ، شیرینو په څه غمجن آواز موروینبوی؟

ادی را کښېښه او ړ، را بل که

دمؤمن خان په وینو سره سوه با لښتو نه!

* * *

ددی مهرمنی نورحالات راځر گند نه شوه، داملی اشعارئی هم د پښتنو په خولو کښی مشهور اوتردی وخته رارسیدلی دی.

ص

مېرمن صاحبو «عاجزه»

مېرمن صاحبو د ګل محمدخان بارکزی لور اودقندهار د ګورګانو په کلی کښې اوسېده .

ددې مېرمنی ژوند په ۱۲۹۷ کښې یقینی دی . دامېر من کو نده وه. اویوه لورئې درلوده، چه خپله لورئې سیدغفور آغانامی ته ور کړې وه ، بیاسید غفور اومورئې دمحمد عثمان خان نائب الحکومه په حکم کابل ته ولاړه ـ په کابل کښې سیدغفور مړشو .

نومېرمن صاحبو دخپلی لور دپاره چه «نازکو» نومېده اوسیدغفور ته ئې ورکړې وه، دالاندی غزل دمرثیې اوافسوس په توګه ویلی ده، دې خپل تخلص «عاجزه» غوره کړی و. مېرمن صاحبو پښتنه شاعره اولیکونکې اولوستونکې وه. په دینی علومو کښې ښه لاس درلود.

شعرئې سلیس اوملی دی، که څه هم دې مېرمنی دېری بدلی اوغزلی و یلی دی، مګردزمانې دناخوالو په اثر چه خصوصاً دی عاجزی طبقې ته ئې هیڅ موقعیت نه ورکاوه اوځینو بدبختو نارینو به ښځی شاعرې ته په دېر نفرت او بده ستر ګه کتل، نوځکه ئې نور آثار نه لږی پاته شوی، یوه غزل ئی داده : ـ

پر خپل خدای به فریاد کړم عوض غواړم له باری
تنګوم به ګرندی
ما ویل جلګې (۱) زه خوراغلمه دشپې
حاجت می دی راوړی بخت خو غواړم پر تندی
تنګوم به ګرندی

---

(۱) داد یوه زیارت نوم دی .

شیراغا ول ناز کو خور زه یې د خړ زو
خړزی دی خدای آباد کړی تاپه تو لو نا زوی
ننګوم به ګړندی

شیرا غاول ناز کو پر ما ګرانی تر لیمو
و ځان ته ا مید نسته چه ز ه در کم ستا خر څی
ننګوم به ګړندی

* * *

ما و یل تر بو ر ه زه له تا څخه مرورم
زما کور را څخه ورك دی زه کومه مز دوری
ننګوم به ګړندی

* * *

تر بو ر و یل تر لې ته می مه که اند پښتنې
دغلیم دی کو ر خراپ سې پرد نیا ئې کړم بندی
ننګوم به ګړندی

و ر و ر و یل چه خو ر ې ! خدای دی زړه ګه پرله پو ری
ستا ورك کور دې پیدا سې چه بیاته و کړې ښادې
ننګوم به ګړندی

و خ ـ ت د نیـ ـمی شـ ـپـ ـې بیان جور کړ ء «عاجزې»
هر سړی چـ ـې وایې دا یمـ ـان خواست دی کـ ـو ی
ننګوم به ګړندی

* * *

مېرمن صنوبر عاجزه

مېرمن صنوبر چه تخلص ئې «عاجزه» غوره کړی و، د مر حوم سید عبد الله لوراو دمېرمن مریم «کنیزك» خورده. دې دووفا ضلو خوندو دېرې خو زې خوزې مشاعرې سره کړی دی .

دعاجزي اصلي ځای هرات «کرخ» دی چه پلار او نیکه ئي هلته تېر شوی دی او دنیکه قبر ئي چه په «میرصوفی» مشهور دی د کرخ د مدرسي وشر قی خواته پروت دی. مېرمن عاجزه دښې روانی اوسلیسی طبع مېرمن وه، ددې په غزلیا تو کښې دحقیقی مینی جذبات اودعشق اور ځلېږی. ځکه ئي نو اکثر اشعار نعت او حمد دی اوپه عین حال کښې دېر خوازه اوخو ندور دی.

ددې مېرمنی ژوندد (۱۳۰۰ هـ ق) په شا وخوا کښې و. ځکه چه ددې خور «کنیزك» په (۱۳۰۸ ق) کښې وفات شوې ده.

مېرمن عاجزه د(۲۵) کالو وه، چه مېړه ئي وکاوه او دخپل خوازه ملګری سره ئي په خورا خوشالی دخدای په عبادت کښې شپې روځی تېرولې. (۱)

دشعر اوشاعری سره ئي ښه مینه درلوده!

دشعر نمونه نعت

ای شهٔ با سخای من دل شده مبتلای تو
طو طی طبع من کند شام و سحر نوای تو
عمر عزیز را دهم در هوس لقای تو
محرم سرلامکان جان و دلم فدای تو (۲)
«مرغ دلم به اوج عرش پرزند از هوای تو»

* * *

وصف تو چون بیان کند سوختهٔ وصال تو
طو بی جنت است خجل از قد با کمال تو
جزغم عاصیان دگر هیچ نه در خیال تو
نور همه جهان بود پرتوی از جمال تو
«تابش ماه بر فلك از شرف لقای تو»

---

(۱) دهرات ادبی مجله ۵ کال ۵ گڼه (۲) دخمس دهر بندبیتونه دغور دعاجزي داشعارو څخه الهام دی چه وروسته په درته راشی، گویادهغی پرغزل مخمس جوړ شوی دی (بینوا)

یك شبی از سر صفا روح الامین ز کبریا
آمد و بر درت نشست گفت درود مرحبا
من ز حق آورده ام تند براق باد پا
خیز و سوار و شو بکن عرش عظیم متکا
«لوح وقلم گرفته اندسرمه زخاك پای تو»

* * *

پشت براق تاز نین سوی سما سفر زدی
جملهٔ آسمان همه طی بیکی نظر زدی
روی بجانب اله پشت براق زرزدی
دامن ناز برزدی بر درد وست درزدی
«نه ملك ونه آدمی هیچ نه در قفای تو»

* * *

رفتی ز شوق دل مگر سوی حریم کبریا
مست شراب حق شدی نوش تو جام با صفا
محو لقای او شدی دیدی تجلی خدا
از حرم خدا ندا شد که حبیب من درا
«آنچه تراست مدعا میدهم از برای تو»

* * *

تاشنیدی این ندا جانب او روان شدی
از گذر جهانیان رفتی و شاد مان شدی
بستی کمر به عشق دوست عازم لامکان شدی
ای شهه جمله شهان هادی گمرهان شدی
«جمله شهان این جهان همه گدای تو»

چو ن بحر یم کبر یا همد م و هم قرین شدی
بهر گنـاه عا صیـا ن نـائب و ا پسین شد ی
خواهش تو قبول شد وارث ملک دین شد ی
شاه حریم نشین شدی هـادی شرع مبین شدی
«چون بخد ا قرین شدی جسته خدا رضای تو»

* * *

عمر عز یـز شد تلف نیست ز خـو د مـر ا خبر
ر و ز جـز ا بمن بکن ا ز سر لطف یـك نظر
بند ه بخـا نهٔ غمم ز ا ر و ضعیف و چشم تر
ا ی مه چا رد ه ا ثر خو ا جهٔ کل بحر و بر
«نعت تو گفته مختصر «عاجزه» بینوای تو»

ع

مېرمن عاجزي

مېرمن عاجزي دسرخيل سردار ارس خان لور ده ، چه دفيروز کوه دغره وشاوخواته اوسيدله .

ډېره شريفه اوپوهه مېرمن وه ، چه بيادهرات په کليو کښې دميراقبال نامی په نکاح شوې ده .

ميراقبال خوراتريخ مزاجه اوناپوه سړی و ، چه‌دې مېرمنی روحی موافقت نه ورسره درلود. اوپه‌هم‌هغه نژديو ورځو کښې له‌دې غم‌لړلی‌دنياځخه په‌ډک‌زړه ولاړه . دامېرمن فاضله، عالمه شاعره وه، جناب ملا محمدصديق آخند په‌خپله قلمی تذکره کښې ددې تعريف داسی ليکی (۱) :

« افتخارنسوان‌مهستی‌رونکار ومخفی زمان عفيفه ، فصيحه بيان ، طليقه‌لسان جليس پردهٔ عصمت نهان دزديده چو ن دلها ابنهٔ سرخيل خوانين کوهستان سردار ارس خان فيروز کوهی است . صورتی مرغوب‌وسيرتی‌محبوب، ذهن‌سليم وطبع مستقيم داشته ابکارافکارش عندليب دستان‌سرای نعت‌نبوی ومدح‌خوان اهل بيت مصطفوی است ، غزاله غزلش دل ازآهو چشمان مخفی‌وآشکارجهان بربايد وپيالهٔ صهبای‌صبوحی سخنش زنگ کدورت ازآئينهٔ دلها بزدايد . . . »

دمېرمن عاجزي شعر ښه خوږاوروان دی ، نعت ډېر وايی دلته لاندی ددې داشعارو نمونې ښيو :

(۱)

نعتونه :

بردهٔ دل و دينم وه چه دلربا هستی خنجر جفا بر کش بهرقتل ما هستی
ميل دلبری داری دلربا چرا هستی درد مند و مسکينم معدن شفا هستی
برسرم فگن سايه ،سايهٔ خدا هستی

---

(۱) د ملامحمدصديق آخند قلمی تذکره .

سر ز پرده بیرون کن رونق جهان بشکن　　از کلك سبا به ماه را میان بشکن
در سخن زبان بکشا غنچه را دهان بشکن　　در زمین قدم بگذار قدر آسمان بشکن
قدر خویش ظاهر کن در بی بها هستی

عارضت هویدا کن شوکت پری بشکن　　رخ نما و دل بستان رسم تاجری بشکن
لب بگفتگو بکشا سحر سامری بشکن　　دلبران عالم را رسم داوری بشکن
گرچه شاه خوبانی مائل گدا هستی

سر ز پرده بیرون کن رونق قمر بشکن　　بر ویلان دستارت از قفای سر بشکن
جلوه کن سوی بالا از هما بر بشکن　　رف رف و براقت شد دامن از کمر بشکن
وقت رفتن و گفتن وه چه خوشنما هستی

ره نورد هفت افلاك شهسوار اوادنی　　فخر اول و آخر صدر عالم بالا
ماه مشرق و مغرب شمع مجلس اقصی　　مفتی رواج دین شاه یثرب بطحی
نسل زبدهٔ آدم نور کبریا هستی

از کمان ابرویت ماه نو ظفر دارد　　لاله از غم دوری داغ بر جگر دارد
وز خدنگ دلجویت جان من حذر دارد　　نرگس از فراق تو دیده های تر دارد
عاشق تو بسیار است چون تو کم نما هستی

«عاجزی» که در نعتت ذکر و گفتگو دارد　　کس مباد و در عالم طالع که او دارد
از سگان کوی تو کمتر آبرو دارد　　این کنیز اولادت فکر جستجو دارد
چون کند نمیداند ماه من کجا هستی (۱)

(۲)

ایشه لامکان جان و دلم فدایتو
مرغ دلم بلا مکان پر زند از هوایتو
مهر و جهان فروزیش پرتوی از جمال تست
تابش ماه بر فلك از شرف لقایتو

---

(۱) دهرات ادبی مجله .

ای مه برج کبریا وصف رخ تو والضحی
خلعت فضل انبیاء بر قد دلربایتو

چرخ ترا بزیرپا عرش مجید متکا
حورو ملك گرفته اند سرمه زخاکپایتو

چون زدر خداندا شد که حبیب ما بیا
هر چه تراست مدعا میدهم از برایتو

دامن ناز بر زدی بردر دوست در زدی
از ملك وز آدمی هیچ نه در قفایتو

چون بخدا قرین شدی ماه حرم نشین شدی
قاضی شرع ودین شهی جست خدا رضایتو

گوهر راز سفته شد آنچه که بود گفته شد
حاصل و واصل تو شد مقصد و مدعایتو

ای سرجمله جهان هادی کل گمرهان
جمله شهان کامران ازدل وجان گدایتو

ای مه چارده اثر شافع کل بحر وبر
نعت تو گفت مختصر «عاجزی» بینوایتو

* * *

عابدهٔ بلخی

یا : د بلخ یوه عابده مېرمن

دابو بلال الاسو دځخه نقل د ی وایی : - (١)

«چه زه حج ته تلم په لاری یوه بنځه راسره ملګرې وه چه نه ئې څوری (زاد)

(١) صفة الصفوة - څلرم جز - ١٤٠ مخ.

اونه ئې بوده (• راحله) درلوده .ماورته وویل : دکم ځای یې ؟ دې وویل : دبلخ !

ماویل :ـ زه خو ستاسره نه څه څوری (زاد) وینم اونه کم دو لو بوده؟

دې ویل : زما څخه خرڅ شته په بلخ کښې می لس درهمه درلوده نیمی خرڅ شوی دی اوڅه لا شته .

ورته ومی ویل :ـ که دا درڅخه ولاړه څه به کوې ؟

وې ویل :ـ داخپله جبه به خرڅه کړم ، په پیسو به ئې ځان وچلوم .

ماویل :ـ که هغه هم تمامی شوې ؟

وې ویل :ـ خپل پورنی به خرڅ کړم او ځان به په وچلوم .

ماویل :ـ که هغه هم تمامی شوې ؟

دې ویل : اې ناپوهه ! خدای لرم .

ماویل :ـ ولی سوال نه کوې ؟

دې ویل :ـ آه څنګه سړی یې ـ؟ زه چه پنځه درهمه لالرم څنګه سوال و کړم ماته حیا راځی .

ماویل :ـ دا په ماچه پسی دی پردغه خره سپره شه .

دې ویل :ـ راپرې ئې زده ...

ماهم ورپرې بښود .

زه دڅه کار دپاره ترشا پاته شوم ، چه راغلم خرشته عابده نشته . خورجین هم هغسی له څوری (زاد) څخه ډک و ، او دا پیاده تللې وه ، بیامی ونه لیده .»

* * *

ددې عابدې مهرمنی عزم او ثبات دستایلو وړ دی اودا خوی دافغا نستان په ټولو پښتنو مهرمنو کښې شته متأسفانه چه ددې مهرمنی نوم او نور حالات راته معلوم نشول .

مېرمن عایشهٔ افغان

مېرمن عایشه دیعقوب علی خان لوروه، په‌قوم بارکزی په کابل کښې داعلیحضرت تیمورشاه په وختو کښې او سیده، دا مېرمن ددې وطن لمړۍ مېرمن ده‌چه‌دخپلو سوځوونکو اشعارو یوضخیم اولوی دیوان ئې راپرینښی دی.چه‌پخپل‌وطن کښې‌نه‌بلکه‌په‌نورو وطنو کښې‌هم‌دښځی‌دومره دیوان‌لږلیدل شوی‌دی. اعلیحضرت تیمور شاه ودې‌ته په‌ښه درنه‌ستر‌گه کتل او راز، راز هدیې به‌ئې ورته ویراندی کولې.

دمېرمن عایشې ژوند: (۱)

ددې مېرمنې ژوند پردوې برخې ویشل کېږی، لمړۍ‌برخه ئې زلمیتوب اودخوښۍ دوره‌ده، چه‌ددې دورې‌اشعارئې هم‌په‌دې زمینه کښې ویلی‌شوی‌دی اوبله برخه‌ئې دتأثر او غمجینۍ دوره ده؛ چه‌په‌دې‌برخه کښې ئې گران زوی (فیض‌طلب) دشاه‌محمود په‌دوره کښې دوزیر فتح خان سره دکشمیر جنگ ته‌تللی اوهلته شهید شوی‌دی، اودمور په‌زړه ئې داغ‌اینښی دی، نوددی دورې اشعارئې ټول دزمانې څخه شکایت‌دی‌اودزلمی‌زوی‌په مرثیه کښې‌ئې‌ویلی‌دی.

ددې تحصیل: لکه‌ددې‌دخطی‌دیوان‌له‌مطالعې څخه‌چه څرگندیږی دمېرمن عایشې تحصیلات ښه‌لوړه لمنلری، په‌صرف، نحو، معانی، بیان، تجوید، علم فقه اوپوهه په‌علم کلام اوحدیث کښې‌دښو معلوماتو مېرمن‌ده. اودې داتحصیلات دا(یونجی‌ها) په‌محله کښې‌دهغه‌وقت له‌علماؤ څخه وپای ته‌رسولی دی.

ددې دشعر دوره: مېرمن عایشې‌دخپل عمر‌په‌شلم کال په‌شعر شروع کړې ده، اولمړۍ فرذچه‌دې ویلی‌دی، په کابل کښې دپسرلی دلمړۍ‌میاشتی دلیدو

(۱) د ښاغلی گویا د مقالې څخه اخیستنه چه د کابل دمجلې دلمړی کال په ۱۲ گڼه کښې نشر شوی دی.

په‌وخت کښې‌و، چه داعلیحضرت تیمور شاه په‌حضور کښې‌ئې دمابنام شفق‌په‌دې الفاظو تصویر کړی‌دی :

شفق را لاله گون دیدم نماز شام در گردون
مگر خورشید را کشته که‌دارد دامن پرخون

تردې‌تاریخ وروسته ئې‌شاعرې ته‌لاس ورته کړی‌دی اودخپل ژوند تر نیمیه پورې‌یعنی تر ۳۵ او ۴۰ کالو پورې‌ئې دخپل دیوان یوه برخه چه قصاید، غزلیات اوددې‌مېرمنې‌دزلمیتوب‌احساسات اواشعاربا له کښې‌ویلی‌دی، اوددې دقصایدوسرهغه قصیده ده‌چه‌دشاه‌محمود دتزوینج په‌شپه‌ئې ویلې ده. ددې دورې اشعارئې ډېرخوازه‌دی مگرمتأسفانه چه‌دزمانې گردش دامېرمن هم خوشحاله پرې‌نښوو له اوپرزړه ئې‌راز راز داغونه ور کښېښوول، چه‌یوله هغو څخه‌ددې دزلمی‌پښتون، توریالی زوی‌څوا نیمرګی‌ده، تردې وروسته ددې ددیوان نوره برخه‌دسوز او ګداز اوددې‌دسیه روزې اشعار دی .

ددې مېرمنې دیوان: ددې مېر منې یو دیـو ان درو ژې پر ۵ تـاریخ په ۱۳۰۵ هـ کـال داعلیحضرت امیرعبدالرحمن‌خان په‌امراو داجمدجان خان الکوزی په اهتمام د کـابل په‌مطبعه‌کښې‌طبع شویدی مگرداديوان لکه‌ښاغلی ګویا چه په کـابل مجله کښې لیکلی دی ، د خطی د یو انه سره ډېرفرق اوتوپیرلری.ځکه‌چه په‌مطبوع دیوان کښې‌قصایدی اوغزلیات اور باعیات او مسدسات اوساقی‌نامه په بل‌ترتیب لیکلی‌شوی دی،چه دشاعرې ملحوظ هغسی نه دی‌مگر هغه‌خطی دیوان‌چه پخپله دشاعرې په‌قلم لیکلی شوی‌دی پردوې برخی ویشل کښې‌لمړی‌قسمت‌ئې په«شکر ګنج»موسوم‌دی‌چه‌ددې میرمنې‌دخوښې دژوند، تعلیم‌اوتعلم‌ددورې اشعار پکښې‌ثبت دی، دوهم‌قسمت ئې‌چه ساقی نامه اومرثیې، رباعیات اوقطعات دی ددې دغم‌دورځونماینده ګی کوی. اوبالعکس لکه دمنو چهرې دامغانی ددیوان‌په. (۳۰۰۰) بیتو کښې‌چه یو غمګین لفظ

یا کلمه نه لیده کیږی هم دغه شان ددې سیاه سری ددیوان په آخره خوا (١٢٠٠) بیتو کښې دخوښې اوخندا کلمه نه شته، ټول شکایت دی. برسیره پردې په غیرمطبوع دیوان کښې ئې ٧ غزلی ٣ قصیدی ١٢ رباعی ترمطبوع دیوان اضافه دی. (١)

دې میرمنی دخپل دیوان داختتام تاریخ په ډیر دقت دپنجشنبې په ورځ ٢٦ درجب دمیاشتی په ١٢٣٢ هـ کال دشعبان په وخت د« اونچی» په محله کښې لیکلی دی.

د دیوان سبك : (٢) ددې میرمنی داشعارو سبك دحافظ و اشعاروته ورته او تشبیهه لری گویاداپښتنه مېرمن دحافظ دسبك پیروه ده، دالاند ینی اشعار مقایسه کیدلای شی:

حافظ وایی :

مژده ایدل که مسیحا نفسی می آید
که زانفاس خوشش بوی کسی می آید
ازغم ودرد مکن ناله و فریاد که دوش
زده ام فالی و فریادرسی می آید
هیچکس نیست که در کوی تواش کاری نیست
هر کس اینجا بامید هوسی می آید
کس ندانست که منزلگه معشوق کجاست
اینقدر هست که بانگ جرسی می آید
جرعهٔ ده که بمیخانهٔ اربـاب کرم
هـر حـریفی زپی ملتمسی می آیـد

---

(١) دکابل مجله ـ لمړی کال ١٢ گڼه
(٢) د دې میرمنی له خپل دیوان څخه

خبر بلبل این باغ مپرسید که من
نالهٔ می شنوم کز قفسی می آید

دوست را گر سر پرسیدن بیمارغمست
گو بیا خوش که هنوزش نفسی می‌آید

یار دارد سر صید دل حافظ یاران
شاهبازی بشکار مگسی می آید

* * *

مپرس من عائشه وایی :

عمر بگذشته مرا یاد بسی می آید
وز نسیم سحری بوی کسی می آید

دوش در خواب با میدوصالت رفتم
مژدهٔ وصل چو بانگ جرسی می آید

بهو اداری آنسر وخرامان رفتم
دیدم از بهر گرفتن عسسی می آید

لب لعل تو که سرچشمهٔ جاو یدانست
جرعهٔ باز ازانم هوسی می آید

گفت سر مست وغزلخوان ز کجامی آئی؟
گفتمش بهر کرم ملتمسی می آید

پشه ار گر نبود وصلت عنقا لیکن
بکرم بخشی سلطان مگسی می آید

به تمنای رخ دوست شدم سوی چمن
صوت طوطی نفسی در قفسی می آید

گر چه باقی نبود یکنفس از عمر عزیز
شاد مان باش که عیسی نفسی می آید
«عائشه» گر بغم هجر گرفتار شدی
دل قوی دار که فریاد رسی می آید

* * *

دمېرمن عائشې عارفانه اوتصوفي افکار :

روزیکه بود دلبر من هیچکس نبود — چنگ محبتش دلاین خسته رار بود
محبوب دلربا چوزرخ پرده بر گرفت — انس وملك زحیرت اورفت در سجود
چشمم بخواب رفت گلستان وجوش گل — دیدم زخواب جستم و هیچش اثر نبود
من خط بندگی بوی آنروز داده ام — دردست منشیان قضا چونکه خامه بود

* * *

دې مېرمنی په خپلو اشعارو کښې دځینو شاعرانو نومونه هم ذکر کړی دی چه ددې ذوق دنومورو شعرا داشعاروسره څرګندوی داوایی :

شاعران رفته و «عایشه» توهم خواهی رفت
حافظ ومولوی وسعدی و عطار نماند

* * *

مېرمن عائشه اوانتقادی روح: مېرمن عائشه دخپلو خت معایب لکه څنګه چه دلیکونکو اوشاعرانو وظیفه ده ظاهروی او دهغه عصر بد خویونه او نواقص په خورا مهارت میدان ته را باسی اوتصویر وی ئې مثلاً وایی :

بی بی زنان مضطرو حیران شدند — ماچه خران سلسله جنبا ن شدند
حجله نشینان حریم حجاب — هم نفس غول بیابان شدند
شیر وشان گوشه نشین شد همه — سگ صفتان درصف میدان شدند
کرد فلك بیشهٔ شیران تهی — مسکن روباه وشغا لان شدند

بلبل بیدل به تمنای گل　　دربدرو بیخود وحیران شدند
دیو لعین چون زقضاو قدر　　در طلب تخت سلیمان شدند
بار نهادند به پشت سمند　　گاو وخران قابل جو لان شدند
قند وقروت آنکه نمی کردفرق　　مصلحت آمیزو سخندان شدند
لا له عذاران شده دفن تراب　　حبش بچه چون مه کنعان شدند

شهر ز نان خانهٔ عایشه شد
این همه از گردش دوران شدند

بل‌خای وایی :

شه محمود که وصفش بزبان نا ید در ست
حیف کز مملکت خو یش بسی بیخبر ست
عدل و انصاف ندارد نبود غو ر و تمیز
ور نه ذوالفهم وخردصاحب عقل وهنرست
ضبط ور بطی نبود حشمت خاقانی را
بو العجب عصر بود بیم پدر از پسر ست
قاضی و محتسب و مفتی واهل علما
بی تقرب شده اند گنج تهی از گهر ست
نافذ الحکم همه باده پرستان شده اند
امرو نهی نبود صفحهٔ زیر و ز بر ست
نبود صوم صلواتی همه میخواره شدند
نبود بذل وز کواتی شجر بی ثمر ست
خمر درر ستهٔ بازار خو رند نیست هراس
دین اسلا م تغیر است شب بی سحر ست
پند ناصح نپذ یرند نبود شرم و حیا
همه خود سر شده اند وادی خوف وخطر ست

قیمت مهره شد از گوهر یکدانه فزون
آنکه عالی نسبا نند همه در بدر ست
مال دنیا بخران دادن و نعمت بسگا ن
قوت ارباب خرد جمله ز خون جگر ست(۱)
سفله پرور شده سلطان چکنم واو یلا
خوردن مردم ابله همه شهد و شکر ست
خانها خانه گك و بی‌بی زنان حیرانند
درشهوار چودر گردن هر ماچه خر ست
داد ازدست شه و ، وای ز بیغوری او
خنجر کبر بهر سگ صفتان در کمر ست
کرگس وزاغ وزغن کرده به گلشن ماوی
عندلیبان همه سر گشته و بی بال وپرست
اهل علوی همه سفلی شده سفلی علوی
همچو رقاص نگر چرخ فلك جلوه گرست
مادر «فیض طلب» سوخته در نار فراق
کشور روی زمین درنظرش چون سقرست
باخت درخدمت شه گوهربحر دل خویش
پرسشی نیست که حالش بچسان درگذر ست
گفته بودند نظر پاد شهان اکسیر است
هر که خدمت بکندمس وجودش چوزرست
چونکه پیوسته بود خدمت و عظمت باهم
جانفشان هر که شدالحال بسی بی وقرست

---

(۱) دلته دحافظ دمصرع دمضمون تضمین دی چه وایی :
«قوت دانا همه ازخون جگر می‌بینم!»

رایگان باخت یکی عاقل وفرزانه پسر
بشکند دست فلك تیر قضا بی سپر ست
خاك حسرت بسرش باد کند مادر او
ازندم خورده چو فرهاد بضرب تبر ست
روز روشن شوداز آه وی همچون شب داج
چونکه اوناله کند شیرژیان را حذرست
این چنین عهدو زمان یاد ندارد ایام
سستی سلطنت است شورش جنگ قجرست
شکوه تاچند کنی سنگدل سینه کباب
دور گردون بنگر یوم بیو مش بتر ست
قهر سبحان شده بر خلق منال «عایشه جان»
یاسر وسر شده پا گردش دور قمر ست

* * *

مرثیې چه دخپل زوی په مرګ ئې ویلی دی :

تور ضائی که بی پسر باشم — زخم ناصور بر جگر باشم
ازفراق یگانه فیض طلب — سینه مجروح دیده تر باشم
تابکی ازجفای چرخ کبود — بتماشای گاو وخربا شم
حی قیوم قادر ا تا چند — دوراز وصل شیر نر باشم
همچو فرهاد از ید حسرت — خورده بر فرق خود تبر باشم
بهر گلذار حسن آن محبوب — زار چون بلبل سحر باشم
غرقه در بحر هجرو محنت وغم — قید در دام شو روشر باشم
«عایشه» تا بکی بدین منوال
بی پسر زار و در بدر باشم

بله مرثیه :

شهبا ز فرشته خوی مادر — یکبار بیا بسوی مادر
رفتی زبرم به آه و افسوس — پرحسرت و آرزوی مادر
ای صاحب ننگ و نام و غیرت — هم باعث آبروی مادر
ای سرو، ریاض کامرانی — گلدستهٔ مشکبوی مادر
ای یوسف ثانی زمانه — سرتا بقدم نکوی مادر
درخانه ودر سفر بهرحال — بودی تو بجستجوی مادر

کر گشته مگر که گوش گردون
زین ماتم وهای و هوی مادر

* * *

بله مرثیه :

ای نوردیده شرح ندارد عزای تو — روزی هزاربار شهیدم برای تو
چون لاله داغ هجر تو دارم بدل مدام — نار فراق سوخت محنت سرای تو
دستت حنا بخون جگر شد کجا بدم — می شستم از سرشك یدپر حنای تو
قربان زخم سینهٔ بی مرهمت شوم — خواهم که لطف حق بشود مومیای تو
جانا هزار جان گرامی گرم بود — خواهم شود فدای سرپر هوای تو
فرزند ارجمند سعادت نشان من — مادر فدای عزت وشرم وحیای تو

نوردودیده فیض طلب گوید «عایشه»
باشد شود بحال تو فضل خدای تو

* * *

دزوی دمرگ تاریخ داسی لیکی :

سپاه اجل حمله آورد براو — به تیغ قضا سینه را کرد سپر
بدی خانهٔ سال او بست وپنج — که چون برق کردرخش عمرش گذر

زهجرت بدالف دوصدو بیست و هفت(۱) چوزد غوطه در موج خون بیخبر

نماند بجز ذات ایزد کسی
صبوری گزین قصه کن مختصر

* * *

دمبر من عایشې ددیوان دزلمیتوب دوخت یودوی نوري غزلې :

دیوانه برو که مست آمد وآن مست می الست آمد
گلزار رخش بهار رضوان شکر لب می پرست آمد
آن رشك بتان خطهٔ چین اسباب طرب بدست آمد
این مژده نسیم صبح آورد کان صفدر صف شکست آمد

عایشه ز یمن شا همر دان
تیری که بشد ز شست آمد

* * *

بتا گفتار شیرینت مرا کشت نگاه چشم مشکینت مرا کشت
بقربان دو لعل بسا ده نوشت حیاو ناز و تمکینت مرا کشت
قدت سرو ریاض کامرانی سوادزلف پرچینت مرا کشت
نگاری مهوشی شمع شب افروز فنون ولطف تحسینت مرا کشت
بتی شکر لبی شیرین تکلم سراسر رسم وآئینت مرا کشت
به گلزار رخت نظاره کردم نسیم بوی نسرینت مرا کشت
مشو مغرور حسن دلربایت طبیعتهای خود بینت مرا کشت

بعایشه چه بینی از حقارت
دل چون سنگ سنگینت مرا کشت

---

(۱) ۱۲۲۷ ه

میر من عـا یشی خپل لحـا ن او دد یـوان دلیکلو تـار یخ دا سی نبه خر گندکړی دی :

کا تبه عـا یشه ا ز ا متی شا ه عـر ب

بنت یعقو ب علـی و ا لـد ۀ فیض طلب

قو م بار گر ئی و شا عر ۀ ملك و جو د

عهد سلطا ن زما ن بحر عطا شه محمو د

پشت د ر پشت خطاب آمده ما ر امنصب

تو پچی باشی همه بودند ذوی الجاه وحسب

یوم پنجشنبه بدو بست وشش از ماه رجب

یافت تحر یر شکر گنج به مضمو ن ادب

یکهز ارو دو صدو سی و دو از عـام بود

که چنین نظم گهر با ر بـار قـام بـو د

ساعت چا شت بد این نسخه با تمام رسید

که با رباب خر د فر حت و ی با د مز ید

سا کن کـابل ودر موضع «او نچی» مرقوم

شد ه کین فطنت ا شعا ر پذ یر د مفهو م

رنج بسیار کشید م چو سخن ضم کر د م

هر زمان پاره از خو ن جگر کم کر د م

خواهم آ مر زش خو د ا ز کر م ر با نی

زا نکه پا ینده و با قیست ورا سلطا نی

مېرمن عایشه

یا

دولیعهد مور

مېرمن عایشه دسردار میرافضل خان لوراودسردار کهندل خان لمسی وه چه نیکه ئې دقندهار ډېرلوی سردار باله کېږی.

دامېرمن ډېره ښکلې اوخورا ښائسته وه، دښائست اوښکلیتوب ساری ئې نه درلود دامیرشیرعلی خان خاصه اونامداره ملکه وه، امیرشیرعلی خان سر ېپره پرازدواجی محبت له دې سره زیاته مینه او عشق درلود. څنګه چه ویل کېږی وایی: ده به په وارو وارو داویل چه« که خدای په جنت کښې ماته حوره را کوی، حوره نه غواړم، دولیعهد مور غواړم!»

دې ملکې په شاهی کورنی کښې اختیار مطلق درلود او پاچائې هم خبره منله. دامیرشیرعلی خان کوچنی زوی سردار عبدالله جان ددې مېرمنی له نسه و.

امیرشیرعلی خان دولیعهد دانتخاب دپاره یوه میاشت وخت وتا که اودقوم اوملکت غټان اوبزرګان ئې راوغوښتل چه په دې باره کښې رأیه واخلې، مګر په دې وخت کښې دولیعهد مور خپل منتها جدیت په کار واچاوه اودخپل دې جدیت په اثر چه څنی غټان ئې امیدواره کړه، ټول بزرګان ئې دلحان پرخوا کړه اوټولو دا کوچنی زوی په ولیعهدی معرفی کړ. اوترولیعهدی ور وسته دافغانستان لمرنی کابینه په سلطنتی حرم سرای کښې ددې مېرمنی په امر تشکیل شوه اوپه اعلیحضرت امیرشیرعلی خان ئې دا امر امضا کړ.

دولیعهدی شرح اود کابینې صورت اوتشریفات اود وزیرانو او صدراعظم نومونه دسراج التواریخ په لمړی جلد کښې مطالعه کړئ.

څینی خلق دامیرمحمدیعقوب خان دجلوس په وخت کښې کم انقلاب اواغتشاش چه دداؤد شاه خان اوعسکرو له خوا وشو هم ودې مېرمنی ته منسوبوی.

دفوج اغتشاش دامیر محمد یعقوب خان دسلطنت وراثی هم دسراج التواریخ په لمړی جلد کښې لوستلای شیء .

په هر صورت دا مېرمنه د افغانستان له مهمو مېرمنو څخه بلله کېږی او دلوړ فکر مېرمن وه .

* * *

مېرمن علیا جناب

مېرمن علیا جناب داعلیحضرت شهید محمدنادرشاه غازی خور اودمرحوم سردار محمدیوسف خان لور وه ـ چه اصلی نوم ئې «محبوب سلطانه» و ، او دسرطان په ۱۲ په ۱۲٦۰ ش کال دهند په «دهره دون» کښې زېږېدلې وه دې مېرمنی په ۱۲۸۱ ه کال دحمل په ۱۸ داعلیحضرت امیر حبیب الله خان شهید سره ازدواج کړی دی .

دې پښتنې مېرمنی خپل تحصیلات په هند کښې له زبردستو اوماهرو معلمینو څخه پای ته رسولی دی. په پارسی ، اردو اوتاریخ کښې ئې ښه مهارت درلود .

که څه هم ددې فاضلی مېرمنی نور آثار ورک دی خصوصاً دانقلاب په وخت کښې ددې څو ښې ښې ښکلی درسامې تابلو گانی چه پخپله ئې رنگه رسم کړی وې له منځه تللی دی خو بیاهم یوازی ددې د «الفاروق» کتاب چه دعلامهٔ شبلی تالیف دی اودې مېرمنی په روانه خو زه پارسی ترجمه کړی دی ددی دفضل اوعلم ښه نمونه ده اود دې مینه له علم سره راڅرگندوی په هغه وخت کښې چه دې مېرمنی ددې کتاب ترجمه شروع کړې وه ، اونژدې و ، چه کتاب ختم شی له بده مرغه ددې مېرمنی مزاج ته یوڅه علت پېښ شو او د همدی علت په نسبت ئې و نشوه کولای دا کتاب وپای ته رسوی (۱) څو دسنبلی په ۲٤ په ۱۲۸۹ ه کال تقریباً ددېرشو کالو په سن له دنیا ولاړه. اوله دې مرحومی څخه دوه اولاده پاته شوه لمړی ئې یوه لور وه چه «عایشه سلطانه» نومیده

(۱) دالفاروق مقدمه .

اودري کلنۍ وفات شوه اودوهم ئي يو زوی پاته شو چه‌دازوی‌ئي تر اوسه ژوندی اوزلمی عسکر دی .

دازوی ښاغلی سردار اسدالله خان نومیږي چه‌په‌عسکری شق کښې دلمړی فرقه مشر اوداردو دعمومی مفتش ر تبه لری .

څنګه چه‌ددې مېرمنی ترمرګ‌وروسته دالفاروق د کتاب څو پا نې لاپاته وې نودا علیحضرت شهید په‌امرمولوی نجف‌علی هغه کتاب بشپړ کړ او طبع شو ، چه‌اوس دمطبوعاتو په« پاڼوځی» کښې خرڅیږی اوشته .

متاسفانه ددې مېرمنی دنور وآ ثارو پته را څخه نشته فقط دو نی ویل کیدای‌شی چه‌دا نقلاب تروروځو پوری لاددی ځنی‌مقالی او مکتوبو نه‌او تابلو ګانی موجودی وې، بیانو ورکی شوی دی .

* * *

مېرمن عینو

مېرمن عینو یوه پښتنه مېرمن‌وه چه‌دا علیحضرت احمدشاه‌بابا په‌عصر کښې اوسیدله .

ددې پښتنې فقط یوه له‌پښتنوالی څخه واقعه چه‌دپښتنو مېرمنو احساسات اودملګری پالنه ښه‌ځینی.ښکاره‌یږی په‌لاس راغلې ده ،چه دهمدې واقعی په سبب دامېرمن دپښتنو دمملکت له‌مهمو اوهوښیارو ښځو څخه‌شمیرل کیږی.

دا واقعه داسی‌وه :

مېرمن عینو یوه پښتنه ښځه وه چه‌د کوم پښتون زلمی عسکر ماند ینه وه دا زلمی دا علیحضرت احمد شاه بابا سره د هندوستان په یوه سفر کښې ملګری و .

احمد شاه‌بابا چه بیرته بریالی او فاتح له هنده را وګرځید دقندهار ښار ته نژدې ډېره شو .

ددې زلمې عسکر زړه چه د کورله خواناقراره و،نو داحمد شاه بابا له مو کبه راجلا اوپه پټه ترلښکر دمخه کور ته راغې .

عینو چه خپل مېړه ولید پوښتنه ئې وکړه :

«څنګه راغلې ..؟ احمدشاه بابا څه شو؟ (په هولکې سره) لښکر موبریالی شو؟ ژروایه . . . ؟ » .

زلمې عسکر : ــ «بې غمه اوسه! مېړ منی ؟ که بری نه وای ،زه به هم تاته ژوندی نه وای راغلې؛ دپښتنو لویه سوبه اوفتح په نصیب شوی ده . . »

عینو :ــ « نوته ولې یوازی راغلې؟ لښکر موخه شو ؟ »

عسکر:ــ «زما سر ستامینه ډېره وه،رادمخه شوم،لښکراواحمدشاه بابا به سهار را شی ، د قندهار دباندی ډېره شو ی دی . . »

عینو :ــ«آه،ته ترچا نازولی وې؟ ترچا دی وینی سرې وې؟ دې نوروعسکرو مېړ منی او کورونه نه درلو ده ؟

هاى ، بې ننګه ! کاشکی خو زه ژوندی نه وای چه ته می په دې حال لیدلی نه وای ... ، لحه ! ترهغو پورې زما دیدپرتاحرام دی خوبیرته ولاړ نه شې اوداحمد شاه بابا تر بیرغ لاندی له خپلو هــمزلو لښکر یانو سره سبا پــه ګډه رانه شې . . . » عسکر ددې پښتنې له پېغوره ډېرو شرمېد،اوبیرته له هغه ځایه لښکرته راغې،اوخپل مشر داحمد شاه بابا حضورته راووست اوعرض ئې وکړ چه دا عسکر بې اجازې تللی و، احمدشاه بابا پوښتنه وکړه، عسکر چه څه لیدلی یا ئې اروېدلی وه ورته عرض ئې کړه .

احمدشاه بابا دهغې پښتنې دمېړانی په عوض کښې دده ګناه هم ور وبخښله او دې پښتنې مېړمنی ته ئې یو کاریز وروباخښه چه تراوسه پورې «دعینو» په کاریز مشهور اویادیږی .

داتاریخی قصه د ۱۳۱۵ کال دطلوع افغان په لمړۍ شماره کښې ښاغلی «زمریالی» په نظم لیکلې ده چه دلته ئې څوخو ندور بیتونه د لوستو نکو د پاره راوړو.

د قصې له منځه :

« . . .

کاشکی زه مه وای ژوندیء　　چه می د احال نه لیدی
زه دی و سو مه په اور　　د بی ننگی په شر و شور
ستر گی نه لرم په کلی　　هم پهغور دی دو گړی
ته پښتون ئې که چمیار؟　　اصیل نه کوی دا کار
که را تو لشی سبا کلی　　چه مړه دی دی راغلی
دانور پاته دی که مړه شوه　　زه به څه وایم چه څه شوه
ته به څه وائې چه څنګه؟　　زه راغلی یم په منډه
زه راغلی یم په تپښته　　نه می توان و، نه می مپشته
ورونه پاته په میدان دی　　نه په غم د سود وزیان دی
دوی تابع د خپل افسر دی　　ننګیالی او براد ر دی
دوی به راشی هغه آن　　په ښه سر او په سامان

چه ئې راشی خپل پادشاه
هم غازیان و اړه سپاه»

په هم دې قسم ښاغلی زمریالی داقصه وپای ته رسوی. ددې مړمنی نور حالات راته نه دی معلوم. خو یوازی ددې قصې له رویه ئې پېژنو اولوستو نکوته ئې هم په ددې پورته واقعه سره معرفه کوو.

د «عینو کاریز» دقندهار دښارو شرقی خواته یو رباط قدرلیری پروت دی.

غ

غازی ادې

دایوه مړنۍ او پښتنه مېړ من ده چه د (غازی ادې) په نامه پېژنو اودکابل په‌شاو خوا کښې اوسېدله.

په‌دې مېړمنۍ کښې دقیادت روح ښه ځلېده، اولکه اروپدلی چه می دی دغزا په کال ئې په ډېرو جنګو کښې شرکت کړی دی- اوپه څوځایو کښې ئې په‌مړانه غلیمانوته ماتې ورکړې ده.

وایی: چه داغازی ادې‌دلو ګړوه، کم وخت چه کابل محاصره شوی و، دپښتنو لښکر دلمر ختو له‌خوا هجوم راووړ، په دې لښکر کښې څو ښځی دپرستاری دپاره هم‌وې، چه‌هر غازی زلمی به‌زخمی اوتپی شو، نودوی به ئې دارو درمل اوپر ستاری کوله، سخت جنګ جاری‌و، دپښتنو بیرغ والا چه ملی بیرغ ئې پراوزه اخیستی‌و، شهیدشو، لښکرنژدی‌و، چه‌ماتې وکړی، مګر ددې ښځوله‌منځه یوه‌راغله اودپښتنو ملی‌بیرغ ئې پراوزه جګ کړ او پرلښکر ئې‌زغ کړه:

«ناسی دپښتنو مندو شیدې رودلې دی ـ ماتې ونه کړیء ـ!»

اوپخپله پرغلیم‌مخا مخ ورغله، دپښتنو زلمیانـو وینی هم په‌جوش راغلی اوپه‌یوه سلائې حمله وکړه غلیم ئې له‌هغه ځایه‌چه‌و، مات کړ.

دانښځه چه دپښتنو ملی بیرغ‌ئې پورته کړ همدا «غازی ادې» وه، چه‌له هغې ورځی وروسته ئې دالقب وګاڼه.

متأسفانه ددې نور حالات لاس ته‌را نغله.

ف

مېرمن فاطمهٔ خراسانی

دافغانستان یوه باعفته شاعره مېرمن فاطمه‌ده، چه‌نوم اوتخلص ئې یودی. دادبیاتو سرهٔ ئې ډېره مینه درلوده. طبع ئې روانه اوخوږه ښکاریږی ښه‌ښه اشعارئې ویل، مگر متأسفانه چه‌یوازې دادوې رباعی‌ئې په‌تذکرهٔ حسینی کښې ذکرشوی اولاس ته‌راغلی‌دی. نورآثار ئې ورک دی.

د کلام نمونه :

ای‌از تو وفاو مهربانی نایاب
بی‌وصل‌تو لذت اززندگانی‌نایاب

وصل توحیات جاودانی لیکن
مانند آب زندگانی نایاب

* * *

آراستهٔ باغو عندلیبان سرمست
یاران‌همه ازنشاط گل باده‌پرست

اسباب فراغت همه درهم زده‌است
بشتاب‌که خیرتوهرچه‌می‌بایدهست

* * *

فتح خان مور

فتح خان داسلم خان زوی یه‌قوم بړیځی چه‌دقندهار په کلا «بست» کښې اوسیده. چه‌د(۶۰) تنو همزولو سره دهند فتح ته‌ولاړ اوهلته‌ئې دمغلو سره سخت جنګونه وکړه.

ددەمور یوه پښتنه مېرمن وه اوددې مېرمنې ژوند د(۹۰۰ھ) په شاوخوا کښې تخمین کېدلای شي،دې پښتنې مورهم دفتح خان په داستان کښې شرکت کړی اوددې دخولې ناري په عامو پښتنو کښې شهرت لری. چه دلتهئې څو ناري راوړو : (۱)

(۱)

فتح خان چه دهندولورته تیء دمورئې نه وه خوښه اوځوتنه دبرېښو سپین زیرئې دمر کې په توګه وروا ستول. مګرمر که چه ولاړه پرفتح خان ئې اثرونه کړاولارئې لاهم وروښووله، نو دفتح خان مور داحال داسی تصویروی : ـ

« اور دی ګډسی ګډ سی دبرېښو په سپین زیرو-
مرورئې پخلا نه کړ،لادلاسه ورښیئی پردی ملکو نه »

(۲)

چه فتح خان رهی شو، نومورئې پررابیا چه دفتح خان نجلا اومعشوقه ده داسی ناره کوی :

« که بلبلی اې را بیا ، را بیا ژیړی بلبلی ! . . . .
فتح ځی دهندولورته ، په جلوئې لګوه دواړی منګولی »

(۳)

فتح خان چه ولاړ، مورئې دښار په دروازه کی ناري وهلې اوخپل دژړا کیفیت داسی بیانوی :

« که دوې دی کلا بس ، کلا بس دروازې دوې دی . . .
پریوه ئې فتح ووت پردابله ئی دمورسوی ناري دی »

---

(۱) پښتانه شعرا ج ۱ .

مېرمن فردوس «مطربه»

حمدالله مستوفی په تاریخ ګزیده کښې خورالنډ ددې مېرمنی بیان او حال او اشعار راوړی دی او په دغو نیمګیو کتفا کړېده وایي: کم وخت چه سلطان محمد خوارزمشاه پرغور بری وموند دې مېرمنی ددې حال موافق له خپله نازك خیاله داسی رباعی ویلې ده:-

شاها زتو غوری بلبا سات بجست — مانندهٔ چوزه از کف فات بجست
از اسپ پیاده گشت ورخ پنهان کرد — فیلان بتو شاه دادوازمات بجست

نور ددې ځای او اصلیت پوره څرګند نشو.

* * *

مېرمن فصیحه

مېرمن فصیحه دهرات له پرده نشینانو مېرمنو څخه ده، او دا تخلص دیوې عفت مآبی شاعرې دی، چه دشاه عباس په زمانه کښې ئې شعر وایه (۱) او دحبیب الله نامی ماندینه وه په آخر کښې نېه بدایه اومتمو له مېرمن شوه. چه دا کبر پاچا په وخت و کښې هندوستان ته دتجارت دپاره ولاړه، (۲)

دالاندی څلور بیځی ددې دی:

دیګر نه زغم نه از جنون خواهم خفت
نی ازدل غم دیده بخون خواهم خفت

زینګونه به بست نرګست خواب مرا
در ګور بحیرتم که چون خواهم خفت

* * *

روزی که بخوان وصل مهمان ګشتم
شرمنده زانتظار هجران ګشتم

زان چشمهٔ حیوان که کشیدم آبی
اززندګی خویش پشیمان ګشتم

---

(۱) تذکرة الخواتین. (۲) مشاهیر النسوان.

ق

مېرمن قندهاری

مېرمن قندهاری دمظفر حسین میرزا لورده، چه ددې پلار څه وخت دقندهار دعلاقې حکومت له شاه طهماسپ څخه واخیست. او بیائې مغلی شاهانو ته داحکومت حواله کړ.

په ۱۰۱۹ هـ کال چه مظفر حسین خپله لور و شهزاده خورم ته واده کړه دهند دشاهنشاه له خوادې نجلی ته «دقندهاری بېگم» خطاب ورکړه شو.

دامېرمن ډېره ذکی او پوهه مېرمن وه په آګره کښې ددې په نامه «قندهاری باغ» مشهور دی چه دې مېرمنې جوړ کړی دی. او په هم دې باغ کښې ښخه ده او مدفن ئې دی. (۱)

په ۱۰۲۰ هـ کال دمېرمن قندهاری یوه لور «پرهېز بانو» پیدا شوه چه دشاهجهان ترټولو مشره لوروه،

(۱) مشاهیر النسوان - ٤٤٥ مخ.

ك

مېرمن کنیز فاطمه

مېرمن کنیز فاطمه د شاه سلیمان کابلی مور وه ، دا مېرمن ښه شاعره وه مګر ددې دژوند نور حالات راته هیڅ معلوم نه شول .

یوازی تذکرة الخواتین د امېرمن ذکر کړې ده او فقط یو شعر ئې دنمونې او ددې دمعرفی ډپاره راوړی دی چه دلته ئې هم هغه شعر لاندی وړاندی کوو :

سزد که فخر برد آسمان به دورانم
کنیز فاطمه (رض) و مادر سلیمانم

گ

میرمن گل بشره

گل‌بشره دیوه مشرخان لور وه چه له کوچنیوالی ئې دملاعباس سره چه په «طالب» مشهورو، مینه درلوده اودې دوارو پریوه معلم درس سره وایه.

ددې میرمنې ځای اومسکن پوره معلوم نه‌دی خو افسانه‌ئې په پښتنو کښې بیخی ډیر شهرت لری.

گل‌بشره یوه پښتنه نجلۍ اوشاعره وه، چه دخپل محبوب سره ئې ډیرې بدلی اولنډۍ ویلی دی.

کم وخت چه دانجلۍ پېغله شوه پلار له معلمه څخه منع کړه اود «طالب» له‌دیداره محرومه شوه.

ددې میرمنې افسانه له طالب‌جان سره یوازی دیوې سوځوونکی مینی افسانه ده چه په پای کښې دوارې ناکامه له دنیاتللی‌دی.

اوس ددې میرمنې‌داشعارو څو نمونې‌راوړو.

(۱)

ددې میرمنی اشعار ټول دلنډیو پروزن ویل کېږی او کله کله پښتنې احساسات هم له مینی سره گډ وی، مثلاً کم وخت چه ددې پلار دخپل‌لور په‌مینه خبرشو نو «طالب» او گل‌بشره‌ئې درارې بندیان کړه، په‌دې وخت کښې چه‌دوارې جیلخانې‌ته‌ښول میرمن گل‌بشرې نارې پرو کړه.

سبا می ستا پر تهمت و ژ نی
چه درشتیا پرځای منکر نشې مینه!

طالب په جواب کښې ورته وایی:

یا به می ستا یاری یاری وی
یا به می سر دغرغرې شمال وهینه

(۲)

بل وخت دمحبوب په بیلتون کښې داسې فریاد کوی :

طـالبـان ر اغله د لی د لـی ...

زمادزړه طالب رانه غیږ وبه مرمه!

(۳)

بل ځای طالب ته داسې خطاب کوی :

راسـه زمـا دپلا ر طـالب سه ...

تر مطوله بـه دی زه ورسـومـه !

دطالب ځواب :

خا وری به ستادپلار طالب شم ...

زه مطول اوخیالی دوا ړه لولومه (۱)

دپورته لنډی ځخه ښکـاریږی چه مېرمن گل بشري مطول هم لوستې و چه له دې ځخه ددې دعلم ا و تحصیل لوړه اندازه ښه ځر گندیږی .

یاداسې نوری لنډی چه دې مېرمنې ویلی بیخی ډیری دی .

* * *

مېرمن گوهر کابلی

مېرمن گوهره دیوه کابلی رساله دار لوروه .

هغه وخت چه دسدوزو اوبا رك زیو ځینی قبیلې له کابله هندوستان ته تلې ، داپښتنه میرمن هم ورسره وه .چه څوك وایی په امرتسر کښې اود « ماه در خشان » مصنف وایی په لود هیانه کښې او سید له ددې ژوند په ۱۲۹۲ ه کښې یقینی دی (۲) دې مېرمنې په پښتو او فا رسی شعر وایه ، په تیره بیا په اردو کښې ئې خاص مهارت موندلی و .

---

(۱) مطول شرحه د تلخیص المفتاح په علم معانی او بیان کښې دی او خیالی حاشیه د شرح عقاید ده

(۲) مشاهیر النسوان ٤٨٧ مخ

مگر متأسفانه چه‌پښتو اوپارسی اشعار ئی په‌لاس رانغله اوځواردو اشعار چه تذکرة الخواتین قید کړي دی د نمونی په‌ډول راوړو :

ستم کر جور کر جفا کر پرای ظالم کبهی مجهسی ملا کر
لجا کر شرم کها کر مسکرا کر دیا بوسه مگر کچهه‌منه بنا کر

* * *

ترجمه :- ستم کوه جور کوه جفا کوه - خو بیاهم کله کله ر ا سر ه یوځای کیږه !- په نخرو نخرو ترشاولاړ شه و خانده !
مچه‌را کړه . خوله‌په‌خندا راته‌جوړه کړه . . . !

* * *

همارې دل مین هی تصو یرجانان جو چاها د یکهه لی گردن جهه کا کر
مچل جا ینگی طفل ا شك میر ی نه حاصل‌هو گا کچه‌مجه کو رولا کر

* * *

ترجمه :- زما په زړه کښې دجانان تصویر دی -
که‌څوك غواړي چه‌وئی وینی ' سردی تیت کړی ...
زماداوښکوهلك که وغورځی‌اوو بهیږی- نو ناته‌به‌زما له‌ژړا څه‌حاصل‌شی ...!

* * *

آپ کی جا ن نثا رهم بهی هی عا شق د لفگا ر هم بهی هی
زا هدوں هم سی کیون تنفرهی صنعت کر د گا ر هم بهی هی
امتحان و فا تو هووی گا تم بهی هوا ' وریار هم بهی هی
درد کهتاهی مجهه سی غربت می تم نه گهبرأ و یا ر هم بهی هی

* * *

ترجمه :- زمونږ ځان هم‌ترتاقربان دی- هم‌مونږستازړه‌چاودی‌مینان یو ...
زاهدان‌ولی‌له مونږه متنفر دی؟ مونږهم دلوی‌خدای‌صنعت یو ...

دوفا دا متحان وخت به را شی . . .

تاسی به هم یاست او مو نږ به هم یو !

په غربت کښې زما درد راته وایی : ـ

« ته، مه ویرپږه ! زه ستا ملګری یم ! »

* * *

بس او تهه ګئی رسم دل لګی کی روئې وه جوبات کی هنسی کی

چهلنی داغون سی دل هی « ګوهر » انګیا ملی هم کو سو زنی کی

* * *

ترجمه : دتو کو او مسخرو و خت تپر شو . .

اوس دی هغه ژاړی چه دخندا خبری کوی !

« د ګوهر » پرزړه داغونه دی . .

هو، انګیارا کړه شوه، مګر سوز نی !

* * *

مېرمن ګوهر شباده (۱)

مېرمن ګوهر شباده یوه باتدبیره، هوښیاره ملکه وه، چه دشاه رخ ماندینه او دامیرغیاث الدین نامی لوروه؛ چه پلار ئې دیوې قبیلی مشر او د « امیر » خطاب ئې وړی و .

ددې مېرمنې دتولداو ازدواج تاریخ معلوم نه دی خودو مره سړی قیاس کولای شی چه ددې مېرمنی زېږیده به د (۷۸۰ ـ او ۷۸۵ ه) په منځ کښې و، او ازدواج به ئې د (۷۹۵ ـ او ۸۰۰ ه) ترمنځ وی ځکه چه شاه رخ په ۷۷۸ یا ۷۷۹ ه کال زېږیدلی (۲) او په ۸۰۷ ه کال په هرات کښې پر تخت

---

(۱) ددې مېرمنی دسوانح اکثری برخی دښاغلی نعیمی له مقالی څخه اخستی شوی دی چه د آریانا دمجلی ددوم کال په ٤ ګڼه کښې نشر شوې ده. (۲) روضة الصفای ناصری ـ تالیف هدایت. اولب التواریخ یحیی قزوینی .

کښېنا ستلې دی نو په دې حساب باید دامېر من ترشاهرخ چه مېر ه ئې د ی څو کاله کشر ه و ی.

څنګه چه دتاریخ څخه څر ګند ېږی دمېر من ګوهر ښاد ی پلا ر ګنې دشاه رخ دتېرسره ګوراوسیال او کفونه وه، بلکه ددې مېرمنې پلار دترخانیا نو امیر (مشر) و، اوشاه رخ دتیموریانو له تېره و، تیموریانواو ترخا نیانو یو له بله له پخوا څخه بدسره وېره او له همدې سببه دوی مجبوره وه چه دیوبل د اطمینان دپاره ښځې سره وز کړی او په همدې اثر تیمور دحسین صوفی لور «خانزاده» دخپل زوی جهانګیر دپاره وغوښتله، اوداچه مېرمن ګوهرښاده هم دتیموریا نو کاله ته راغله ددواړو خواو، اطمینان او دوستی لاسره تینګه شوه.

دمېرمن ګوهر ښاد ی شخصیت!

مېرمن ګوهرښاده دافغانستان یوه هوښیاره اوعلم پالونکې ملکه وه دهمدې ترقی غوښتونکې ملکې له بر کته و، چه دشاهرخ په زمانه کښې علم او هنر لوړی درجې ته ورسید ـ مېرمن ګوهرښاد ی دشعراوادب سره ډېره مینه درلوده اودائې خو ښه وه چه دښځو شاعروسره صحبتونه و کړی اوددوی بدلوته غوږونیسی. له همدی کبله مېرمن مهری هروی (چه ددې کتاب په خپل ردیف کښې به معرفی شی) دملکی ګوهرښادی ملګرې او ندیمه وه، دې ملکی دهنراو معارف په ترقی کښې ډېرزیار یوست. دعلماواو پوهانو په روزنه کښې ئې ښه کوښښ کاوه چه له همدی جهته ئې ددې کار دپاره یوه لویه مدرسه جوړه کړه اودهرات لوی مدرسان ئې په کښې مقرر کړه چه په عمومی تربیه او تعلیم کښې زیار وباسی ـ دامدرسه ئې د ګوهرښاد مېرمنې مدرسه وبلله (۱) دمېرمن ګوهرښادی شهرت ترازدواج وروسته شروع کېږی اودامېرمن به همیشه دشاهرخ سره په اکثروسفرو کښې ملګرې وه اوپه کشوری چارو کښې ددې رای پوره دخالت در لود. دولتشاه سمرقندی یخپله تذکره

(۱) دمعارفو د تاریخ کتاب.

کښې لیکی چه کم وخت چه شاهرخ دعراق او آذربایجان خوانه ولاړ مېرمن گوهرښاده هم ورسره وه ـ اوشاهرخ ددې په‌مشوره شاه علاوالدین اوخواجه فضل‌الدین ترکه اونور چه‌داصفهان له‌غټانو څخه وه اودسلطان‌محمد په واقعه کښې‌ئې شرکت کړی‌و ، په سزاورسول (۱) گوهرښادی دخپل‌مېړه ترمرګ وروسته هم ډېر عزت اواقتدار درلود اودحکومت غټانو هر کله ددې مېرمنی څخه مشورة غوښتله . دروضة‌الصفا مؤلف دسلطان ابوسعید میرزا دزمانې په وقایعو کښې چه هغه دمیرزا سلطان محمد زوی اودمیر زا میرانشاه لمسی او دجهانګیر دتیمور دزوی ګړوسی‌ر و اوداواقعی دمیرزا بابر ترمرګ وروسته پېښې‌شوی وې اومیرزا ابراهیم دمیرزااعلاوالدوله‌زوی چه‌هغه‌د بایسنغر لمسی اودمیرزاشاه‌محمود چه‌دمیرزا بابرزوی اودبایسنغردلمسی‌سره په‌جګړه اخته و دمېرمن گوهرښادی‌دنفوذ او نظریې تاثیرددې دووشهزاده ګانو په‌جګړه کښې داسی ښکېلې اولیکی «مفصل این‌مجمل آنکه درائنای این احوال که‌مسطورشد پیوسته خبر میرسید که سپاه بسیارهمه جوشن پوش ونیزه ګذار درظل اعلام ظفرفرجام میرزا ابراهیم‌جمع‌شده‌اند وشهزاده خیال‌سلطنت‌ایران‌دارد ودر ان آوان اختیار مملکت میرزا شاه محمود به قبضهٔ اختیار امیر شیر حاجی بود ترخانیان وامیرنظام‌الدین احمد باامیرشیرحاجی درباب‌صلاح این دوشهزاده مشورت‌کردندوبران اتفاق‌نمودندکه‌هرچه‌رای‌صواب‌نمای مهدعلیا گوهرشادآغا اقتضافرمایند بدان عمل‌نمایند ومزاج آن‌حضرت مایل بدان بود که‌میان آن دوقرة‌العین سلطنت صلح واقع شود وجهت انجام این ترکانشاه که‌ازمعتمدان مهدعلیابود عزیمت مرغاب نموده وازمجموع امر امکا تبات برد . (۲) » له‌دې څخه څرګندېږی چه‌دې مېرمنی څومره اقتدار اونفوذ په‌خلقو کښې‌درلود .

(۱) آریانا مجله ـ ٤ ګڼه دوهم کال ۲۳ مخ ـ تذکرهٔ دولتشاهی سمرقندی ۱٤۹مخ .
(۲) دآریاناَ مجله خلورمه ګڼه دوهم کال ۲۳ مخ .

دمپرمن گوهرښادی ودانی او عمارات:

اول مدرسه : ددې مدرسې خښته چه دمخه موهم وليکله په ۸۲۰ هجری کال دمعارفو دتعميم او ترويج او دعلماو او پوهانو دروزنې په نيت په هرات کښې دمپرمن گوهرښادی په امر کښې ښودله شوه . «رابرت برون» وايی : چه دامدرسه اومصلا په شل کاله کښې وډانه شوه يعنی په ۸۴۱ هجری کال کښې ئې ودانی پای ته ورسيده (۱) ددې مدرسی د جوړولو دپاره ئې ډېری پيسی خرڅی کړې او دمملکت له هرڅايه ئې معماران ، کاشی کاران ، خط کشان او نقاشان راوغوښتل دامدرسه په هغه وخت کښې دآسيا دعلم مرکز بلل کيده او هرڅوک به دعلم او کمال دتحصيل دپاره هرات ته راتلل ددې مدرسې گنبذه ، ديوالونه او مناري اوروا قونه په رنگارنگ اوډول ډول نقاشيو نقاشی شوی دی . ددې ملکې ددې لويی مدرسی ارخ ته يوه بله گنبده په ډېر ښکلی توب دخپل ځان او مپره اوزامنو دښخيدلو دپاره جوړه کړه . يوه دمرمړ ډبره چه ددې مدرسی دودانی کتيبه بلله کېږی اودجعفر جلال هروی چه دهرات مشهوره خطاط دی په جلی خط ليکلې شوې ده اواوس دهرات په موزه کښې شته ددې مپرمنی داسې يادونه پری باندی شوې ده : (۲)

«بميا من فيض ربانی ومساعدت تائيد سبحانی اين عمارت رفيع البنيان شامخ الاركان که قواعد معاقدش در روز قدر سنه عشرين و ثمانيه مأته (۸۲۰) تمهيد يافته بود ودرايام دولت حضرت خلافت پناه السلطان بن السلطان معين السلطنة دنيای والدين معز الاسلام ومن عبة المسلمين شاه رخ بهادر خلدالله تعالی ملکه وسلطانه از آثار مساعی مشکوره وخالص مال عليا حضرت مهدعليا عصمت الدنيای والدين گوهرشاد آغا بنت اميرالکبير غياث الدين خان

(۱) دآريانا مجله ۱۲ گڼه لمړی کال ـ روضة الصفا دکابل دموزې قلمی نسخه .
(۲) دهرات ادبی مجله ـ دريم کال ۶۸۰ مخ .

خلد دولتها اتمام یافت فی‌سنه احدا وار بعین وثمانیه مأئه (۸٤۱) کتبه جعفر جلال» .

که څه‌هم اوس‌دامدرسه ورانه‌شوې‌ده مګر څومناري‌ئې پاته‌دی چه‌ښایسته اولا جور دی کاشی کاری‌ئې انسان حیرانوی . اودهغه وخت دبنا دعظمت او شکوه ښه نمایندګی کوی . ددې مدرسې مناري تر‌ټولو مناروړی دی او غالباً دیوسل وشل اویوسل وپنځوس فټو په حدودو کښې لوړی دی .

کمه ګنبده چه دې مهرمنی دلځان اوشاهرخ میرزا دښخېدودیاره جوړه کړی وه، تراوسه دهغی‌مدرسی‌ارخ ته‌یه‌ډېر زاړه اوبدحال ولاړه‌ده دا ګنبد، ئی‌په‌ډېر ښکلیتوب ودانه کړه مګر نه‌داپکښې ښخه شوه‌اونه‌شاهرخ . که څه هم‌شاهرخ‌ئی دلته‌ښخ کړ، مګر الغ‌بیګ‌میرزا‌ترڅه‌مدې وروسته دهغه تابوت‌سمرقندته‌یووړ.

دوهم دمهرمن ګوهرښادی مسجد :

بل‌لځای‌چه‌دې ملکی‌ودان کړی‌دی‌اودتیموریانو دوخت دمعماری‌ډ‌ا وذوق ښکلې نمونه او خورا ښه نمایندګی کوی د« ګوهر ښادی‌مسجد» په‌مشهد کښې. دې، چه‌لځینو باستان شناسانو ددنیادد وولسو عالی ترینو و دانیو څخه یو دغه مسجد شمېرلی دی (۱) ددې مسجد ودانی په ۸۲۱ هـ کال تردوولسو کالو کارورو‌سته پای ته ورسیدله . (۲)

ددی‌مسجد اوزدوالی له‌جنوبه ترشماله تقریباً ۵۳ ګزه‌دی اوپسورئی ۸٤ ګزه رالځی .

دامسجد څلور خواوته څلور ایوانونه‌لری چه‌دیوه ایوان پرمخ په‌یوه کتیبه کښې ددې مهر منی نوم داسی لیکلی شوې دی .

«قدانشأت هذالمسجد الجامع الاعظم والبیت‌المحرم فی‌ایام دولت السلطان

---

(۱)(۲) دآریانا مجله ـ ٤ ګڼه دوهم کال ـ ۳۳مخ ـ

د، تاریخ صنایع ایران د کریستی ویلسن په حواله .

المعظم والخاقان الاعدل الاكرم مولى ملوك العرب والعجم السلطان بن السلطان ابو المظفر شاهرخ بن امیرتیمور کورگانی بهادرخان خلدالله ملکه وسلطانه وافاض علی العالمین بره وعدله واحسانه الحفرة العلیا وجلیلة الکبرا شمس سماء العفة والسداد الموصوفه بالشرف والعزوالرشاد گوهرشاد ابدت عظمتها ودامت عصمتها وکثرت برکاتها بالنیة الصادقة القصوی والعقیدة الراسخه العظمی لحصول المأمول راجیة من الله باحسن القبول من عین مالها و اصلاح بالها یوم تجزی کل نفس اعمالها ، ابتغاءً لوجه الله »

علاوه پردې ئې دحضرت رضا (رض) د گنبدی دوه رواقونه جنوبی اوغربی هم دې مېرمنی ودان کړی دی .

دمېرمن گوهرشادی مرگ :

دشاهرخ میرزا ترمرگ وروسته دتیمور یانوپه تېر کښې کورنی اختلافات پېښ شول، څوچه په ۸۵۵ه کال میرزا سلطان ابوسعید له میرزا عبدالله سره په جنگ وښت اومیرزا عبدالله ئې مرکړ. تر ۸۶۱ پورې ئې برسمرقند حکومت وکاوه اووروسته ترهغه میرزابابر په مشهد کښې وفات شواوپه خراسان کښې ښه هرج ومرج پېښ شو اوهم لکه دمخه چه مواشاره وکړه میرزا ابراهیم له میرزا شاه محمود سره نښتې و، میرزا سلطان ابو سعید له ماوراءالنهر څخه دخراسان دتسخیر په نیت وخوځید دآموتر اوبورا تېرشو هرات ئې ونیو اومېرمن گوهرشاده ئې بندی کړه، څنگه چه ئې نشوای کولای چه ددې مېرمنی په ژوندخپل نفوذ قائم کړی اوله بلی خوادامیرشیرحاجی دمیرزاشاه محمود له وزیره ئې هم څنگ ربړ دید، مجبوره شو چه دامېرمن له منځه وباسی ، کم وخت چه ئې امیرشیرحاجی ته استازی (قاصد) واستاوه هغه هم احوال ورته راولیږه چه څوچه گوهرشاده ژوندی وی دده راتگ هرات ته غیرممکن دی اودروضة الصفا لیکونکی داقضیه داسی لیکی: «سلطان ابوسعید ایلچی بقلعهٔ «ترتو» ارسال

نموده امیرشیرحاجی راطلب‌داشت ومشارالیه‌ازقلعه خبر فرستاد تا گوهر شاد آغا درهرات باشد آمدن این بنده بد انجا ممکن نیست ، چه باو جود قتل ترخانیان وحیات میرزا ابراهیم ازاو چگونه ایمن توان‌بود. فی‌الجمله‌سلطان ابو سعید در ۹ رمضان بافساد مفسدان آن بلقیس‌زمان را که‌منبع خیرات ومنشأ مبرات‌بود بقتل‌رسانید واین‌مختصر گنجایش شرح وبسط‌مکارم اخلاق‌ومحاسن صفات آن‌بانوی عظمی ندارد . .»

نو په‌دې صورت دامپرمن دروژې پر ۹ په ۸۶۱ هجری کال له دنیا ولاړه اودسلطان ابوسعید په‌بې‌رحمه لاس‌مړه‌شوه‌اوترڅه مدې وروسته ددې مپرمنی مړنی لمسی‌یعنی میرزا یادګار محمد دخپلی مړنۍ اناانتقام‌واخیست اودرجب په ۲۲ په ۸۷۳ ه کال‌ئې سلطان ابوسعید دخپلې اناپه قصاص کښې مړ کړ . مولاناجلال‌الدین‌محمددوانی‌دده دمرګ‌په تاریخ کښې‌داسی‌شعرونه ویلی‌دی : ـ

سلطان ابو سعید که‌درفر خسر وی　　چشم سپهر پیر جوانی چواو ندید
الحق‌چگونه کشته نگشتی که کشته‌بود　　بانوی دهررا که بسی خیرازو رسید
تاریخ اگر کسی طلبددرزمان بگوی　　تاریخ، سال مقتل سلطان ابو سعید

دمپرمن گوهر شادی‌قبر دهرات‌په « کهسان » کښې‌دی چه‌۳۵ کروه دهرات دښارغربی‌خواته اسلام قلعه ته نژدې پروت دی .

ددې مپرمنی اولاد :

مپرمن گوهرشادی دریې زامن درلوده :

۱ : ـ الغ‌بیګ میرزا چه‌دیکشنبی په ورځ دجمادی‌الاول په ۱۹ په ۷۹۶ دسمرقند دسلطانیه په کلا کښې وزیږید .

۲ : ـ میرزا بایسنغر چه دجمعی په شپه د ذی حجی په ۲۱ په ۷۹۹ ه زیږیدلی دی .

۳ : ـ میرزا محمدجوګی چه‌دپلار په‌ژوند په ۸۴۸ ه کال په ۴۳ کلنی وفات شوی دی .

مېرمن گوشا (۱)

دامېرمن دويدی دعصر مشهوره شاعره ده ـ چه ددې دژوندعصر د ۲۰۰۰ ـ او ۱۰۰۰ ق ـ م په منځ کښې باله شوی دی ـ (۲)

دامېرمن دخپل عصر مشهوره اوډېره نامتو شاعره وه، ددې اشعار در یگوید په لمړی کتاب او ۱۱۷ نمره کښې اودلسم کتاب په ۳۹ او ٤۰ نمره کښې ثبت شوی دی چه دلته ئې یو شعر دنمونې په توګه راوړو :

«اې دسهار ستورو! (۳) ستاسی ګاډی ـ چه ترخیال ډېره تیزه ده، هغه ګاډی ـ چه تیز او غښتلی آسان ئې کشوی دخلکو خوا ته ځغلی . . .

دپاکانو دتاتوبی دموندلو دپاره چیری ځیء ؟

اې غښتلو پهلوانانو! دلته زمونږ کره راشیء!

اې دعجیبو کارنامو خاوندانو! تاسی «وندانا» راویوست، ددې دپاره چه دبری اوبرم اودبدبی څښتن شی ـ دی دپاکو زړوپه څېرښځو، دی دهغه چاپه شان چه دتباهی ـ اوفنا په غېږ کښې پروت وی بیده و، دی ځلانده لمرو، خوپه تورتم کښې پټ و . . .

اې دسهار ستورو! تاسی پخپل لوی قوت اوغښتلی مټ هغه پخوانی مېړه «شیاوانا» دزلمیتوب غېږی ته وسپاره ...

تاسی اې «ناستایا»! خپله ګاډی ـ و ګماری ـ چه دلمر لور، سره دهغی له عظمة پورته کړی .

تاسی اې هغو کسانو چه تل زلمیان یاست، دخپل زاړه دودپه اثر مو «تورګا» په یادکړ او خپل دغنمو په آسانو موچه په ډېرو تیزو وزرو الوزی «بهوجیو» دخپان سیند څخه راویوست .

---

(۱) Ghocha (۲) دآریانا مجله ـ ۱۹ مخ ـ ٦ شماره

(۳) اسون (Asvins)

اې دعجیبو کار ناموخاوندانو! تاسې مځکه شدیاره کړه اواوربشی موو کړلې انسان ته مودغذاشیره ور کړه. «داسیو» موپخپله کرناله منځه واخیست. لیری موو غورځاوه او «آریا» ته موپراخه رنا اوروښنائی ور کړه، چه هری خواته خپره شوله...

اې بناغلو! زه له تاسی څخه مرسته غواړم. اې ستورو! زما درخواست ته دمهربانی په ستر گو و گورئ.

اې «ناساتیاسو!» ماته دپره بدائی اوتمول را کړئ چه زمونږ د کو چنیانو ماشومانو په ښه ورشی. ستاسی هغه لویی اودزړور توبه د کی کارنامې چه په پخوانیو دورو کښې مواجرا کړی دی هرچاته څرگنده دی- نوتاسی ته هیله لرم: چه اې دلوی واك را کښنو! غواړم چه زما دعا گانی هغه وخت تاسی ته وړاندی شی چه شاوخوا ته می زړه وراو توریالی زامن ولاړ اورابا ندی ټول وی.

زه «سوما» ته خطاب کوم چه ترټولو ماته نژدې اوځاې ئې زما په روح کښې دی خواست کوم چه زما ټول گناهونه راوبخښی ..

انسان له هیلو او آرزو گانو ډك دی- همدارنگه «اگاستیا» دخپلو آرزو گانو په لار کښې زیارباسی- دده آرزو چه خپل دزامنو دپاره بدائی او ثروت موندل دی خورا شدیده ده!»

ل

مېرمن لاله

مېرمن لاله یا «لاله خاتون» یوه مېړه مخې ښځه وه، چه یوو خت په خراسان کښې حاکمه وه (۱)

خو راعدل او انصاف ئې درلود، دحکومت انتظام ئې په ښه صورت کاوه.

په خپله هم ښه عالمه او فاضله مېرمن وه، داهل علمو خلکو ئې دېر قدر کاوه او په ښه سلوك او درنه ستر گه ئې دوی ته کاته.

ښه اشعار ئې ویل مگر له بده مرغه دغه لاندی یو مطلع ئې په لاس را غلې دی دنورو آثارو معلومات ئې راسره نشته.

مطلع

دوست جائی دیگر و من مانده‌ام در کوی دوست
از درو دیوار کوی دوست آید بوی دوست

❀ ❀ ❀

لویه ادې

لویه ادې دبار کزی «کلان خان» لور او دمنصور خان چه دفتح خان په وختو کښې دقندهار دشگی (ریگستان) حاکم و، او اوس هم هغه ځای ته نژدې یوه غونډی د «منصور غونډی» په نامه شته.

دامېرمن دپښتو ن جنرال وزیر فتح خان چه دمحمدزو د کورنۍ مؤسس دی پښتنه موروه چه پښتانه ملت ته ئی یو داسی له غیرت او پښتنی احساسا تو ډك زوی وراندی کړی دی چه دتور یالیتوب په اثر دهر پښتون زړه ته و رتیر اوستر گی ئی په پورته دی.

---

(۱) تذکرة الخواتین.

دا پښتنه ادې علاوه پر هغه چه زوی ته ئې په خپلو پا کو شپډو کښې د پښتنو والی اووطن دوستۍ در س ور کـاو ه ، پخپله ئې هم د يو ملی قا ئد په څير فکر درلود ا و خد متونه ئې کول .

هم داباعث و ، چه لکه اعليحضرت احمد شاه بابا چه د « بابا » اوزر غو نی اناد « انا » لقب ګټلی و ، دې مهرمنې هم د پښتنو په زړو کښې ځاې نيولی اوتول ملت دمور والی په حق ورته قائل شوی اودائی « لويه ادې » و بلله :

د دې مهرمنې نورحالات ماته پوره څر ګند نه شول خو هغه څه چه می د معتبرو اور شتينو خلکو د خو لوڅخه ا رويدلی دی ، هغه بايد دلته وليکم اوداهم بايد ووايم چه د دې مهر منې په نامه په ز مينداو ر اوسا د ات کښې ځينې ودا نۍ هم تراوسه مشهورې دی اوشته لـکه (دادې کلا) ـ (دادې واله) اونوری ودا نۍ ..

خلك وايی : کم وخت چه وزير فتح خان فرارو ، نويووخت په پټه کابل ته راغی ، اويوه « دوډی وا لا » ته ودريد ؛ دې دوډی والا (نانوا) چه به دوې دوډی له تنار ه څخه راويستلې پردريمی به ئې ويل : « دائی دادې ! » بيا چه به ئې دوې دوډی را و يستلی پردريمی به ئې ويل :ـ « دائی دادې ! »

وزير فتح خان پو ښتنه ځنی و کړه :ـ « چه ادې څوك ده ! »

هغه وويل :ـ « ادې لويه ادې ده چه د وزير فتح خان مورده » مقصد دادی چه لويه ادې دملت په زړه کښې دومره نژدې والی اوقرابت مينداى و ، چه نانوای لاهم دريمه دوډی ددې پنامه ور کو له .

بل نقل دی :ـ کم و خت چه وزير فتح خان دشاه محمود دزوی شهزا ده کامران له خوا ړ و ند شو اود غزنی په لاره کښې دشا ه محمود په تحريك تو کر تو کر شوی مړ شو ، نومورته ئې چاخبر راوړ ، لويه ادې چه خبره شوه ترهرڅه دمخه ئې دا پو ښتنه و کړه :ـ

(فتح چه ئې واژه ـ « آه ، اوواخ » يانورڅه بدحالی خوئې ته کوله ؟)

قاصد وويل : ـ « په ـ بالکل بې پر و اوه ! »

لويې ادې وويل:- «اوس مې نو خپلې شيدې ورپلې کړې دی !» ددې ډاجمله ديو عالم پښتنوالی اولوړ همتې نښه ده، چه دخپل زوی مرګ او نيمه خوا کيده ئې هېردی دمخه ترهرڅه دده «آه اوواخ» پوښتنه کوی. په دې ځای کښې دپښتو ن خوشحال خان سره په پښتنوالی کښې سمبېزی چه هغه هم دخپل زوی «نظام» په مرګ داسې مرثيه وايی !

کشکی ځوا ن د پښتا نه په ننګ کښې مړوای
نه چه ګو ر لر ه ر و ا ن شوله تلتـــکه !

دلوی ا ختر کيچړی

دمحمد زيو په کورو کښې چه هر ځای وی، دلوی اختر په ورځ ضرور اوهرو مرو کيچړی خوری، ددې کيچړی په فلسفه ځينې خبر نه دی اوتقليدی روان دی، اوځينې ئې داسې بيان کوی، وايی: - «دوزير فتح خان ترمرګ وروسته «لويې ادې» خپل نور تول زامن دلوی اختر په ورځ راتول کړه او کيچړی ئې پوخ کړی و، چه ترهمدې کيچړی خوړلو وروسته دوزير فتح خان دانتقام ا خيستلو په عزم تول ملاوی تړی اولويه ادې دپښتنوالی مراسم «دبره پښوول» پرځای کوی څوله دې ځايه څخه دمحمدزو د کورنۍ دسلالې تشکيل جوړېزی. او څو مده وروسته باچهی دسدوزو له کورنۍ څخه دمحمدزو کورنۍ ته رانقل کېږی.

ګوا کی دمحمدزو کورنۍ ته د باچهی در انقلولو محرکه او پاڅو ونکې «لويه ادې» بلله کېږی. اوس له هغې ورځې راهيسې محمدزی دتبرک دپاره په هر لوی اختر کيچړی پخوی اودا کيچړی د «لويې ادې کيچړی» بولی.

❀ ❀ ❀

مېر من لوپامودرا (۱)

لوپا مودرا دويدې عصر شاعره ده چه ددې داشعارو نمونه دريګويدا په لمړی کتاب اويوسل و نه اويا (۱۷۹) نمبر کښې راغلی دی- داسرودد ريګويدا

(۱) Lopamudra

دسرودو دترجمې له متنه چه «رالف. تی. ایچ- گریفت» - ترجمه کړی دی حذف شوی دی- اوضمیمی ته ئې اشاره کړیده. دسرودموضوع ویلای شو چه (راتی) یعنی مینه او عشق دی- دلوپا مو درادسرود ویونکی اوریشا گان اکستیا اویونفر شاعردی. لوپا مودرا دابنکاره کوی چه غواړی دخپل زاړه او سپین زېری مېړه عشق اومینه ځانته راجلب کړی اوده دبی پروائی او سړ والی څخه شکایت کوی. په دریم بند کښې اگستیا جواب ور کوی- دځلرم بند په نیمې کښې هغه شاعر چه دلته دمخه اشاره ورته و شوه اودریم سړی دی چه په دې خبر و کښې برخه اخلی داختصار په ډول دمیړه اوښځی مکالمه بیانوی- څنگه چه «ایم- بر گیگن» نظریه لری داسرود یوه مستیکی یعنی مرموزه ترجمه لری اودا گستیا څخه مرادسوماذی. سرود داسی شروع کېږی او دوینا شروع دلوپا مودرا له خوا څخه ده.

سرود (۱)

دخزان په ډېرو موسمو کښې می زحمت ایستلی اوخواری مې گاللی دی.

ورځې اوشپې می په دې زحمت اوخواری کښې دهغو سپېدو (۲) په منځ کښې تیرې شوې چه پر عمر باندی اغیزه کوی.

زوړوالی زمونږ جسمانی ښکلیتوب راکموی. پرېږده - چه میړونه هر کله اوډېر ډېر خپلو مېرمنو ته نژدې شی.

(۱) داسرودهم ښاغلی پژواك ددې کتاب دپاره له انگلیسی څخه په فارسی ترجمه کړی دی.

(۲) سپیده دم.

م

مېرمن مابی

مېرمن مابی یوه وفاداره پښتنه وه، چه دقند هارپه کشکنخود یاد فراه د «چرا» په کلو کښې اوسېدله چه تراوسه ئې د کلاوو پاته آثار په دغو ځایو کښې شته (۱).

دامېرمن دظریف خان نومی زلمی محبوبه اونجل (۲) وه، که څه هم ظریف خان د ډېرعمر له وطنه ورک و، اومابی پاتې وه، مګر مابی دده په عشق اومینه کښې رشتینی وه. اوترهغو پورې ئې له تولو رقیبانو څخه ځان وساته، څوچه ظریف خان بېرته راغی.

ظریف خان دخپل عصر دملوك الطوائفی مشهور خان اومشرو، ظریف خان دیلار په ژوند پر «مابی» نومې پېغلې مین و، اوپلا رهم دخپل زوی دپاره تاکلې وه!

خوچه دظریف خان پلار مړشو او آکائی «خدری» نومېده چه د ډېر بدسړی اوناوړه اخلاق ئې درلوده، خدری غوښته چه دظریف خان دمشرتوب اوخانی مقام ونیسی، اوسندته ئې په تجارت بوت، هلته ئې دهغه ځای باچاته دده نمامت وکړ اوظریف خان ئې هورې بندی پرېښود. خدری بېرته راغی ـ دظریف خان خور، اوورور او دده محبوبا «مابی» ئې په خوراخواری، آریانی اخته کړه.

په دې وخت کښې که ددې پښتنې مېرمنې تکالیف اوزحمتونه چه پر تېرېدل وستر کو ته ودروو، نود پښتنو نجنیو دعفت اووفا داری یوه مهمه نمونه ده چه پښتنې نجونې پرخپل عفت اووفاداری ترڅه اندازی ټینګی ولا ړی دی.

---

(۱) پښتانه شعرا (۱۲۱) مخ. (۲) نامزد.

ددې مېرمنې اوظریف خان ژوندتر (١٠٠٠ هـ) کاله پخوا تخمین کولای شو
څکه چه دوی د «ښادی خان» معاصر اوهغه خوتر (١٠٠٠ هـ) دمخه و، دظریف خان
افسانه په پښتنو کښې بېخې مشهوره ده اود پښتنو دډېرو مجلسو خوند
اورنها په هم دې ملی افسانې دی .

مېرمن مابی خورا خوږې اوله تأثیره د کی ناري لری چه دلته ئې دنمونې
په توګه څوناري راوړو :

(١)

هغه وخت چه دمابی ګران مین ظریف خان په سفر ولاړ دده په بېلتون
کښې ده واوښانو ته داسی خطاب کوی :

«اوښانو خوریء دااوزدې غاړی، دالوی ورنونه (١)
پرون لادامال (٢) ظریف دلې و، نن خومو تېر کیء تروتونه» .

(٢)

ظریف خان اوخد ری ولاړه، دهغې خوا بیرته دخد ری قافله راغله مابی
منتظره ده چه ظریف خان به هم ورسره وی نو داسی ناره کوی :

«ستر ګی مې ووتې، ظریف ته ګورم، پر دغه لاری ... .
که را ښکاره کړې دظریف خان وای داوښو غاړی» .

(٣)

چه کاروان رانژدی شو، مابی لکه لیونی ورغله او ناره ئې پرو کړه :

« کاروان باشی یې د کاروان سر دار یې ، د کاروان پرلمبر ولاړیې
خلك پوښتنه دسو زیان کړی، زه خو پوښتنه دظریف خان کړم»

(٤)

تر دې وروسته. چه مابی خدری یو ازی ولید، نوئی پرهغه داسی ناره و کړه :

« که توره توره خدریه توره ! راغلی مه وای دسند له لوره !
ښایسته ظریف دی څه کیء چه دی مل و، دخپله کوره ! »

---

(١) دالوی څټو نه (٢) مال مخفف د مهال دی .

(٥)

چه مابې دظریف خان له راتګه مایوسه شوه ، نوولاړه مخ ئې پر صحرا وئیو یوه هوسې ئې ولیده داسې د ارمان ناره ئې وکړه :

« که سپینې سپینې هوسیه سپینې د کومه راغلې اې شاهوسیه!
دغه کبلی به دې ښکاری وولی، داسې به ګرځې لکه مابیه »

(٦)

دظریف خان بیلتون پرمابې داسې اثر وکړ ، چه دلېونیو په شان به ئې ویل:

«زده زده یم ، خلګو زده یم ، سینه کبابه پراور پرته یم !
که په ظریف پسې مړه نشوم ټګه می بولۍ حرام زاده یم»

* * *

مېرمن ماه

مېرمن ماه دیو پ منجمې تخلص د ی چه د حضرت جا می چه په (۸۹۹ هـ کښې مړ دی) په زمانه کښې ئې ښه شهرت درلود اودهرا ت دجام په ښار کښې اوسیدله . (۱)

دامېرمن ښه شاعره وه ددې مېرمنې له آثار روڅخه یوبیت چه دمیړه په مرثیه کښې ئې ویلی دی لاس ته راغی هغه دا دی :

کوکب بختم که بو دا زو ی منو ر آسما ن
بنګر ای «مه» کزفراقت درزمین استاین زمان

* * *

مېرمن ماه ملکه

مېرمن مـا ه ملـکه د سلـطـا ن غـیا ث ا لدین لـو ر و ه ، چه لقب ئې «جلال الدنیا والدین» و. (۲)

---

(۱) مشاهیر النسوان - ۵۰۹ مخ (۲) طبقات ناصری - لمړی جز - ۸۵ مخ -

دامهرمن دسلطان علاء الدین جهان سوزدلور دنسه وه، چه دملك شجاع الدین ابی علی دزوی علاء الدین نجلوه (١) اوپه غور کښې اوسېد له په نیا ئست اوعفت کښې ئی ساری اونظیر نه در لود.

مهرمن ماه ملکه، خور اعالمه، فاضله، ښځه وه قرآن مجید ئی په یاد اوخطائی لکه در شهوار و، ښه لیکونکې (٢) اولوستو نکی وه.

منهاج السراج دطبقات ناصری لیکونکی دامهرمن دا سی ستائی:-

« ملکهٔ جهان. زبیدة العصر و الزمان، جلال الدنیا و الدین سلطان الملکات فی العالمین،» ماه ملکه «بنت السعید غیاث الدنیاوالدین.... » ددې مهرمنې ژوند په ٦٠٢ هـ کال کښې یقینی دی، ځکه چه منهاج السراج لیکی چه ما په دغه پورته سنه کښې دمولانا فخر الدین مبارکشاه نسبت نامه یعنی تذکره چه دنومیالیو باچهانو سلسله ئی په نظم کړې وه ددې ملکې په حرم کښې ولیده اودې مهرمنې را ښکاره کړه. (٣)

اوهم له دې لیکنې څخه معلومیږي چه دې پښتنې ملکې له علم سره د پرعلاقه در لوده اوښکاریږی چه په هغه وخت کښې ځې هم ښه کتابخانه لرله. اودهغه چا چه له علمه سره ئی مینه در لوده هم ښه احترام او نمنځنه کوله، لکه منهاج السراج چه یوځای لیکی :-

«...و آن ملکهٔ جهان این ضعیف رادرحجرهٔ بادشاهی خودچون فرزندان درپرورش بادشاهانه داشتی وشب وروز درصغر سن درحرم اوبودی ود رنظر مبارك تربیت یافتی.....» (٤)

که څه هم دامملکه ئی دعلاء الدین په نامه کړې وه؛ مگر هغه ددی پروا ده قادر نه شو. اوداهم داسی بکړه له دنیاولاړه. ددې مهرمنې ښېګڼی ممکن چه په دالاندی جملو کښې خلص کړه شی :

---

(١) نامزد. (٢) طبقات ناصری لمړی جز ٨٥ مخ (٣) (٤) طبقات ناصری - ٢٨ مخ

١ :- دا مېرمن دقرآن کریم حافظه وه .

٢ :- له دنیا همداسې بکره . تللی ده .

٣ :- دشها د ت اخبار ئې پیدا دو .

٤ :- هر کال ئې دوه دوه رکعته نمونځ کاوه چه په هغه کښې به ئی ټول قرآن کریم ختماوه .

٥ :- داملکه د کفارو په جنګ کښې شهیده شوې وه .

٦ :- کم وخت چه ئې پلار سلطان غیاث الدین محمد سام وفات شو په اوه کاله ژوند کښې دا سی ورځ را نغله چه پرمصلې دی نه وی ناسته او معتکفه نه وی . (١) یاداسی نورښه خویونه . . .

* * *

مېرمن ماه ججکه (٢)

مېرمن ماه ججکه دافغانستان دیوخان اومشر لوروه ، چه همایون شاه ته ئې په نکاح ور کړې وه اودمیرزا محمد حکیم ابوالمفاخر موروه . دې مېرمنې دنه سوه (٩٠٠) هجری په شاوخوا کښې یعنی تر ٩٠٠ وروسته په کابل ، غزنی اوقندهار کښې ښه استقلال درلود (٣) چه ددې دنفوذ خبری اواقبال په تاریخ کښې لیکلی شوی دی .

همایون شاه دسلطان ابوسعید بهادر خان له اولادې څخه و ، چه پرهندوستان ئې هم حکمرانی کوله .

دمېرمن ججکی مورهم دخراسان له لوړو کورنیو څخه وه ، چه دمور نوم ئی «ماهم بیګم» و (٤) . په هغه وخت کی میرزا حکیم د کابل والی و ، کم وخت چه

---

(١) طبقات ناصری ـ لمړی جزء ٨٥ مخ

(٢) په مشاهیر النسوان کښې ئې «ماچوجك» لیکلی ده .

(٣)(٤) خیرات حسان ٣ ج .

میرزا حکیم دغنی خان څخه چه دمنعم خان زوی اودخان خانان لمسی و، په تنګ راغی نودده مورماه ججکی دده حریفان «مقاتل بیګ» او ـ ابوالفتح بیګ اونو ر مړه کړل اودولایت کاروبار دې مېرمنی پرخپله اوزه واخیست اوپه یو دېر خطرناك حال کښې ئې تر دېره پوری حکومت په خورا ښه اداره وچلاوه. (١)

په ٩٧١ هـ کال یوسړی چه شیخ ابوالمعانی نومیداو داحمدبیګ قاتل و. او داکبر باچا له لښکرو تښتېدلی اوپټ ګرځیده، کابل ته راغیء اودې مېرمنی ته ئې پناه راوړه اوددې مېرمنی په حضور ئې یوه دېره له اخلاصه د که عریضه ولیکله چه په پای کښې ئې دا بیت و: ـ

مابدین در نه پی عزت وجاه آمده ایم
ازبد حا د ثه اینجا به پنا ه آمد ه ایم

مېرمنی ددې عریضې په ځواب کښې په خورا ښه ډول ځواب ولیکه اودامصرع ئې دځواب په آخر کښې هم ثبت کړه:ـ «کرم نماوفرودآ که خانه خانهٔ تست» ابوالمعانی ئې په خوراعزت اواحترام دربارته راووست اوځه موده وروسته ئې خپله لورهم ورکړه ـ مګرافسوس چه ابوالمعانی داسی نالایق اونمك حرامه و، چه ترځو ورځو وروسته ئې داروښن دماغه اوپوهه مېرمن په فریب اودروه کښې مړه کړله. (٢)

* * *

مېرمن ماهم بیګم

میرمن ماهم بیګم دخراسان دیوه مشرلوراودشیخ احمد جام له نسله وه ـ چه په ٩١٣ هـ کښې همایون ددې له نسۀ پیدا شوی اودامېرمن دبابرباچا ماندینه و ه دېره هوښیاره اوعاقله ښځه وه، په ٩٦٩ هـ کال کښې ئې دزړې قلاسره یوه مدرسه

---

(١) مشاهیر النسوان ـ ٥١٠ مخ
(٢) ابوالفضل . مشاهیر النسو ا ن .

اوپومسجد جوړ کړی دی . که څه هم هغه ودانۍ نړ پدلی دی مگر کتیبه ئې شته اوداپر لیکلی دی : (۱)

بدوران جلال الدین محمد	که باشدا کبر شاهان عادل
چوماهم بیگم عصمت پناهی	بنا کر د این بنابهر افاضل
ولی شد ساعی این بقعهٔ خیر	شهاب الدین احمد حال باذل
زهی خیر یت این بقعهٔ خیر	که شد تاریخ اوخیر المنازل

* * *

میرمن محجوب هروی

میرمن محجوب د مرحوم سکندر خان نظام الدوله لوروه چه دمر حوم آقائې خان نظام الدوله زوی دی. (۲) اودامیر مـن دمـرحوم احمدقلیخان «صارمی» خورده چه دخپل وخت دښاغلو فضلااو پوهانو څخه دی او خوږ ژبی شاعرو. اودې میرمنی خپل تحصیلات اودهغه وخت متداول علوم هم له دې خپل عالم وړور څخه زده کړی اوپای ته رسولی دی .

میرمن محجوب یوه نا کامه اوپه زړه زخمی شاعره وه چه په خپل ژوند کښې ئې دخوښۍ مخ نه دی لیدلی اونامراده له دې غم لرلی دنیا څخه تللې ده .

دامیرمن فطرتاً شاعره اوله درده سره اشناوه، لهوړ کتوب څخه ئې دشعر اوشاعرۍ سره مینه درلوده اوخوازه خوازه اشعارئې ویل، مگرمتا سفانه دې شین زړه فلك ونه غوښته چه یوه باعفته نجلۍ څو ورځې دې جهان کښې وخاندی . په عین زلمیتوب کښې ئې دبدبخت اوظالم اوناترس میړه دلا سه دځوانۍ گل مړاوی اوله دې دنیا څخه په چا ودلی زړه اوسور کفن هغه ځـای تـه و لاړه چه هلته هری خواته خاموشی اودهم داسی بی وزلو نامرادو نجونو دپاره دهستو گی

(۱) مشاهیر النسوان ـ ۱۱ ه مخ .

(۱) د کابل مجله ۵ کال ۱۱ گڼه

ځایونه جوړشوی دی، چه ددې ظالمو اوناترسو انسانانو له ظلم اوبدی څخه په امان وساتلی شی.

دهرات ملامحمدصدیق اخند زاده صاحب په خپله یوه تذکره کښې مهرمن محجوب داسی معرفی کوی:

«این عفیفة الدهر ومخفیة الزمان از زمرهٔ عندلیبان دستان سرای هزار ادای سرا بوستان معانی واز جملهٔ خاندان طبایع سلیم و ادراك مستقیم دقیقه یاب نکته سنج وسخندانی است. واین صاحب طبع مرغوب ودارای معانی پاکیزه وخوب را تخلص محجوب است. ودرآوان ریعان جوانی واوایل طی مراحل زندگانی ازدست روزگار غدار وفلك کج رفتار زهر اجل نوشیده وخلعت شهادت پوشیده، باجگر چاك چاك ودل اندوهناك راه ریاض رضوان وموانست حوران وغلمان پیش گرفته برادرسعادت مظهرش که سرآمد شعرای روزگار وسردفتر نکته سنجان بلاغت شعار متخلص بصارمی است. برخی ازاحوال واطوار وصفات وکمالات وبعضی از اوضاع وکردار وتاریخ وفاتش را بطریق منظوم بنظر فیض منظر ناظران میرساندونگارنده را ازز حمت تفصیل وتطویل می رهاند...»

ددې نامرادی مهرمنی وزور چه یوفاضل شاعر و، پخپل کتاب (میکده) کښې د خپلی غمدیده اوناکامی ځوانیمرګی خور شرح حال په یوه مؤثره اوسوزنا که لهجه په یوه قصیده کښې لیکی، که څه هم دا قصیده (۱۲٤) بیته ده (۱) مګردلته داختصار په توګه څوبیتونه ځنی رانقل کوو:

من بودم اززمانه وفرزانه خواهری
در مشرق کمال درخشنده اختری
در بوستان عزونسب سرو کشمیری
در آسمان فخروحسب ماه انوری

(۱) دملا محمدصدیق اخند قلمی تذکره.

اندر حریم قدس حیا پیشه مریمی
درحجله عفاف وفاکیش حاجری
صدیقه صدق فاطمه طینت زبیدهٔ
بلقیس خوی آسیه سیرت نکوفری
مشکوی شعر را سخن آرای مخفی
بستان فضل را چمن آرای عبهری
در بخل و جهل سیرت ناپاك مفلسی
درعلم وحلم وفهم وفراست توانگری
کلکش زمطلع خط وانشا عطاردی
طبعش زدرج عقل و گرانمایه گوهری
محجوب درسرادق عصمت زچشم دهر
طالع زبرج فضل چو مهر خاوری
اندر حساب و رمل محیط مهندسی
در فلك بحر و هیئت تقویم لنگری
خورشید هر صباح زرای منیر او
میکرد کسب نور چوازخواجه چاکری
ماه ازپی رساندن صیتش به هرطرف
می‌شد روان بسیرسفرچون کبوتری
کیوان بدیده بانی درگاه عصمتش
چون هندوی که پاس بدارد زمنظری
برجیس می کشد بسر در ششم فلك
ازبهر درك صحبتش ازشوق چادری
بهرام تند خوی بقصر حسود آن
چون چاکران ستاده بکف تیغ وخنجری

نا هید میسر و د پی فخر هـر سحر
ازنظم دلکـشش غزل روح پروری
تیر د بیر از سر اخلاص می نوشت
زاوصاف خلق فهم ومعانیش محضری
هرچند در کمال وخط وشعرهوش رای
چون آن نه‌داد چرخ کهن یاد دیگری
بودش بهر انا مل فرخنده صد هنر
الحق کشاده بد بجهان ازهنر دری
نا گاه جیش مر گ نمودش زمن جدا
من ماندم ومصیبت آن دست برسری
این جور خودبخویش نمودم کز ابلهی
دادم فر شته را بکف دیو منظر ی
بدرای پست فطرت وبد کیش و سست عهد
د و ن طبع سفله‌خصلت و نا پاك کـا فری
مرد آن بود که مردی ونامش بود که هست
به ا ز کـلا ه مـر د م نـا مر د معجر ی
کـی ا ز خصا ل ا و بتو ا ن شمهٔ بیا ن
عمر ی ا گر سیا ه کنم لو ح د فتر ی
ا لقصه ر فت با جگر چاك و د ل فگـا ر
آن مهربان زجور چنین جور گستر ی
نا چیده ا ز حد یقهٔ کـا م د لش گلی
نا خو رِ د ه از بها ر جو ا نیش نو بر ی
شد آن شهید ز هر جفا درر یا ض خلد
مو نس به حور یان و من و دیدهٔ تر ی

روزم چو شب سیاه دلم سرد چهره زرد
هر لحظه ام بخنجر ا ز ین غصه خنجری

ازفوت آن چوباغم وزاریست کار خلق
تاریخ یافتش «غم‌وزاری» سخنوری (۱)
۱۲۶٤ھ

پس چـا ر ه غیر صبر و شکیبا نبا شـد م
ا ز قسمت سپهـر و جـفـا ی ستمگـر ی

د ر روز حشر شا فع یو م ا لنشو ر با د
ا ند ر میا نهٔ من و آ ن سفله د ا و ری

دمیرمن محجوب داشعا رونمو نې :

(۱)

رفیقان برلب آمدجان زهجران د لفگاریرا
که‌میگو یدبآن بی‌رحم حال‌جان سپاری‌را ؟

نه‌از بختم سریاری، نه‌ازدلدار غم خوار ی
بود مشکل‌بسربردن بدینسان‌روز گاری‌را

توای‌صیادیاد آور بقید افتادهٔ‌دامت (۲)
کشاازمحنت هجران اسیر خسته زاری ر ا

جفااز حدفزون کردی بیایکره‌وفا آموز
دوا کن‌درد افگاران مسوزان‌داغ داری‌را

---

(۱)دیورته بیت په‌حساب خو ددې میرمنی مر گ‌ئ په ۱۲٦٤ھ کـال‌معلومېږی‌مگر دقصیدی په آخر کښې وایی : تاریخ این قصیده زهجریست بعد الف‌خمسین وخمس بامأتین ارتوبشمری نو دا حساب‌ا وهفه حساب سر نه سره خوری ، لکه چه دقصیدی تاریخ ددی میرمنی دمر گ‌ئ تر تاریخ د مخه کیږی .
(بینوا)

(۲)وایی چه‌دا بیتونه ئې‌دمر گ‌ئ باعث گرځیدلی دی . (دهرات ادبی‌مجله)

گذر کن جانب «محجوب» ای دلبر زیان نبود
اگر باری بجا آری دل امیدواری را

(۲)

دیدی آن پیمان گسل از یادی ما عار کرد
از نظر انداخت مارا با دل اغیار کرد
اشنائی کرد اول تا قرار از جان ربود
گشت چون آرام دل بیگانگی اظهار کرد
از برم رفت از تغافل روی سوی من نکرد
چشم امیدم براهش از قفا خو نبار کرد.
بی سبب رنجید آن بدخو بمن واضح نشد
کان چرا بی موجبی از دوستان انکار کرد
گفتمش مرد از غمت «محجوب» گفتا مرد مرد
ای خوش آن عاشق که او جانرا فدای یار کرد

* * *

(۳)

برده از کفم دلرا باده نوش مدهوشی
یار نازك اندامی سرو گل بنا گوشی
شوخ عنبر بن موئی تند خو جفا جوئی
ماه رو، سمن بوئی سیمبر قبا پوشی
آفتاب کنعانی دلبر سخندانی
ناز نین تنو جانی نکته سنج خاموشی
خسر وجها نداری دلربای خو نخواری
مست عاشق آزاری یاسیمین برو دوشی
خنجر جفا بر دست شیشهٔ وفا بشکست
نالهای عشاقش میر سد بهر گوشی

من‌قدم نخو اهم زد جز بکوی آن جا نی
زهر اگر دهداز کف میکنم بجان نوشی

در فراق آن ماهر واز جفا ی آن بدخو
طر فه حـا لتی دا رم گویـم ارتوبنیوشی

جان اسیر ر نجو ری تن بقید مهجو ر ی
دلز آتش دوری هر ز مان ز ند جو شی

مست یکشبی برخورد گفتمش که ای بدعهد
ا ز تغا فلم تا چند بگذ ری و ر خ پو شی

از سر و فایك ره پر سشی کنا ز حـا لـم
جام‌دوستی مشکن قول کس مکن گو شی

درشب امیدم نیست جزرخ توخور شید ی
گر کشی و گرسازی باخودت هم‌آغو شی

هم‌چو من خریدارت نقدجان همه‌در کف
تـا ز لعل نـو شینت بـو سهٔ تـو بفر و شی

ا ی بت جفا کـا ر م ا ز غمت بسی زا ر م
یا دمیکن از «محجوب» بگذ ر ازفرا موشی

* * *

مېر من مر یمه کـنیزك

ددې مېرمنی تخلص (کنیز که) اودمر حوم سیادت پناه فاضل سید عبد الله لورده، دامېرمن دهرات د کرخ په یوه کلی کښې اوسیدله . په (۱۲۵۷ هـ ق) کـال دمیزان په اوله کښې زېږېدلې اودهم‌هغه ځای‌په یا که هوا کښې یا للې شو ې د ه .

دهغه وخت په متداوله علومو کښې ئې ښه معلومات درلوده، شعرئې وایه اوطبع ئې ښه موزونه اوروانه وه، خوا کثر اشعارئې په حمداو نعت کښې دی، لکه چه د نقشبندیی په طریقه کښې ئې دسلوك کسب کاوه اوښه زاهده مېرمن وه. ددې عمر په څلو رو برخو ویشل کېږی:

یو ه برخه په عبادت، بله په مطالعه، بله په استراحت، اوبله په ادب او کتابت کښې تېره شوې ده.

په (١٣٠٨ قمری) کال وفات شوه، یومکمل دیوان هم لری مگر متأسفانه طبع شوی نه دی (١).

دشعر نمونه: نعت

ای مه جهان آرا معدن صفا هستی
بر گزیدهٔ خالق فخر اصفیا هستی
عین جمله محبوبان فخر انبیا هستی
تو طبیب هر رنجی، درد را دوا هستی
شمع بزم هر جمعی بسکه خوش لقا هستی

* * *

روز شب بود دائم میل خاطرم سویت
بسته جمع مشتاقان دل بتار هر مویت
رخ نما که تا بینم آن جمال و گیسویت
بشنوم حدیث چند زان دو لعل دلجویت
نطق شکرین بکشا زانکه خوشنوا هستی

* *

درچمن نروید گل تا تو در جهان باشی
سروخوش وصال ای دوست جان عاشقان باشی

---

(١) دهرات ادبی مجله خلرم کال ـ ١٢ گڼه

نو نهال نخلستان شاخ ارغوان باشی
نو بهار عمری لیك ایمن از خزان باشی
من ترا دعا گویم واجب دعا هستی

* * *

زلف ورخ نمایان کن بزم گلرخان بشکن
با تکلم شیرین صوت بلبلان بشکن
از حرم خلیل آسا رونق بتان بشکن
تاج لطف بر سر نه افسر شهان بشکن
چنداز نظرنایاب همچو کیمیا هستی ؟

* * *

درج لعل در بکشای قیمت گهر بشکن
با تبسم شیرین قیمت شکر بشکن
بهر لیلة المعراج نوبت سحر بشکن
بامتاع حسن خود نرخ سیم وزر بشکن
یوسف عزیز من چون تو بی بها هستی

* * *

گرچه ناوك نازت بر دلم اثر دارد
عاشق جفا پیشه کی ازان حذر دارد
پیش تیر مژگانت سینه را سپر دارد
ای خوش آن که هر لحظه بارخت نظر دارد
هان ، قدم بچشمم نه دیده را ضیا هستی

* * *

شبروشب معراج ماه برج ما اوحی
در درج یکتائی نقد کنز لا تحصی

آفتاب ملك دين صدر مجلس عقبى
مقتدار سولان را جن وانس را مولى
زانكه احسن الخلقى افضل الورا هستى

* * *

اين «كنيزك» مجرم ترك گفتگو دارد
نه بجام خورسند است نه غم سبو دارد
مدت مديدى هست باغم تو خو دارد
آرزوى يك ديدن زان رخ نكو دارد
روى خودبمن بنماى گر زمن جدا هستى

* * *

مېرمن مستوره

ددې مېرمنې نوم (حورالنسأ) تخلص ئې «مستوره» اوپه بى بى «سفيدپوش» مشهوره وه .

دپلار نوم ئې سيادت پناه مير سيد اعظم و ، چه دغور په سرسبزو شنو درو اود «پرجمن» په کلى کښې اوسيدله . (١)

پخپله مستوره وايى :

نسب ازخواجهٔ زورم بود حورالنسأ نامم
تخلص گشته مستوره بملك غور مأوايم

ددې لوى اوبزرگ نيکه حضرت شاه ولى الله صاحب و ، اودطريقت کسب ئې هم له هغه جنابه څخه کړى دى .

دمېرمن مستورې په سينه کښې دحقيقى عشق اوربل شوى اوددې شهوانى آرزو گانى ئې سپځلى وې . له هم دې جهته ئې دخپل ژوند تر پايه پورى دمېړه خواهش ونه کړ .

---

(١) دهرات ادبى مجله .

طبع ئې دپره روانه او اشعارئې خورا خوازه دی داشعارو یومکمل دیوان لری چه دري نیم زره (۳۵۰۰) بیتونه رسیږی او مستورې دخپل دیوان نوم (تحفة العاشقین ومفرح المسلمین) اینبی دی .

اشعارئې اکثره حمداونعت دی ، عشقی برخه هم لری . دامیرمن د ۳٤ کالو په عمر د ۲ شنبې په ورځ ۲۰ درجب المرجب په ۱۲٤۵ شمسی کال وفات شوه ددې قبر د «زور» په غره کښې دی اوهلته ښخه ده .

داشعارو نمونه (۱) :

(۱)

دل عشاق گرد عارضت مستانه می رقصد
بلی چون شمع روشن شددو ضدپروانه می رقصد
بهر جا پرتو نوری ز انوار خدا باشد
یکی در مسجدو دیگری در می خانه می رقصد
مگر نقاش در بتخانه زد نقش جمال تو
که ازشوق تو می بینم بت وبتخانه می رقصد
مرا دیروز واعظ وعظ ترك عشق ومی میکرد
شکست امروز پیمان وسر پیمانه می رقصد
دلم چون دام زلف ودانهٔ خال تو می بیند
زترس دام می لرزد ز شوق دانه می رقصد
مگر باد صبا از چین زلفش نکهتی دارد
که بلبل در گلستان جغددر ویرانه می رقصد
که باشد در پس پرده لوای دلبری دارا
زآوازش ببین «مستوره» رادیوانه می رقصد

(۱) داغزلی له امان افغان څخه اخیستی شوی دی .

(۲)

بتی دیدم که با ناز و ادا گیسو رها کرده
میان چون نیشکر بسته دهان چون غنچه وا کرده

فرو هشته نقاب از رو مکحل کرده دو جادو
کشیده و سمه بر ابرو سر انگشتان حنا کرده

پریروئی جفاجوئی ، بسان خویش بدخوئی
به تیر غمزه هندوئی ، چه خونریزی بپا کرده

بهر جا میروم غائب زچشم من نمیگردد
بسان مرد ملك گویا درون دیده جا کرده

بحال عاشق مسکین جفا چندان چرا داری؟
که مسکین عمر خود را بر سر کوی وفا کرده

فلك بوئی ندارد از مروت ای پری پیکر
ویا دوران نصیب من غم و رنج و جفا کرده

بگو «مستوره» این دنیا نبا شد جای آسایش
وگرنه ابن مریم از چه رو جا در سما کرده

(۳)

برو قاصد زمن بر گوی آن سرو خرامان را
که کی خواهی منور ساخت شام ماغریبانرا

لبت کز ناز بر بندقبا صدجا گره دارد
به بزم خویش کی آرد من صدپاره دامان را

اگر آشوب رستاخیز می سازم مکن عیبم
که من صبح قیامت دیده ام چاك گریبانرا

روداشکم برون هر چندمژ گـان می نهم برهم
بلی خاشاك آب آورده نتوان بست عما نرا
زاند امتو گیرد جامه زینت هاچودر پوشی
اگر هر چندبخشد جامه زینت خوبر ویان را

برو «مستوره» یك جائی که نشناسند مخلوقت
که گشتی فاش و پر کردی ز ننگ خود خراسان را

د دې مېرمنی داپو رتنی غزل مېرمن محجوبې دهرات او سنی شاعرې مخمس کړی دی .

* *

مېرمن ملاله

ددوشنبی په ورځ دبرات دمیاشتی اولسمه په ۱۲۹۷ هجری کال (۱) چه پښتنوزلمیانو ، مېړواو مېرمنو دخپل وطن دساتنی په نیت سرونه پر میدان اینبی وه اودمیوند ډ گرته دقربانی دپاره حاضرشوی وه .

تا کنده غرمه وه غازیان تبزی اوستړی ستومانه وه ، دمیوند پرد بښت هیخ اوبه هم نه وې - نژدی وه ، چه دپښتنو لښکرله تندی څخه مانی و کړی ، په داسی حال کښې چه د پښتنو بیرغچی هم سخت زخمی اوبیرغ ئې له لاسه ولوېده یوه پښتنه پېغلهٔ نجلی چه تازه ئې دژوند داو ولسم پسرلی گلونه بوی کړی وه ، راغله اودپښتنو ملی بیرغ ئې په سرو منگلو واخیست ناری ئې کړه :

خال به دیار له وینو کښ یزدم چه شینکی باغ کښې گلگلاب وشرموینه
که په میوند کښې شهید نه سوې خدایزو لالیه بې ننگی نه دی ساتینه

ددې پېغلی نجلی زغ لکه یو آسمانی زغ و ، چه دپښتنو زلمیانو وینی ئې په

(۱) دکابل مجله پنځم کال ۱۲ گڼه .

ملكة رضيه

جوش راوستلي ،اوتولود (الله اکبر)په نامه پرغليم يرغل و کړ- اودښمنان ئي تارپه تار کړه خپله پاکه خاوره ئي ددوی له قدمو څخه وژغو رله .

دا پيغله چه دلته د دي نوم په د هر افتخار د و طن د نو ميالو مپر منو په تولې کښې يادوو ، اوتل ددی لوړروح ته سلامونه اودرودونه لپږو اوځو چه پښتانه ژوندی او د پښتنو وطن ودان وی ددي نوم به په زرين ليك د پښتنو په تاريخ کښې ثبت وی . «ملاله» نومېده !

* * *

ملکه رضيه

يا

د هندوستان يوه پښتنه امپراطوره

سلطانه رضيه د شمس الدين التمش لور ده ، چه تخلص ئي د ځان د پاره «شيرينه» تاکلی و .

ددي پلار «التمش» د پښتنو د غوری شاهنشاهانو له سلسلې او کورنۍ څخه دی چه د سلطان قطب الدين ايبك زوم اوپه (٦٠٧ هـ) کال په دهلی کښې باچا شو (١) .

ملك شمس الدين مشهور په التمش په هندوستان کښې ٢٦ کاله په خورا کامرانۍ اومپرانه پاچهی و کړه ، دی دهند لوی او عظيم الشان او عادل شهنشاه د ی ، دده په عصر کښې د پښتنو په لاس هندوستان خورا ودان شو اودهند لويه شاهنشاهی ئي دهلی په مرکزيت بيرته بدله کړه .

دا معروف پښتون باچا په (٦٣٣ هـ) په دوشنبې ٢٠ د شعبان په دهلی کښې وفات شو (٢) .

ترسلطان شمس الدين وروسته دده زوی رکن الدين فيروزشاه باچا شو ، ځکه چه دی لاهلك و ، اودپښتنو دشاهنشاهۍ کارونه ئي نشوای کولای نوهغه وخت پښتانه

---

(١) فرشته . (٢) تاريخ سند هـ .

مشاهیر اولوی مشران : ملك اعزالدین دبدوان سالار ، ملك علاءالدین شیرخانی دلاهور حاکم ، ملك سیف الدین کوچی دهانسی حاکم ، ملك اعزالدین دملتان والی تاج الدین غوری ، بهاءالدین حسن غوری ، ملك کریم الدین اونور مشران راتول شوه رکن الدین فیروزشاه ئې ترشپږو میاشتو اوتلسو ورځو وروسته معزول کړ (۱) اودده پرځای ئې دده مشره خور «رضیه» چه دسلطان شمس الدین لورده ، دهندوستان په شاهنشاهۍ ومنله . دلمړۍ خور په ۱۸ (٦۳٤ هـ) کال دامپرمن په دهلی کښې د پښتنو دشاهنشاهۍ پرتخت کښېناسته (۲) او په خپل نامه ئې داسی سکه ووهله :ـ

پریوه خوا :ـ عمدة النسوان ملکهٔ زمان سلطان رضیه بنت شمس الدین التمش .

پربله خوا :ـ ضرب بلدهٔ دهلی سنه ٦۳٤ جلوس (۳) .

سلطانه رضیه پرخپل پلار دپره گرانه وه ، ترزامنو لادا ورتپره وه . او په خپل ژوندئې دې ته دمړنتوب او سپاهی ګلوۍ تعلیم ورکاوه . اوهغه کارونه چه دمپرو سره ښائي تول ئې ورزده کړه . په لیکل او لوستل ، تورزنی ، سپارلی نښه ویشتل ، اونورو شیانو کښې ښه ماهره شوه .(٤)

په حسن ښه ښکلې وه ، مګر مپرانه اوخلق ئې ترحسن اوښکلیتوب دپرو .

سلطانه رضیه خورا پوهه اوهوښیاره پښتنه وه ، له علمو څخه ئې هم برخه درلوده ، قرآن عظیم ئې په ښه آوازوایه (٥) تول هغه صفات چه دلوړو باچاهانو سره لازم دي دې درلوده ، دپلار په وخت کښې هم دښې اداري مپرمن وه ، هغه وخت چه التمش دجنوب خواته لښکرویوست ، پوره شپږ کاله ئې دسلطنت بار پراوزو اخیستی و ، او په دې ښه صورت اوحسن اداره سره ئې حکمرانی وکړه (٦) پلار هم دا دځان ولیعهده کړې وه .

---

(۱) فرشته . (۲) فرشته . (۳) ص ٦۳۲ ج راورټی طبقات ناصری .

(٤) تذکرة الخواتین . (٥) طلوع افغان د ۱۳۱٥ کال کالنۍ . (٦) تذکرة الخواتین .

رضیه به دمپرو په‌دود دسلطنت پرتخت کښېنسته اودخلقوعرض اوداد به ئې اروېده . دېره هوښیاره اوعادله پښتنه‌وه ، دجنګ پردېرومیدانو بریالۍ شوه اوفتح ئې موندلی ده (۱) رضیې دمملکت وزارت وخواجه مهذی غزنوی ته چه یوفاضل پښتون و ، ورکړ ، پرده ئې « نظام الملك » نوم کښېښود . ملك سیف الدین ایبك ئې سپه‌سالار کړ اوهغه قوانین اواصول چه ددې دپلار په وخت کښې وه او « قواعدوضوابط » ئې بلل ، بیرته ئې نافذ کړه ، د خلقو سره ئې په عدالت او مهربانۍ رفتار کاوه (۲) .

داپښتنه امپراطوره تر ۳ کالو ۳ میاشتو ۶ ورځو سلطنت وروسته دلمړۍ خور په ۲۵ په (۶۳۷ هـ) کال کښې په‌دېره مهرانه سره مړه شوه (۳) څوك وایی دسه‌شنبې په زوځ دربیع الاخر ۲۵ په (۶۳۸ هـ) کال کښې مړه‌شوې ده (٤) .

دې مهرمنی علاوه پرشاهنشاهۍ دعلم اوادب سره هم زیاته مینه در لوده د کتابودمطالعې شوقئې دېر و ، اشعارئې‌هم ویل څنګه‌چه دتذکرة الخواتین لیکونکی لیکی ، دې‌مهرمنی‌په‌تر کی او پارسی دواړو ژبو شعر وایه .

دپارسی‌دشعر نمونه :

نادیده‌رخش چومردم‌چشم کرد یم د رون دیده جا یش

* * *

من نام ترا شنیده مید ارم دوست نادیده‌ترا چودیده‌مید ارم‌دوست

* * *

دردهان خوددارم‌عندلیب‌خوش‌الحان پیش‌من‌سخن گویان‌زاغ‌دردهن‌دارد

* * *

غلطیدن‌نوررخ‌خورشیدجزاین‌چه ؟ بسمل‌شدهٔ تیغ نگاه غضب ما ست

---

(۱) دای‌مارسدن دهند تاریخ . (۲) ای‌مارسدن . (۳) فرشته .

(٤) طبقات‌ناصری - دوهم جز - ۱۹۰ مخ .

ازماست که برماست چه تقصیر دل زار آن کشتهٔ اندازغم بی سبب ماست

* * *

کتم ببر کت پاتخت چرخ سلطانی دهم بمال هما خد مت مگس رانی

* * *

دابیت هم ددي دی :

بازآ، شیرین، منه د رراه ا لفت گام خو یش
هان و لی نه شنیده باشی قصهٔ فر هـا درا

* * *

متأسفانه چه ددي پښتنی مهر منی نورآ ثار یابشپړه غزل لاس ته رانغله .
ددي پښتنی امیر اطوری مزار په دهلی کښي «دبلبلی خانه» په محله کښي دتر کمان ددروازی دباندی دی . (۱)

* * *

مهرمن ملکهٔ خراسانی

مهرمن ملکهٔ خراسانی دسلطان بهاؤالدین سام لوراودمهرمن حرهٔ جلا لی خو ر و ه . (۲)

دامهرمن هم په خپل وخت کښي ددي وطن یوه نـومیالی مهرمن او ملکه وه اودا لب غازی موروه ، چه هغه دملك قزل ارسلان سلجوقی زوی او دسلطان سنجر ور ار ه و .

* * *

مهرمن ملکهٔ جلالی

مهرمن ملکهٔ جلالی دسلطان غیاث الدین محمدسام لوروه اودسلطان بهاؤالدین سام

---

(۱) مشاهیر النسوان ـ ۲۹۱ مخ ـ فیروزشاهی
(۲) لمری جزء ـ طبقات ناصری ۵۰ مخ .

ترور (عمه) اود ملك علا ؤالدين ماند ينه وه . (١)

دا مېر من ډېره فا ضله او عا لمه ښځه وه منهاج‌سراج ئې‌دا سی ستا يی:-

«زبيدهٔ زمان وخديجهٔ دوران ملكهٔ جلالی . . . »

منهاج سراج دا مېر من ليدلې‌ده، علمی مباحثې‌ئې‌هم ور سره کړی دی يوځای دمولانافخرالدين مبار کشاه‌دتذ کرې پەباب کښې‌داسې لـيکی:-

«...اين ر وايت ازلفظ آن زبيدهٔ ز مان و خد يجهٔ دوران ملـكهٔ جلا لی طاب مرقد ها شنيدم که چون بعضی‌از کتـاب وتاريخ درنظم آ مد مگر بسبب تغير مزاجی که فخر الدين مبار کشاه‌راظاهر شدآن نظم را مهمل بگذا شت تاچون تخت مملکت بشکوه وفرهمايون سلطان غياث الدنياوالد ين محمد سام زيب وجمال گرفت آن تاريخ به‌القاب مبارك او مزين گشت و تمام شد . . »

ددې مېره چه‌علاؤالدين و ، په٦١٢ه کښې ژوندی و، اودغور دشنسبی سلاطين سلسله هم پرده ختمېږی . (٢) نو ددې مېرمنی ژوند هم په دغه وخت کښې يقينی دی .

* * *

ميرمن مهری هروی

دمېرمن مهری نوم «مهرالنساء»و، اوپەهرات کښې‌دشاه‌رخ‌ميرزا پەزمانه کښې اوسېدله، دحکيم عبدالعزيزماندينه وه، (٣) ډېره هو ښياره او حاضر جوابه شاعره وه اودمېرمن گوهر ښادی (چه دهغه وخت شاه خا نمه‌وه) ډېره مأنوسه اوورتېره ملګرې‌وه (٤) يووورځ مېرمن گوهرښادی د مهری

(١)طبقات ناصری - لمړی-جزء-٢٩مخ-٩٦مخ
(٢)طبقات ناصری -لمړی جزء-٩٦ مخ-٢٩مخ
(٣) تذکرهٔ خواتين- آتشکدهٔ آذر (٤) خيرات حسان-٣ج

مېړه راوغوښت، څنګه چه هغه سپین زیری اوضعیف و، پرلا ری سم نشو تلا ی ریږدیدی، نومېرمن ګوهر ښادی و مهری ته وویل چه ددې حاله سره موافق یوڅه ووایی- مهری دستی فی البدیهه دادوه بیته وویل:

مرا باتو سر یا ر ی نما ند ه سر مهر و فا د ا ر ی نما ند ه
ترا ازضعف و پیر ی قوت وزور چنانکه پای‌برداری نمانده (١)

وایی چه‌یووخت مېرمن مهری دباندی په‌سیل وتلې وه، دشاه رخ ددربار یوغټ منصبدار چه‌سپین زیری‌و،ددې سره‌ئې دمینی‌اومحبت رازونیاز او تعشق کاوه‌اودې فی‌البدیهه دهغه په‌ځواب کښې وویل (٢):

یارب که‌سرشتم ازچه آب‌وچه گل ست میلم‌همه‌سوی گلرخان چه گل ست
گر میل مرا بسو ی پیر ا ن بو د ی زان پیرضعیف ناتوانم چه گله ست

د کلا م نمونه :

(١)

حل هر نکته که ا ز پیر خر د مشکل بو د
آ ز مو د یم بیك جر عهٔ می حا صل بو د
گفتم از مد ر سه پرسم سبب حر مـت می
درهرکس که‌زدم آن بیخود(٣) ولایعقل بود
خو ا ستم سو ز دل خو یش بگویم با شمع
داشت خود اوبز با ن آنچه مرا در دل بود
در چمن صبحدم از گر یه‌و زاری دلم (٤)
لاله سو خته خو ن در دل‌و پا در گل بود

---

(١) په‌خلرمه مصرع کی نزا کت شته. (٢) ریاض شعراء .
(٣) خر خیرات حسان .
(٤) دوش تاوقت سحر درچمن ازگریهٔ‌من لاله‌دل شده‌وخون دردل وپا درگل بود
(ریاض شعرا)

آنچه ازبابل وهاروت روایت کردند (١)

سحر چشم تو بد ید م همه را شا مل بسود

دولتی بود تماشای رخت «مهری» را

حیف صد حیف که این دولت مستعجل بود

(٢)

آن خال عنبری که نگارم بروزده — دل می برد ازانکه بوجه نکو زده

قصاب وار مردم چشم بچا بکی — مژگان پاره کرده ودلها بروزده

در کوزه آب پیش لبش در حنك چکید — ورنه زدسته دست چرا در گلوزده

(ریاض شعرا)

(٣)

بیخ هر خاری که آن ازخاك من حاصل شود

زاهد ارمسواك سازد مست و لا یعقل شود

(٤)

کردم براوج مه خو یشتن طلوع — هان ای حکیم طالع مسعود من نگر

مېرمن مهری دېره شوخه وه، اکثره شو خی ئې دخپل مېره سره کولې، په تذ کرو کښې ددې لحینی شوخی ذکر شوی دی مثلا وایی: کمه ورځ خواجه عبدالعزیز لاس پرزیره تېر کړ وې ویل:

«آه- بااین ریش سفید باراین خانم شوخ راچگونه کشم؟»

مهری ورته وویل: - «اگر گستاخی نباشد طور یکه در جوانی لحاف می کشیدید!»

وایی: چه مهری دمېرمن گوهربنادی دخوردزویه سره مینه درلوده، میرزا شاهرخ ددې دمېره په غوښتنه مېرمن مهری بندي کړله اودې په حبس کښې هم له خپلی شوخی څخه لاس وانه خیست اودارباعی ئې وویله:

(١) آنچه ازبابل وهاروت گفتند - ریاض شعرا.

شه کنده نهاد سرو سمین تن را　　زینواقعه شیون است مردو زن را
افسوس که در کنده بخواهد فرسود　　پائی که دو شاخه بود صد گردن را

* * *

ددې مهرمنی ځینی دشوخی ربا عیات داهم دی :

درخانهٔ تو آنچه مرا شاید نیست　　بندی زدل رمیده بگشا ید نیست
گوئی همه چیز دارم از مال و منال　　آری همه هست آنچه می باید نیست

* * *

شوی زن نوجوان اگر پیر بود　　تا پیر شود همیشه دلگیر بود
آری مثل است اینکه گویند زنان　　"در پهلوی زن تیر به از پیر بود"

مهرمن مهری لکه تولی ځوانی ښځی چه دافکر لری له زاره مهره څخه بدوری اوطبعاً نرزلمی هم دغسی زړه لری او له زړې ښځی څخه ئې بدرالځی- نو سپین زیرو پښتنو مشرانو ته دی خدای انصاف ورکړی چه دمشرورور زړه کوندې و کشرنابالغ ورورته کښینو ی - اویا خپله پېغله ځوانه لورچه خپل سعادت دزلمیتوب په شپو اوورځو کی لټوی دځو پیسو دپاره زاره سپین زیری بدای ته ور کوی اوددوی زلمیتوب اوله امیده ډک زړونه دځو پیسو او یا دخپلی سیا لداری دپاره قربانوی .

آه - ولی دپښتنو مشرانو !

تاسی هم کم وخت زلمیتوب نه در لود ؟
تاسی هم په خپل زلمیتوب کښې آرزو گانی نه درلودلی ؟
پرخپل زړه لاس کښېږدیء - بس ته .
مه خپل زامن نامراده کویء اومه خپلی ځوانی پیغلی لونې ځوانمرگه نابناده وژنی .

ددوی سعادت اونیکمرغی، بدختی او ذلت ستاسی پلاس دی ـ تاسی اختیار لرئ که خپل اولاد او دزړه توټې دبدبختی او ذلت سره مخامخ کوئ او که ئې دسعادت اونیکمر غی غېږی ته غور ځوئ .

* * *

میرمن مهستی

میرمن مهستی چه ځینو تذکرو « مهتی » (۱) لیکلې ده، په پنځم قرن کښې ژوند کاوه. دسلطان سنجر په زمانه په بدخشان کښې اوسېدله (۲) د هر عزت او جاه ئې درلود، دامیرمن ښه شاعره او شعرئې د هر سلیس د ی ، ته به و ایی طبیعت دهم دې فن دپاره پیدا کړې وه .

یوه ورځ باچا دعیش اوعشرت مجلس جوړ کړی و، شراب او کباب، مغنی اوسرود ټول حاضروو، مهستی هم وه. مهستی ته ضرورت پېش شو ، له مجلسه دباندی ووتله، دباندی هوا ډېره خرابه وه، اوهری خواته سپینی واوری پرتې وې چه بیرته راغله با چا د هوا پسو ښتنه ځینی وکړه، دې فی البدیهه دارباعی وویل : ـ

شاهـا فلکت اسپ سعا دت ز ین کـر د
و ز جمله خسر و ا ن تر ا تحسین کـر د
تـا د ر حـر کت سمند زرین نعـلت
بر گل نه نهد پا ی ز مین سیمین کر د

مهستی ډېره ژرویونکی اوطبع ئې ښه روانه وه . ددې د اشعا ر ویو ښه پوره دیوان مرتب شو ی و ، مگر څنگه چه له ځینو تذ کر و څخه څر گندیږ ی دعبدالله خان اوزبك په زمانه کښې چه پر هر ات ئې حمله و کړه ، ممکنه د ه دادیوان بربادشوی وی . (۳)

---

(۱) شعرعجم ج اول ۲۵۹ مخ (۲) تذ کرة الخواتین
(۳) تذ کرة الخواتین .

د کلام نمونه :

ا ز من طمع وصال دار ی — الحق هو س محا ل دار ی
وصلم نتوان بخواب دیدن — این چیست که در خیال دار ی
جا ئیکه صبا گذر ند ار د — آیا تو کجا مجا ل د ار ی

ر با عیات :

قصا ب چنا نکه عا دت او ست مر ا
بفکند وبکشت و گفت این خوست مر ا

سر با ز به عذر می نهد بر پا یم
دم می دهدم تا به کند پو ست مر ا

* * *

افسوس که اطراف گلت خار گر فت
ز ا غ آ مد و لا له را به منقار گر فت

سیما ب ز نخد ان تو آ و ر د مداد
شنجرف لب لعل توزنگبار گرفت

* * *

شب ها که بنا ز با تو خفتم همه رفت
در ها که بنو ك مژه سفتم همه ر فت

آ ر ا م د ل ومو نس جا نم بو د ی
ر فتی وهر آ نچه با تو گفتم همه رفت

* * *

قصه چه کنم که ا شتیاق تو چه کر د
با من دل پر زر ق و نفا ق تو چه کرد

چو ن زلف در از تو شبی می با ید
تابا توبه گویم که فراق تو چه کرد

هر شب ز غمت تا ز ه عذا بی بینم
در دیده بجا ی خوا ب آ بی بینم
وانگه که چو نر گس تو خوابم ببرد
آ شفته ترا ز ز لف تو خوا بی بینم

* * *

من عهد تو سخت سست میدا نستم
بشکستن آ ن در ست میدا نستم
هرد شمنی ایدو ست که بامن کردی
آ خر کر دی نخست میدا نستم

* * *

در دام غم تو خستهٔ نیست چو من
وز جور تو دل شکستهٔ نیست چومن
بر خا ستگا ن جو ر تو بسیار اند
لیکن به وفا نشستهٔ نیست چو من

* * *

مگر مهستی چه دې مېر منی لخانته تخلص تا کلی دی، تذکره لیکونکی لیکی چه دا تخلص له دوو کلمو مر کب دی چه «مه» د «لویی» په معنا او «ستی دمېرمنی په معنادی . یعنی لویه مېرمن .

اوځینو «ستی» له سیدئی څخه مخفف ګڼلی دی اوځینی بیا وایی چه یو ورځ دې مېر منی سلطان سنجرته وویل چه :«من از کنیزان سلطان که هستم» یعنی کو چینۍ ، سلطا ن وو یل: «مه ستی» یعنی لویه یی . نو دا کلمه ئی په لږ تخفیف د سلطا ن دو یناپه تبرك دځان تخلص و ګر ځا وه ، او ځینی وایی چه سلطان «مه ستی» دمیم په کسره سره دونه ویل بلکه وېویل : «مه ستی» په فتحه

دمیم یعنی سپوزمی یی . مگر څوك بیاوایی چه دا اوهام دی ، څکه چه دمهستی لغت دلویی میرمنی په معنا راغلی دی لکه حکیم سنائی چه فرمایلی دی :- (۱)

ملك الموت من نه مهستیم من یکی پیر زال محنستیم

لنډه ئی داچه میرمن مهستی په ښځو شاعر و کښې و تلې وه اوپه ر باعیا تو کښې ئې خاص مهارت در لود .

داهم وایی چه مهستی دیوقصاب له زویه سره مینه در لوده . (۲)

لکه ددې لاندی رباعی څخه چه دمخه تیره شوه دامینه څر گندیږی:

قصاب چنا نکه عا د ت ا و ست
بفگندوبکشت و گفت این خوست مرا

سر با ز به عـذ ر می نهد بر پا یم
د م می دهدم تا به کندپوست مرا

مهستی هم دیره شوخه وه ، ددی په رباعیاتو کښې ډیری شوخی شوخی رباعی گانې شته ، چه دهغوله راوړلو څخه معافی غواړو . فقط دنمونی دپاره دالاندی دوې رباعی چه نسبتاً شوخی ئې لږ ده راوړو . په لمړی رباعی کښې خپل محبوب (دقصاب زوی) داسی ستایی :

قصاب یکی دنبه بر آورد زپو ست
دردست گرفت و گفت وه وه چه نکو ست

باخو د گفتم که غا یت حر صش بین
با ا ین همه دنبه دنبه د ارد د و ست

بل رباعی :

آ نی کـه تو بهیچ کس چیزی ندهی صدچوب مغل خوری و ممیزی ند هی
سنگی که ازوروغـن بزر گ گیر ند گر بز شکمت نهند تیز ی ند هی

(۱) (۲) دملا محمدصدیق اخند قامی تذکره .

دمپر من مهستی لحینی نوری رباعی گانی :-

(۱)

ما رابدم پیر نگه نتوان داشت　　در حجرهٔ دلگیر نگه نتوان داشت
آنرا که سر زلف تو چو زنجیر بود　　درخانه به زنجیر نگه نتوان داشت

(۲)

آن بت که رخش رشك گل و یاسمن است　　از غمزهٔ شوخ فتنه مردوزنست
دیدم برهش لطیف چون آب روان　　آن آب روان هنوز در چشم من است

(۳)

کار ازلب خشك و دیدهٔ تر بگذشت　　تیر غم اوز جان و دل بر بگذشت
آبیم تنگ نمود پس آتش عشق　　چون پای درو نهادم از سر بگذشت

(٤)

تا سنبل تو غالیه سائی نکند　　باد سحری نافه کشائی نکند
گرزاهد صد ساله به بیند دستت　　بر گردن من که پا رسائی نکند

(٥)

هر کارد که از کشتهٔ خود بر گیرد　　اندر لب ودندان چو شکر گیرد
گر بارد گر بر گلوی کشته نهد　　از ذوق لبش زندگی از سر گیرد

(٦)

ایام بر آن ست که تا بتواند　　یکروز مرا بکام دل ننشاند
عهدی دارد فلك که تا گرد جهان　　خود میگردد مرا همیگرداند

(۷)

درره گذری فتاده دیدم مستش　　در پاش فتادم و گرفتم دستش
امروزش ازان هیچ نمی آید یاد　　یعنی خبرم نیست ولیکن هستش

(۸)

با ابر همیشه درعتابش بینم　　جویندهٔ نور آفتابش بینم
گر مرد ملك دیدهٔ من نیست چرا　　هر گه که نگه کنم در آبش بینم

(۹)

بر خیز وبیا که حجربرداخته‌ام(۱)　　وزبهر تو پردهٔ خوش انداخته ام
بامن به شرابی و کبابی می‌ساز　　کین هردو زدیده وز دل ساخته ام

(۱۰)

اندر دل من ای بت عیار بچه (۲)　　مرغ غم تو نهاده بسیار بچه
این پیچش و شورش دل اززلف توزاد　　ازمار چه زاید بجز از مار بچه

ریاض شعرا لیکی چه مېرمن مهستی دېره ښکلي او ښا ئسته وه اوهم ئې دسلطان سنجر محبوبه یللي ده. اوددې مېرمنې دښائست په وصف او ستاینه کښې ئې دمیر شمس الدین فقیر دهلوی دابیتونه راوړی دی :

ز سر تا پای او حسن ولطافت　　چنان پیدا که از آئینه صورت
قدش بگرفته ازسرو چمن باج　　رعونت را رسانیده به معراج
ریاض دلبری راسرو موزون　　قد خوبان به پیشش بیدمجنون
نهال رسته از باغ نکوئی　　سهی‌سروی که باراوست خورشید

* * *

خم گیسوی آن شیرین شمائل　　کمندی بود بهر بستن دل
پریشان زلف برطرف بنا گوش　　سحر باشام گر دیده هم آغوش

---

(۱) (۲) ریاض شعراء.

ن

مېرمن نازو

دامېرمن دملی قائد میرویس خان مورده چه ددی ژوند او اشعار دپښتو په قیمتی اثر (پټه خزانه) کښې ذکر شوی دی- اودامېر من ئې داسی معرفی کړې ده :

«...هسی نقل کا: چه نازو دسلطان ملخی تو خی لوروه، چه تولد ئې په (١٠٦١) سنه هجری هغه ځای ته نژدې و؛ چه تازی (١) نومېزی، سلطان ملخی په هغه وقت دغزنی ترجلد که داقوامو مشرو، اوپه استقلال ئې حکومت کا، معارض اوساری ئې نه در لود، اونازو په کو چنیوالی له مېر منو دپښتنو اوسپین زیروعلماو څخه لوست و کا، اومېرمخې ارتینه وه، چه نارینه ئې مېرانی اوشجاعت اوسخاوت ته حیران و .

روایت دی له ثقه راویانو: چه سلطان ملخی وسور غره ته نزدې په جنګ کښې ومړ (٢) اوحاجی عادل چه دنازو ورورو، دپلار په انتقام جنګ ته ولاړ کلاو کورئې نازو ته پرېښو، اوپه هغه وقت نازو توره په ملا کړه، اودجنګیالیو ځوانانو سره ئې کور او کلا، له تاړا که ددښمنانو وساتل، ماته خپل پلارحکایت کا: چه نازو اناپه مېلمستیا اودغریبانو مسافرانو په پالنه معروفه وه. اوهروقت چه په ژمی به دمسافرانو قافلې راغلې، دنازو پر کلائې اړول، په سوو سوو مېلمانه به ئې روزل، اودوی ته ئې پوډی ور کوله، چاچه به کالی نه درلود، لباس ئې ور کاوه. اودسخاوت نوم ئې له خیبره تر کوسانه خپور شو، نازو په حباله دښالم خان هوتک وه، چه د کرم خان زوی و. اودهوتکو ښالم خپل چه نن ورځ پادشاهی دقندهار او اصفهان ددوی ده، له دې شجرۀ طیبه څخه دی. او نازو څلور زامن

( ) تازی - یوربط دی د کلات اوقندهار ترمنځ .

(٢) یعنی مرد .

درلود، چه مشرئي حاجی میرخان(۱) او نور عبدالعزیز خان، او یحیی خان او عبدالقادرخان دي، همسی روایت کا، محمد کاتب الحروف له خپله پلاره: چه نازو اناعابده صالحه ښځه وه، اوخپلو زامنو ته ئي ټول عمر په اوداسه شیدي ورکړلي، اوچه علیین مکان حاجی میرخان تولدشو، خوب ئي ولید: چه شیخ بیټنی رحمة الله علیه ورته وایی، دازوی ښه تربیت که، چه لوی سی، لوی کارونه به وکا، او په زیارت دبیت الله به ځان مشرف کا، او له نسله به ئي پیدا سی پادشاهان چه دین به روښان کا، نوحاجی میرخان چه وز ېږیدی، مورئي په دیانت اوعبادت سره لوی کا، اوددین فرایض ئي ټول پراوم کال وروښوول اوهر کله به ئي ده ته نصیحت کا!: چه زویه! دشیخ بیټنی نیکه قدس الله سره، له قوله ستا په مخ کښي دی اوی کارونه، نوچه لوی سي، دخدای عبادت اودخلقو خدمت کړه، ته خدای پیدا کړی ئي، ددي دپاره چه لوی کا رونه تر سره کړي اوخلق الله په خدمت ستا آرام وکا.

روایت دی: چه حاجی میرخان علیین مکان به هروخت ویل: چه زما مورمانه دلویو کارو وصیت وکا، زه باید همسی کارونه وکړم:- چه په(۱۱۱۹) سنه هجری ئي قوم دظالمانو له ظلمه وژغوره، نوئي سجده دشکرو کړه، اووي ویل: «خدایه! داهغه کارو چه ماته مورسپارلی و، اووصیت ئي کړی و، داخو ستا دعبادو اوبندګانوخدمت و، چه ماترسره کا!- زماپلار همسی وویل. چه نازوانیا علاوه برسخاوت او شجاعت اوعبادت همسی ارتینه ده، چه دخدای تعالی څخه په مناجات ئي، دېراشعار ویل، اویو دیوان ئي درلود، چه دوه زره بیټونه پکښي وه اوهلته ئي ښه نکات اداکړی و، اوداسی ئي ویلی و، چه نارینه ئي هم نسی ویلای اودغه رباعی چه دنازو اناده ماله خپله پلاره اروېدلی وه، الحق چه ښه رباعی ده:

(۱) مقصد له حاجی میرخانه څخه حاجی میرویس خان دی.

رباعی

سحر گه‌وه، د نر گس لپمه لا ند ه څاڅکی څاڅکی ئې له له ستر گو څڅپده
ماویل څه‌دی، کښلې ګـلـه‌ولی ژاړې؟ ده‌وېل: ژوند می دی یوه خو له خندیده
«رحمة‌الله علی‌الما ضین کـلهم الی یوم الدین!» (۱)

په پورتنی رباعی کښې چه‌سړی دقیق‌شی، ددې مېرمنې فلسفی‌لوړ افـکار ښه یـکښې ځلپږی، ژوند اومر ګ، اودې دواړوته دخوش‌بینې اوبدبینې نظریه ئې په‌ډېر ښه‌شان تصویر کړې‌ده. اوهمدافکردی چه‌دشرق‌معاصر فیلسوف «اقبال» ئې تقریباً تردووسو وکالو وروسته په‌ډېرخوږو الفاظو کښې راوړی اووایی.

شبی زار نا لـید ابـر بـهـا ر که‌این زندگی گر یهٔ پیهم ا ست
درخشیدو برق سبك سیر گفت خطا کر دهٔ خندهٔ یـکد م ا ست

ددې مېرمنې نوری معرفې ته‌حاجت نشته فقط هم دغه فخرئې بس‌دی چه پښتانه‌ملت ته‌ئې دملی‌قائدمیرویس په‌شان نابغه اوننګیالی زوی تقدیم کړی دی‌چه دوطن دآزادی تاریخ به‌هیڅکله دده کـار نامې هېری نه کړی.

* * *

مېرمن نازو

مېرمن نازو دآدم خان خوروه، چه قطب خان دآدم خان ملګری ته ئې په نکاح ورکړی وه. (۲)

څنګه‌چه آدم خان د(۹۵۰ه) په‌شاوخوا کښې‌ژوندون کـاوه نوددې‌مېرمنی ژوندهم په‌دغو حدودو کښې تا کـلای شو.

دامېرمن‌هم یوه افسانه‌لری‌چه په پښتنو کښې‌ئې‌ښه‌شهرت‌موندلی‌دی، اوپه‌دې افسانه کښې‌ئې خوازه ملی اشعار ویلی‌دی، چه‌دعواموپه‌خولو کښې لوبدلی‌دی

(۱) پټه‌خزانه ـ قلمی ـ دریمه خزانه.
(۲) ملی هنداره ـ ۲ ټوک قلمی.

اوپښتانه زلميان ئې په خپلو مجلسونو کښې وايي . دلته‌ئې دوه شعرونه چه په افسانه کښې خپل‌خپل ځای اوموقع لری دنمونې دپاره راوړو :

(۱)

دا بلبل چه آواز کاندی نه معلو مېږی
بلبله! راشه‌ځان څرګند که‌زموږ‌یاری‌په‌غلانه کېږی

(۲)

که سانډودی دابلو مربی‌سانډودی زماپه‌غیږ کښې زمری‌پروت دی
دابلومی ایمان نه لری هندو دی

* * *

مېرمن نسائی

مېرمن‌نسائی «سیده» نومېده اودخراسان له‌ساداتو څخه‌یوه سیده مېرمن‌وه چه «نسارود» ته نژدې اوسېدله اوله‌هم‌دې جهته‌ئې خپل تخلص «نسائی» غوره کړی‌دی. (۱) دامېرمن ښه‌شاعره وه اوددې‌دعصرشاعرانوددې‌دفکرپرلوړوالی تصدیق او اقرار کاوه . اشعارئې ویل مګرمعلومه نه‌ده چه مرتب دیوان به‌ئې پاته وی که یه ؟

د کلام نمونه :

دردم زیاده می‌شود و کم نمی شود گفتم به‌صبرچاره کنم‌هم نمی‌شود
شادم اگر دلم زتو بی‌غم نمی‌شود باری غم تو ازدل من کم نمی شود
مرهم میار بهر دوای من ای‌طبیب کین‌دردعاشقی‌است بمرهم نمی‌شود
داغی نهاد بردلم آن بی‌وفا که‌عمر بگذشت و دردمندی آن کم نمی‌شود

سازد بداغ هجر «نسائی» خاکسار
چون خاطرش بوصل‌توخرم نمی‌شود

---

(۱) تذکرة الخواتین .

یو بل مطلع :

عاشقی باقامت ابرو کمندی کرده ایم
با همه پستی تمنای بلندی کرده ایم

په ځینو تذکرو کښې ئې لیکلی دی چه ددې مېرمنی اصلی نوم «فخرالنساء» و او «نسائی» ئې تخلص تاکلی و . (۱)

* * *

میرمن نیکبخته

دامېرمن هم دپټی خزانې شاغلی لیکونکی راته معرفی کوی، ځکه چه ددې مېرمنی په شاوخوا کی اضافه څه معلومات لاس ته رانغله، نوعیناً دپټی خزانې عبارات دلته رانقلوو :-

« . . . داعصمت پناه ، اوعارفه دالله ، د شیخ «الله داد» لوروه، په قوم موزی چه په اشنغر کی ئې پلار اونیکه دمن زیو مرشدان وه ، هسی وایی کاتب الحروف محمد: چه زما پلار روایت کا ، چه شیخ امام الدین خلیل غوریا خیل پخپل کتاب «اولیای افغان» هسی کښلی دی ، چه شیخ الله داد لوی ولی و ، اولورئې نیکبخته چه په حقیقت هم نیکبخته عارفه ښځه وه ، علوم دینی ئې ولوستل اوپه ریاضت اوعبادت دخدای ئې عمر تېر کا .

په سنه (۹۵۱) هجری په حباله د نکاح شرعی «د شیخ قدم» قدس الله سره راغله چه د خواجه محمد زاهد خلیل متی زی زوی، اوعارف دخدای و ، په سنه (۹۵۶) ئې له بطنه غوث الزمان قطب دوران شیخ میان قاسم افغان په بدنی کښې پیدا سو اوداشیخ په معرفت دخدای شهرت و کا چه په هند اوپښتونخوا مشهور سو .

نقل کا : چه شیخ امام الدین هم ددې عرفاله اولاده دی ، اودی په کتاب د «اولیای افغان» هسی کابزی : چه بی بی بیکبخته چه دخدای عارفه او رابعه

(۱) مشاهیر النسوان - ۵۵۰ مخ .

دزمانې ده ، یو کتاب ئې کښلی دی ، چه نوم ئې دی «ارشادالفقرا» او په دې کتاب ئې هسی نصیحتونه په شعرو یلی دی چه فقرا اوعبادالله ته مفیددی ، دا کتاب په سنه (۹۶۹) هجری تمام سوی دی ، اوزما پلار ئې نسخه لیدلی وه په «بنو» کی ، هغه وخت چه دی تللی و په سفر دهغه ځای . دغه شعرونه له هغه کتابه زما دپلار په یادوه ، چه مادلته ځنی نقل کړل ، چه کتاب می په ذکر دعارفۀ دوران رنګین وی .

مثنوی په نصیحت کی

په زړه ښادشې اې مومنه ! — په ظاهر په باطن سپینه !
ظاهر زهد په اخلاص کړه — په زړه ټینګ شه له یقینه
شکر صبر پر هر حال کړه — خود نمای مشه خود بینه
شپه و ورځ به په ژړا یې — که خبر شې له سجینه
سجین ځای د خود نمایه — د بې نما زو او بې دینه

له هغه ځا امان را کې
یا الله العالمینه !

* * *

بل نصیحت

دخدای حق ته غاړه کښېزده — نوری نوری وینا پر ېږده
د نیا پا ته له هر چا ده — په اخلاص کی ځنی لېږده (۱)
څوقوت لرې په ځان کی — سر دیار په رضا کښېږده
ځان له بده خو یه ژغوره — زړه په ذکر دیار بلېږده
کل دنیا به دی دښنه (۲) شی — اوس له بهر ی ځنی ریږده
تو له غوا ړ ی حسا بو نه — که دی اوښی که دی مېږ، ده

د نیا ترک و هه که پوهیې !
د بقا پر لـو ر ی پښې ز د ه

---

(۱) لېږد - یعنی کوچ (۲) دښن - یعنی دښمن .

بل نصیحت

په طلب ئې و د ر پښ ه په خد مت ئې هو سپښ ه
له جمله بدو نفرت کړ ه و نیکی ته و لا ړ ښ ه
په نیکی کی ئې اخلاص کړ ه بد ی مکړ ه و پو هېښ ه
پر ګناه له دو اړو ستر ګو د باران په دو د و ر ښ ه
چه یا ر ب ا لعا لمینه ! له ګنا هه ر ا تیر ښ ه
خدای به رحم په نا و کا په ز ا ر یو ته ژ ړ ښ ه
بې پر وا، وخدا ی ته مشه له غضبه و و پر ښ ه

هرغه (۱) فعل چه ئې حق دی
په طلب ئې و ښو ر ښ ه



(۱) غه مخفف له (هغه) څخه دی اودپښتوپه پخوانی ادب کښی داتوری دپر استعمال لری.

و

میرمن ویسواوارا

میرمن ویسواوارا چه دویدی عصر شاعره ده اوپه پنځم کتاب کښې اته ویشتم سرود ددې میرمنی تصنیف دی د «اتری» له فامیله څخه ده او داسرود اګنی ته خطاب دی : سرود (۱)

امری بند :

«داګنی اورا! خپله ځلا اودر خشند ګی آسمان ته استولی ده چه سهار هلته ځلیږي اورنائي هر لورته خپر یږی - دده څمڅی (چمچه) د شرق خواته ځی - اوتول هغه بر کتونه چه ارباب انواع ئي په ستاینه او میګساری «قربانی» کښې ورکوي هغه راوړی .

دو هم بند :

ته اي ځلید ونکی! دجاویدو مخلوقاتو تو لواك یي! څوك چه تاته قربانی راوړي هغه ته ګوري، اوچاته چه ته وګوري تول شیان دهغه په لاس ورځی - ای اګنی! دی تولی هغه تحفې اوسوغاتونه چه میلمانه ئي غواړی تاته وړاندی کوی اوستامخ ته ئي بزدی »

(۱) بناغلی پژواك له انګلیسی څخه په فارسی ترجمه کړی دی .

ی

مېرمن یامی

مېرمن یامی دیاما چه دمرو پاچا دی خورده- اودویدی عصریوه ښه شاعره ده چه در یکوید په لسم کتاب کښې ۱۵٤ سرووددې پنامه ثبت دی. په دې سرود کښې و نوی ژوندون ته یعنی پس له مرګ ژوند ته خطاب دی اودا سرودد تد فین د مراسمو په وخت کښې ویل کېږی .

سرود (۱)

لمړی بند :دچا اوچادپاره سوما صافېږی- څوك دقربانی تقدیمولو ځای ته نژدې ناست دی-زه دعا کوم چه دده (مړی) روح وهغه کسانوته ولاړشی چه دهغو د پاره غسل جاری کېږی .

دوهم بند :دعا کوم چه مذهبی تودوالی اوجذبه دی هغه کسانوته و روړی چه دې جذبې اوتودوالی دوی آسمانوته بیولی دی. هغه چاته ئې بوزی چه په ژوندون کښې ئې مذ هبی جوش څر ګند کړی دی .

دریم بند :دعا کوم چه هغه کسانوته ورشی چه دجنګ میدان ته دپهلوانانو پنامه تللی دی اوپه زړه ور توب ئې ځانونه قربانی کړی دی . یاهغو کسانوته چه زرچنده پاداش ور کوی .

څلرم بند :هو! دپاك اومقدس آئین ولمړیو پیروانو ته دی ورشی چه دا آئین ئې تقویه کاوه -ونیکه ګانوته یما-هغه څوك چه مذهبی تاوده جذبه اوجوش ئې درلود.

پنځم بند :هغه کسانوته دی ورسی چه په زړو ذریعو اوطرزو کښې ئې پوره لاس درلود، هغوښو خلقوته چه دلمړ سا تندویه وه- هغوریشا ګانوته چه مذهبی توده جذبه اوجوش ئې درلود- دعا کوم چه هغو ته ورسی .

---

(۱) دانګلیسی څخه مترجم: ښاغلی پژواك .

دو هزار برخه

او سنی مپر مغی

اوستی مپرمنی

«داوقیانوس په زړه کښې ډېر ځلانده ګهر ځلېږی چه څوك ئې نه وینی - په غرو اورغو کښې له ستر ګو لیری ډېر ګلو نه غورېږی چه خپل عطر او طراوت دصحرا نسیم ته سپا ری مګر څوك ورته ملتفت نه دی!» (ګری دانګلیس مشهور شاعر)

* * *

له دی سببه چه داوسنیو فاضلو مپرمنو نومونه د صحرائی ګلو نو په څیر دژوند ترڅو ورځوروسته ورك نشی اوددوی ادبی او عرفانی زیار عبث نه وی تللی، نوغواړم چه له خپله وسه سره سم داوسنیو پښتنو مپر منو حالات هم څه نه څه وليکم. که څه هم زما دالیکنه به ډېره ناقصه وی اولکه زړه چه می غواړی هغسی به کامیاب نه یم (بلکه په اوس حال کښې خو یقیناً دومره هم نشم کولای چه داوسنیو ټولو مپرمنو شرح حال که څه هم مجمل وی لاس ته راوړم اووئې لیکم. ځکه چه ددې محیط کم مشکلات چه زما مخ ته در ږېزی څه پټ نه دی) مګر سره له دی ټولو مشکلاتو بیا هم یوه یادونه ده اویواساس اینبوول کیږی ګوندی په راتلونکی وخت کښې ددی مپرمنو یوبل زلمی ورته پیداشی چه دوی په ښه شان معرفی کړی، اویادوی پخپله و کولای شی ځانونه په نورو و پیژنی هله به نو دانقیصه پوره شی، خو فعلا دادی زه په پاك وجدان داو سنیو مپر منو په معرفی کولو پیل کوم او دوی هم د «الف، با» په ترتیب راوړم ـ اوداهم وایم چه داوسنی عصر ټولی مپر منی دغه ندی بلکه داهغه دی چه ماته ئې لږ لږ حا لات معلوم شو یدی.

(بینوا)

الف

مېرمن آرا

مېرمن آرادمرحوم عبدالخالق خان لور او په‌خته کا کړه ده دا مېرمن په ۱۲۹۷ هـ کال د کابل دده افغانانو په نوآباد کښې زېږېدلې ده او خپل ابتدائی تحصیلات ئې دمستوراتو په مکتب کښې ترپنځم صنفه پورې پای ته رسولی دی،بیائې دپښتو کتابونه دخپله پلارهڅخه ترپایه پورې ولوستل چه او س په پښتو کښې ښه لاس لري او سږ کال (۱۳۲۲ هـ)دقابلګۍ په مکتب کښې د پښتو په معلمۍ ټاکلې شوې ده .

هیله کیدای‌شی چه دامېرمن به‌ترڅه مدی وروسته دپښتو یوه‌ښه‌لیکونکې شی او ضمناً به‌دپښتووا دبیاتوته هم توجه وکړی او معلومات به ئې ډېرشی .

* * *

مېرمن آمنه ناهید

مېرمن ناهید دښاغلی اسماعیل خان دنجات‌دښو ونځی دمعلم لور ده چه‌دقوس په ۱۵ په ۱۳۰۱ هـ کال په کابل کښې زېږېدلې ده‌او خپل ابتدائی تحصیلات ئې پکور کښې شروع کړې اوورو سته ئې دښځو دقابلګۍ په‌لیسه کښې خپل تعلیمات وپای ته رسولی دی‌اوتردرو کا لوورو سته ئې دېپلومه‌واخیستله‌بیا چه دغانې جوړو لولیسه وپرانیستله‌شوه‌نودامېرمن چه‌دطبابتې سره ئې ډېره‌مینه‌در لوده په‌دې لیسه کښې شامله‌شوه‌داتعلیمات ئې هم وپای ته‌ورسول‌تردروکا لوورو سته ئې دغانښو دجوړولو دېپلومه‌هم واخیستله . اوس‌دغانښو جوړولو په‌مؤسسه کښې‌معاونه ده وایی : چه‌په المانی ژبه لږلږ پوهېږی اودوطن یوه‌ښه‌لیکونکې د ه.

د لیکلو سبك ئې ډېرروان دی، ددې‌مېرمنی‌فقط ماځومقالې په انیس کښې

لوستلی دی ' انتقادی جنبه ئې ډېره ده اود کورنی ډمضروعیبو په اصلاح کښې خصوصاً په صحی موضوعا تو کښې زیار باسی او کوشش کوی چه اجتماعی ' کورنی عیبونه په خپل قلم وخپلو همجنسو مېرمنوته څرګند کړی اوپه دې ذریعه دوطن مېرمنی او او سنۍ نجونی وصحی نوا قصوته ملتفتی کړی ددې مېرمنې له همدی څومقالوڅخه ددې نبه لیاقت او استعداد څرګندېږی اوویلای شوچه دامېرمن به ددې وطن وراتلو نکی وخت ته ډېره ښه لیکونکی شی . اودمطالعې لمن به ئې تراوس لاښه ارته او خپره شی .

مادلته محض ددې مېرمنی نوم ذکر کړ ' څنګه چه دیو لیکونکی شخصیت له څومقالو څخه پوره نه څرګندېږی . نو کهداسی مېرمنی زه پوره معرفی نکړای شم او ددوی حق ادانکړم .البته معذوریم او محترم لوستونکی به ماعفو کړی.

مګر ښائی چه را تلونکی نسل به دخپلو فاضلو مېرمنو ډېر قدرو کړی اوپه پوره ډول به دوی معرفی کړی .

* * *

مېرمن انجیلا

دامېرمن « کاملە » نومېږی چه داعلیحضرت امیر حبیب الله خان شهید صبیه ده عمرئې د ۲۸ کالو په حدود کښې دی. دې مېرمنی خپل تخلص « انجیلا » غوره کړی دی او خپل تعلیمات دښځو په مکتب کښې تر رشدیې پوری رسولی او په ۱۳۱۶ هـ کال کښې ئې دښاغلی محمد کریم خان (ددې دا کازوی) د کرهنی متخصص اود کرهنی دآفتو دور کولو دمدیر سره ئې ازدواج کړی دی چه اوس دوه کوچنیان لری .

د دې مېرمنی چه ځینی مقالې په انیس کښې نشر شوی دی دا مېرمن دښو ذوق لرونکو اومطالعه کوونکو مېرمنو په ډله کښې دروی او ددې له همدې مقالو څخه څرګندېږی چه دا مېرمن دښو لطیفو احساساتو او ادبی قریحې

مېرمن ده ، اودوطنخواهی پاکی: اوسپېڅلی آرزو گانی ددې پښتنې مېرمنی له لیکلو څخه ښکاری اودهغه شوق په اثر چه له مطالعې سره ئې لری هیله کیدای شی چه راتلونکی وخت ته به یوه فاضله اودښه قلم مېرمن شی په مطالعه کښې له ادبی آثارو سره دېره مینه لری اودپارسی ژبی دېر آثار ئې مطالعه کړی دی .

دفرانسوی ژبی زده کړی ته ئې هم ښه توجه کړې ده چه اوس تریوځایه کامیابه شوې هم ده .

اوس ددې یوه مقاله چه دازدواج په موضوع کښې ئې لیکلی ده دنمونې دپاره دانیس له ورځ پانې څخه رانقل کوو (۱) :

راه خوشبختی درازدواج !

نفاقی که درملك ما بعد از ازدواج بین زن وشوهر پیدامیشود سبب این است که اگر یك مرد میخواهد زن بگیرد ازین نقطهٔ نظر نمی گیرد که آیا میتوانیم حیاتی بسر بریم که موافق طبع یکدیگر باشد ، هیچ فکر نمی کنند یك دختر را که نمی شناسد واز اخلاق وعادات آن خبرندارد چطور با اوزندگی خواهد کرد؟ بلکه زن را بازیچهٔ آیندهٔ خود دانسته از جملهٔ اثاث البیت خانه می شمارد ازان رو آینده را مدنظر نگرفته برای اینکه (بخیال خام خود) چند روز وقت خویش را بخوشی (؟) بگذراند مادر یاخواهرخودرا مجبورمیسازد که برایش زن بگیرد. زنها هم که یگانه آرزوی شان همین است که عروسی پسر و برادر خودرا ببینند بدون فکر شروع به طلبگاری دخترها کرده تا اینکه پس از زحمت بسیار بدبختی را پیدا میکنند که پدر و مادر آنهم از جهل بنام اینکه هوس وارمان خودرا می کشند گفته بدون تحقیق واستشار ازدختر خواهش شان را قبول میکنند طبیعی است که نود درصد بعد ازعروسی فکرهای شان برخلاف یکدیگر بوده عاقبتش به نفاق منجر میشود .

---

(۱) دانیس ورځ پانه - ۱٤ کال ٦٦ گڼه .

درین‌جا آیا قصور از کیست؟ازمادر است یا ازپدر ؟ از زن‌است یاازشوهر؟ منصفانه بگوئیم پدر ها ز یاد ه تر تقصیر دارند به نسبت مادرها ـ برای اینکه آیا مادر بی تعلیم چطور میتواند دختری تربیه کند که موافق طبع پسران تعلیم یافته باشد ؟ درصورتیکه خودش‌هم‌ازتعلیم‌و تربیه‌نامی نشنیده اماپدران تعلیم یافته که‌بگفتهٔ شما معنی‌حیات‌را میدانند میتوانند که‌بتعلیم‌وتربیهٔ‌دختران خود کوشیده مطابق شریعت مقدس اسلامی بانجام ا مر ازدواج بکوشند. در این صورت البته خوشبخت خواهند بود و آیندهٔ درخشانی خواهند داشت.اما افسوس که این‌حرف طرف قبول پدرهای باتعلیم واقع نخواهد شد تاچه‌رسد به‌پدرهای‌بیتعلیم ، چراپدران ازدخترهای‌خودحق‌مشروع شانرا نسبت‌برضائیت در ازدواج‌سلب مینمایند؟ وصرف نظر برسم و رواج و اینکه خویشا وندان وسیال و شریك چه خواهد گفت ، حیات یك خانواده بلکه بالنتیجه حیات یك‌جامعه‌راخراب میسازند . یقین‌باید کرد که‌اگراین وضعیت باقی‌باشد آیندهٔ درخشانی‌را ازین‌چنین‌ازدواج نمیتوان امیدداشت. پس‌شما ای‌پدران! امروز خودرا نصیحت کرده دختران‌تانرا بواسطهٔ مکتب یابواسطهٔ خود به علم وهنر آشنانموده به‌فراهم آوردن امرازدواج مطابق‌به‌مقررات شرع شریف کوشش نمائید تا درتهیهٔ اسباب استراحت واتفاق عایله وی دربین افراد این جامعه خدمتی کرده باشید !

ح

مېرمن حاذقه

ددې مېرمنې نوم «کشوره» دبرډانې محمدعثمان خان لور اودهرات دجوې نو دحکومت د کشکك د کلې اوسېدونکې ده .

دامېرمن په ۱۳٤۰ هـ ق دمحرمې دمیاشت په ۲۵ ددوشنبې په ورځ دسهار پر ۹ بجې او ۱۵ دقیقې په پورتنۍ کلې کښې زېږېدلې ده .

له اوو (۷) کالو څخه ئې په خپل کورنۍ مکتب کښې ابتدائی تحصیلات شروع کړی اوپه لږه مده کښې ئې دپارسی اوعربی دفقه او احادیثو اونور ابتدائی کتابونه پای ته ورسول اوځان ئې دمطالعې دپاره ښه مستعد کړ . په دې وخت کښې نو دې ته دادبیاتو دمطالعې شوق اوذوق راپاڅېد اودائې هم دغې ښکلی اولویی دنیاته ورکش کړه ، دځینو رنګینو ادبی کتابو په مطالعه بوخته شوه ، څوترڅه زمانې وروسته دښې ادبی قریحې مېرمن شوه اودشعر اوشاعرۍ سره ئې مخصوصه مینه اوعلاقه پیدا کړه ، چه اوس ددې مینې اوعلاقې په اثر کښې دوطن یوه نومیالۍ شاعره بلله کېږی اوددې اکثر اشعار د «اتفاق اسلام» دجریدې په ذریعه دمملکت وافرادوته رسېږی . په شعر کښې هم ښه قلم لری کهڅه هم ابتدائی دی مګرهیله اوامید کېدای شی چه څو کالو وروسته به دخپلې دې علاقې اوجدیت په اثر یوه پخه لیکونکې او شاعره شی .

ددې مېرمنې د لیکولویو لوی مزیت اودستایلو اوقدرو صفت دادی چه هم په پښتو اوهم په پارسی نثر لیکلای اوشعر ویلای شی چه دسوانح په پای کښې به ئې نمونې راوړو .

ددې مېرمنې پښتو اویوځه هم انګلیسی ژبه تر مروښۍ وروسته دخپل مېړه ښاغلی (منیری) څخه په درس لوستلې ده.

دحاذقي آثار :

کڅه‌هم دامېرمن تراوسه دمطالعې په‌سیند کښې ډوبه‌اود کتابو له کتنې سره‌زیاته مینه‌لرې چه‌دمستقل اثرلیکلو ته‌ئې فرصت نه‌دی موندلی مګر بیاهم ځنې آثار ئې‌اوس ترلیکنې لاندې‌نیولی دی چه څه مده و روسته به تکمیل اوبشپړ شی '

١ :ـ د«حیات نسوان» پنامه یو کتاب

٢ :ـ «همکاری بملت» یوبل کتاب‌دی چه‌یوه اړ برخه‌ئې لیکلې‌شوې‌ده.

٣ :ـ د«پروین اعتصامی» ددیوان استقبال چه‌لویه برخه‌ئې تمامه‌شوی‌ده.

٤ :ـ«آثارحاذقهٔ هروی» ددې‌داشعارو اونثرومجموعه‌ده‌چه‌په‌دې‌مجموعه کښې (١٢٠٠٠) بیتونه او(١٥٠) مقالې پښتو اوپارسی‌دی .

دمېرمن حاذقې مشاعرې :

لمړی مشاعره !

څنګه‌چه دهرات دادبی ټولنې رئیس ښاغلی «شایق هروی» داتفاق اسلام په(١١٦٦) ګڼه کښې ' ددې مېرمنې داستعدادڅرګندولو‌دپاره دې ښاغلی دهغې مېرمنې سره‌یوه لنډه مشاعره کړې‌ده اوداسی وایی:ـ

« ...تصادفاً یکروز باښاغلی‌منیری صحبت ادبی داشتم.حالات مېرمن‌حاذقه‌را خواستم‌مفصل‌علم آوری کرده مقام‌حقیقی‌موصوفه‌را درعلم‌وادب‌تشخیص کنم چندسوال پښتو وچند فردمثنوی نګاشته ذریعهٔ‌طفل کوچك نزدمېرمن‌حاذقه فرستادم جوابات پښتو بعدازده دقیقه وجواب مشاعره بفاصلهٔ یك‌ساعت رسید ازجوابات پښتو واضح می‌شد که‌ادیبهٔ محترمه‌تاجزواول‌سمستر دوم‌پښتو کلی رادرس خوانده ودرامتحان کامیاب است .

اینك صورت‌مشاعرهٔ مختصررا ذیلاً بمعرض‌مطالعهٔ‌قارئین‌محترم می گذارم:

حا ذ قه! ای منبع علم واد ب — نا م تو بر نهضت نسو ان سبب
خواهم از اشعار که خود گفته اید — زان در شهوار که خود سفته اید
یا که کنون سر زند از طبع تان — خو د بنگا ر ید ز طبع رو ان

(شایق هروی)

جواب

شا یقا ! ا ی ا د یب نیك سیر — صاحب علم و حلم وزهد واثر
من نیم عا لم وز بان آ و ر — تا کنم خد متی بنو ع بشر
منکه ا مر و ز ژ ر اه پیمو د م — غیر عقد د لم نه بکشو د م
چون مرا نیست عقل و هوش و خرد — شخص نا د ان به علم پی نبرد
د ا ر م ا مید ا ز جنا ب شما — معذرت خواهم از غیاب شما

(حاذقه)

دوهمه مشاعره (۱)

کم وخت چه مطبوعاتی هیئت په ۱۳۲۱ ه کال ولایاتو ته تللی و، په هرات کښې مېرمن حاذقی ښاغلی پژواك ته دالا ندنی مسدس را لیږلی و :

تو ای بادصبا تا کی بقید و بست و معیا دی
چر ا بنشستی از پار چرا از ر ا ه افتا دی
بکو ه ودشت پیمائی تو خود بسیا ر استا دی
زهر کس عرضه اش را سوی مطلوبش فر ستادی
نمیدانم به بخت من چرا د ر خو اب میبا شی
همیشه جستجو یت میکنم نا یا ب میبا شی
سوی کابل سلام من به پژواك است اظهارت
وزان پس گوی کای اهل قلم مشتاق آ ثارت

(۱) د اتفاق اسلام له جریدې څخه - ۱۹ گڼه ۱۳۲۱ کال.

همیشه گوش من در انتظار سمع گفتا رت
محیط ما سرافراز است از کلك گهربارت
همیشه فکر تو بندد با صلاح وطن مضمو ن
ازین بهتر نباشد خدمتی در جامعه ا کنون

توهم دانی بود حب وطن جزوی زا یمانت
نگردد گروطن آباد از کلك در افشانت
زند درروز محشر جامعه د ستی به دامانت
زغفلت هم بسی مسئول گردی نزدو جدانت

ترا علم استو فهم ودانش وبینائی و ادراك
به بهبود وطن میکوش ای پور وطن پژواك
بحا لات وطن بنگر زعیب ما سخن میگو
با طر اف جهان می بین رهی بهتر ازین میپو
زر فتار بطی و حا لت و او ضا ع ما میگو
برای چارهٔ این درد بید رمان د وا میجو
زبانت هستو بازو اینست خصم دشمن جانت
بکن غو ری که درد مابود محتاج در ما نت

زنسوان وطن آخر قلم را گیر در آغوش
باصلاحات این تن پروران یك اند کی میکوش
لباس زند گانی را بجسم دختران می پوش
به بیکاری اوشان کن نظر بر خویشتن میجوش
زفی صدده نبـا شد بهر هٔ از علم نسوان را
تر قی دربساط معر فت نسو ان بیجا ن را

نمیگویم که اکنون چون ملل باشیم در محفل
ولیکن کوششی باید مسافر را سوی منزل
بباید کرد نقصانات مارا عاقبت کامل
بمقصد میرسی آخر اگر کوشش کنی ایدل
بغیر از صنعت امروزه ما را نیست درمانی
بمن افسانهٔ دیو و پری تا کی همیخوانی
بفردا «حاذقه» گر نیست لیکن دار درمانی
چنین ارمان بیحدی که وی را نیست پایانی
رموزی گفتمت در نامه ام باقی تو می دانی
کند عفو جسارت چون تو دانائی وبینائی
وزان جانیزای بادصبا چون برق بیرون آ
جواب نامه امرا گیرو باآثار مضمون آ

دشاغلی پژواك جواب :

بیا ای دل زار اندیشناك — هماره پی آرزوهای پاك
شوم خاك راه نسیم هری — که کیفیست خوش درشمیم هری
من از مدتی آرزو داشتم — که کاش اندران ملك رو داشتم
ولی راز این جذبه برمن نهان — مرا بود مایل بدانسو روان
که باری زبخت رساو بلند — شدم من بدان خطهٔ انجمن
بدیدم که انجامرا خواهریست — که بنشسته اندر سیاه چادریست
چو ماهی که در ابر با شدنهان — درون سرا پرده کرده مکان
نیاید برون زانکه چشم محیط — شده درسیه پرده های محیط
که درسایهٔ آن زن ناتوان — نشاید کند جو هرش رانهان
. . . . . .

کنون یك دوروزی که اندرهری — مراطالع آورده نزدیك وی
چه شد گرندیدم بصورت ورا — که خوش دیده‌ام من به سیرت ورا
به بخت رسا ناز باید کشم — ز دل عقده ها باز باید کشم
ولی چون بخود من نظر میکنم — یکی کار شمع وسحر میکنم
وراچون سحر نور تابندهٔ — مرا حالت شمع سوزنده
اگر از تعصب نگویم دروغ — همیسوزم اما ندارم فروغ
چو آیدورا چشمهٔ خور بجوش — مرادردمی ساخت باید خموش

* * *

ندارم درین سطرهای پریش — بجز یکدوحرفی ز احساس خویش
که آن صاحب فضل همشیره وار — زمن گیرد آن رایکی یادگار

بداند که درد من و او یکیست
ولی هر کسی صاحب دردنیست

دمپرمن حاذقي نشر :

ددي مپرمنۍ دپری مقالي داجتماعی عیبونو په شاو خوا کښي داتفاق اسلام په جریده اوروزنامه کښي نشرشوی دی اوا کثره ئي په پارسی لیکلی، خو دلته به ئي دپښتو دمقالو څخه ددي لمړی مقاله چه په پښتو ئي لیکلی او په اتفاق اسلام کښي نشرشوی ده د نمونې دپاره په خلص طور عیناً راوړم چه دملی ژبی سره ددي مپرمنی مینه اوعلاقه ښه ځنې څرګندېږی او دپارسی مقالولوستلو ئي د اتفاق اسلام جریدې ته حواله ورکوو .

ددي پښتو مقاله :

په ملی ژبه لیکل وکیء

(نریوې ښې جذابي مقدمې وروسته لیکی) ! . . . «اماښکاره خبره ده چه ژبه دیوه محیط په اجتماعی شئوناتو کښي ژوره اغیزه لری، دهری ژبی لهجه مخصوص اثرات لری چه دهغی دخبرو کوونکو ملی خصائص ځنی پوره څرګندېږی،

نـو ځکه دځوا نـانـو لیکوالو دمحترمی تولیـ ځخه هیله کېږی چه دخپلی ملی ژبی پښتو په ژوندیـ کولو کښې ترخپلوس پوری زیارو کاږی، اوپه دې خوږه ژبه خپل احساسات څرګندا ونشر کړی، دیاره ددې چه خپل ملی شهامت په ځای اودتولنی اخلاق د خپلو ملی عواطفو په قوت اصلاح کاندی، قومی اونژادی یووالی دی په صحیح ډول سره ژوندی کړی ـ « حاذقه »

دشعر نمونې :

اوس به ددې مېرمنې څودشعر نمونې راوړو ، چه یو شعرئې پښتو اونورئې پارسی دی او ددې دطبع دمعلومولودپاره ښه هندارده دا وهم ددې مېرمنی دوطن پرستیـ حس په ښه شان ځنې څرګندپږی .

(۱)

ایدل زبلاغت بصناعت نظر انداز ازدا من غیرت بزراعت ثمر انداز
ازجوف قضا تیرهدف زن بصف غیر در کشف فلزلرزه بکوه حجرانداز
ازپه درو کالربگذر سنگ شکن باش از کسب صناعت بدول شوروشر انداز
می پوش برك باش بکر باس مزین از البسهٔ غیر ملامت ز سر انداز
دربحرادب غوطه زن وعلم بچنگ آر در زورق دل کیسهٔ درو گهر انداز
امروز تو خواب آمدوفردای تو حسرت ازخواب گران خیزو بفردا نظرانداز
ازروی کرم دست جفا گیر زملت بافکروخرد هوش بسوی هنرانداز
باخلق خدا خلق نیکو کن زرهٔ حلم این کبر ابارا بقوای فنر انداز

ابیات تو ای «حاذقا» دردشراب است
زان دردیکی قطره بحلق بشر انداز

(۲)

تابکی ازعلم وصنعت بی خبر ماند اناث باچنین حال فلاکت بی هنرماند اناث
گرپدرها دختران خویش را درصغرسن داخل مکتب کنند کی بی اثرماند اناث

علم فرض آمد زیزدان برذکور و براناث　　پس چرا زین حکم خالق بی خبر ماند اناث
علم را نوری است کز نورش شده پیدا بشر　　کز چنین نور شرافت بی ثمر ماند اناث
تا بکی اندر خرافات جهالت مضمحل　　بهر نیم نان بذلت در بدر ماند اناث

«حاذقه» خودرا مزین کن ز انوار هنر
تا ازین معنی باوضاع دیگر ماند اناث

(۳)

استقلالیه :

کردای اهل وطن روز نشاط ما ظهور
رفت شام غم رسید ایندم بما روز سرور
اندرین شادی وعشرت چشم اعدا گشت کور
حکم قرآن کرد هرجانسخ تورات وزبور
هر کجا ساز مسرت دروطن باشد بجوش
غرش وآواز وحدت می رسد هردم بگوش
دورهٔ آزادگی ما رانه مفت و رایگان
آمده ، اکنون بیابشنو که گویم شرح آن
خاك این خطه بوده محلول خون کشته گان
صدهزاران اندرین ره سرفدا کردند وجان
بزم امروزی زخون جاهدان آمد بدست
تا کلاه فخر و عزت برسر افغان نشست
همت ما آشکار قبضهٔ شمشیر ماست
غیرت ما در محافل صاحب تدبیر ماست
جملهٔ اعدای دین تا هر کجا نخچیر ماست
همت امروز ما از غیرت تأثیر ماست

سرخ روئی نیست مارا غیر خون دل بکف
روز سربازی توانیم کرد دشمن‌را هدف

حاذقه! تامی‌توانی خون‌دل خور روز و شب
صد ق را نبود بدنیا ظاهراً رنج و تعب
می‌توانی شد بهر طفلی حقیقت را سبب
اندرین‌ره جان اگر بخشی بکس نبود عجب
خدمت‌نوع بشررا فرض اگردانی رواست
جان اگربخشد بملت اهل‌معنی‌را سزاست

(٤)

پښتو غزل :

شکر و کـه ای ملته د پښتون — ترقی له هری خوا ده روز افزون
هله پاڅه نن زحمت واخله په‌ځان — زیارو کاڼه په صنعت او په عرفان
که هر ځای لری د عوا د ملیت — خپل ځان و ګڼه خادم د مملکت
ولی نه بـه کـړ و بیا فـخر مسرت — شـو پیدا د ملـی ژ بـی اهمیت
زده کول‌هم ددې ژبی لوی کمال دی — پرپښتودلئې‌هر پښتون لره دډیرعار دی
په وطن کښې د ملی ژبی نو بت دی — نن‌جاری په‌هره خوا کښې علمیت دی
توریالی زمری پښتونه‌ځان بیدارکړه — په علومو او فنو نو دی تلوار کـړه
داموزتول‌ددې‌وطن‌خدمتګان‌ران‌یو — نرا و ښځی یو تربل فدا کاران یو
رالځیء تول چه په‌ملی‌ژبه وینا کړو — په‌اصلی‌صورت‌ښکاره‌ځان‌په‌دنیا کړو
هر پښتون د ملی ژ بی طرفدار دی — که‌ادیب‌دی که کاسب که‌زمیندار دی

حاذقه شعرونه وایی‌خواری کاندی
په لیکلو دپښتوکښې به شی وړاندی

مېرمن حمیرا

ماچه دا کتاب لیکه ، څوواره می په مختلفو ذریعو له دې مېرمنی څخه خواهش وکړ چه خپله سوانح را کړی . مګر ددې له خوا بېله دی جوابه چه: «زه دومره لیاقت نه لرم اودنوم اخیستلوور نه یم» بل څه جواب می ونه موند . اوهم وایی چه «زه دخپل شهرت سره علاقه نلرم!» نو که ددې حالات مفصل نه وی معذوریم . خوزه خاص ددې دپاره چه یوه منوره اوعالمه پښتنه مېرمن دنورو پخوانیو مېرمنو په څیر بی نامه او نښانه دعدم لورته ولاړه نشی . نو ددې هغه څه حالات چه ماته معلوم دی دلته راوړم :

مېرمن حمیرا دمرحوم بریګډیر عبدالاحمدخان لورده چه دمور له خوا ترې کې پښتنه ده . ددې مېرمنی کورنۍ دپښتنو په منځ کښې یوه لویه کورنۍ ده اوددې مېرمنی مورنۍ ژبه پښتو ده ، پارسی ژبه به ئې په کابل کښې زده کړې وی ، په انګلیسی ژبه هم تکلم اوهم لیکل کولای شی . اوهم ښه مطالعه پکښې لری ، په مطالعه کښې معلو مېرنی چه داد بیاتوسره ډېره مینه لری .

دامېرمن هم په پارسی اوهم په پښتو کښې ښه لیکونکې ده (پښتو لږ لیکی) مېرمن حمیرا داوسنیو لیکونکو مېرمنو لارښو ونکې بلله کېدای شی ـ ښه عالمه او منوره شاعره مېرمن ده. دنویسند ګۍ په دنیا کښې د تنقید ټینګه ملګرې ښکاری او څه چه دې مېرمنی لیکلی دی اکثره داجتماعی عیبو د اصلاح په شاو خوا کښې دی. اوپخپلو لیکلو کښې غواړی چه خپله طبقه دعلم خوا ته راوبولی اوهم په دی محیط کښې دالمرۍ مېرمن ده چه «دبی سوادۍ» پرخلاف ئې قلمی مجادله شروع کړې اودانیس په روزنامه کښې ئې دبی سوادۍ پرخلاف یوه لویه هنګامه جوړه کړه چه ترلږوورځو روسته دمطبوعاتو دریاست له خوا دا کابرو کورسونه په هرځای کښې تأسیس شوه .

همدا رنگه دنو رو مفاسدو په‌ورك كولو كښې ئې ډېرى مؤ ثرى مقا لې ليـكلى دى .

ددې مېرمنى ډېښتو دليك نمونه خوهمدغه ددې كتا ب تقريظ دى چه په خپل قلم‌ئې ليكلى اود كتاب په‌سر كښې طبع شوى دى، اوددې دلوړ خيا ل اولوړ افكارو ښه‌نمايند گى كولاى‌شى (۱). دپارسى دليك نمونه به‌ئې لاندى دانـگليسى ديو شعر ترجمه چه‌دلا نـگفيلو اثردى اودې مېرمنى پارسى كړى اوانيس ته‌ئې دهديې په‌تو گه وړاندى كړى‌دى، ويونكو ته‌تقديم كړو :-

دنثر نمونه :

روز انجام يا فت

روز انجام يافت وتار يكى ازبالهاى شب بمثل پرى كه حين پرو از عقا ب ازبال آن جولان كرده بپايان مى‌آ يد برزمين فروهشته شد .

من‌روشنى هاى دهكده‌را كه ازبين باران ودمه ميدرخشند مى بينم وبرمن يك حس اندوهى مستولى مى‌شود كه‌روح من‌آ نرا برداشت كرده نمى‌تواند .

* * *

يك حس ازاندوه وانتظار كه‌از خاندان درد گـفته نمى شود، اما به اسف آ نقدر شبيه است كه‌دمه‌به‌باران . . . .

* * *

بيابخوان‌بعضى‌اشعار- بعضى‌اشعار ساده‌وصميمى، آ نچنان اشعار ساده‌وصميمى آ نچنان اشعا ريكه شايداحساسات‌شوريدۀ مرا تسكين‌دهدوهم‌افكار پريشان باقى ماندۀ روز راتبعيد نمايد .

---

(۱) مېرمن حميرا ددې تقريظ سره‌يوه پاڼه‌تنقيد هم‌راليږلې‌وه، چه‌ددې كتاب لخنى سهوې ئې‌به‌خورا ښه‌ډول اصلاح‌اوسمى كړى‌وې، نوپه‌دې ذريعه‌ددې مېرمنى له‌مرستى څخه تشكر كوم.
(بينوا)

نه ازاشعار استادهای قدیم و بزرگ و نه هم ازاشعار شاعرهای مغنی عظیم الشان که آواز قدمهای گذشتهٔ شان هنوز ازدهلیز زمانه انعکاس می کند.

چرا که: افکار بزرگ ونصائح عظیم ایشان خیلی سنگین است و انسان رابمثل کوس سیاه بهزحمات وتپیدنهای حیات تلقین ورهبری می کند و من می خواهم امشب راحت باشم ....

* * *

بیاوبخوان ازبعض شاعر های کوچك که نغمه های شان ازدل های شان بهمثلیکه باران ازابر های بهاری ویااشك ها ازمژگان غمزده می تراود نبعان کرده است ....

* * *

ازان شاعر یکه، درطول روز های دراز پر زحمت و عرصهٔ شب های جدا ازراحت، گوش دل وگوشه های روح آن ازانعکاس ترانه های دلنواز خالی نیست.

* * *

اینچنین غزلها برنبض های پرطپش هم وغم. قوهٔ تسکین راما لك وبمثل آرزوئی که بعد ازنیایش می آید تسلی وطمانیت می دهد.

* * *

سپس از گنجینهٔ جواهرادب، برحسب انتخاب خودشعری بخوان وازدلنوازی آوازخود بهنظم وترتیب شاعران پیرایه وزینتده وجمال آنرا دوبالا کن.

که شب تو ازنغمه پرشود وفوج های اندوه که در روز هجوم آورده بودند خیمه های خودرا بسته بسکوت وخفا بگذرندوراه خود بگیرند.»

<u>دمپرمن حمیرا شعر :</u>

دامپرمن کله کله شعرهم وایی ،که څه هم شعرونه ئې لږدی مگرخوراپاخه دی دلته به دنمونې دپاره ددې دوه شعرونه هم راوړو :

(۱)

پند پدر

دانی چه گفت آن پدر خوب نامور — با پور خویش کی پسر نیك با هنر
میخواهمت بلند نیکو نام و با کمال — زیرا توئی حیات مرا آخرین ثمر
میباش سخت کوش و همی دار عزم جزم — از کار عنکبوت مگر نیستت خبر
بنگر چگونه می طپد و می تند همیش — مشغول کار خویش بود شام تا سحر
زنبور خورد شهد اگر بنگری به غور — از سعی اوست خانهٔ او گشته پر شکر
بایست مر ترا که بکوشی بجد و جهد — ای نور چشم من تو نه ئی کم ز یك حشر
اندوز علم و فن که شود خاطرت منیر — علم آمد است فرض بهر فرد از بشر
گر گنج شایگان فضیلت مرادتست — اینك در آن خزانه کتابست گنجور
نور بصیرتی بحیات و ممات تو — آید بدست گر بودت در کتب نظر
شك نیست خلق و ذات نکو اربود ترا — از تیر و طنز و طعن بو دبهترین سپر
با مردم رذیل میامیز ز ینهار — از دل بدان که صحبت ایشان کند اثر
بر جامهٔ سفید صلاح و عفاف تو — کافی بود ز آتش ایشان یکی شرر
میگیر برگ و ساز ز سر پنجهٔ خودت — نه کز طفیل بازوی کس گشته بهرور
میباش همچو سرو ستاده بپای خویش — چون عشقهٔ ضعیف میاویز بر شجر
بر کسب و سعی گر تو بنازی بود روا — بیجاست جانمن که کنی فخر بر پدر
چون ذره سر مپیچ بدامان آفتاب — میباش آفتاب و بکن سنگ را گهر
از راه عدل و داد گهی منصرف مشو — در ملك عقل تاج عدالت بنه بسر
می باش راست تیر صفت بر نشان صدق — نه چون کمانکه راست نیاید و را ببر
یك دل بزی بطمع چو در دانهٔ صدف — نه دو زبان چو افعی بیجان بد گهر

مگذار پا بر اه به تقلید دیگران
شو چون منار ه بر ره مخلوق را هبر (۱)

---

(۱) دانیس ۱۹۱ گنج ۱۳۲۲ه

(۲)

یتیم

دی ز تصادف گذرم او فتاد — بر یکی از دهکده‌های خراب
دختر ك خرد همیگفت زار — اشك همیریخت چو در خوشاب
این چه بلا بود که بر من رسید — مادر کم تابه ابد کرد خواب
مادرمن آن‌زن پاکیزه خوی — هیچ نکردی بسر من عتاب
شب نه غنودی ز پی راحتم — روز بدی در الم و اضطراب
تسلیت و پند و نصیحت بمن — گفتی‌ودادی به دودستم کتاب
پیرهن سرخ برایم خرید — طوق‌وگلو بند و کلاه‌وجراب
هیچ ندانم که قضا از چه رو — کرد مرا زارو نزار و خراب
جمله برا ننـد مرا از حضور — کودن‌و بدبخت کنندم خطاب
کس ندهد هیچ مرا جامه ئی — زین سبب بر هنه و بی‌حجاب
گشت مرا منقلب آن روز خوش — گریه کنم‌صبح ومساچون‌سحاب
دهر بمن رسم ستم را نمود — دوری ما در دل من کرد آب

* * *

ای زن نیکو سیر پر هنر — وی که ترا داده ز ما نه نصاب
هر مرضی را ست به دنیاعلاج — هرسخنی‌راست به گیتی جواب
درد یتیمی که بود بی‌دوا — به‌شود از یکدل عالی جناب
خار مذلت بکش از پای او — برق عطوفت به‌دو چشمش بتاب
گرم همی کن دلك سرد او — ذره نوازی بکند آفتاب
طفل خودت رانوبه نزدش مبوس — زانکه‌زحرمان‌دلکش گرددآب
تا بتوانی نظر لطف کن — رحم به طفلان ثمر آردصواب
گر نکنی سعی به آسایشش — محوشود طفلکی همچون حباب
گر تو شوی باعث اشك یتیم — عرش کندلرزه چوسیم‌مذاب

کوش که اشکش نفتد بر زمین　　اشك مگو بلکه گهرهای ناب
خالق اکبر بفزاید نعیم　　هر که کشد بهر یتیمان عذاب
خندهٔ او فاتح باغ بهشت　　گریهٔ او موجب اخذ و عقاب
خندهٔ او گریهٔ ابر بهار　　گریهٔ او خندهٔ برق و شهاب
بود یتیمی بجهانن مصطفی　　ختم رسل صاحب وحی و کتاب

پیر واوئی ؟ به یتیمان گرای
قرب شفیع خود از ین رهبیاب

دامپرمن اوس د کابل دباندی ددارالفنون په شکلی او آزاده هوا کښې ژوندون کوی . دعلمی کتابو په مطالعه اخته دم ، امید شته چه په نژدی راتلونکی وخت کښې دښو آثارو اوډبر و علمی معلوماتو مپر من شی .

دمپر من « حمیرا » آثار :

په دې ورځو کښې ئی یوخورا مفید شکلی کتاب له انګلیسی څخه په فارسی ترجمه کړی دی چه دستایلو وردی . ددی کتاب نوم « چطور باید فکر کرد ؟ » دی او دا کتاب د کابل په مطبعه کښې د نشر یا تو د عمو می مدیریت له خوا طبع شوی دی .

نور آثارئی راته معلوم نشول .

مېرمن رحيمه «سهيل»

مېرمن رحيمه چه تخلص ئې «سهيل» دی دمرحوم قاری دوست محمد خان اوردہ، چه د کابل په ښار کښې تقریباً په ١٢٩٥ هـ کال زېږېدلې ده او اوس هم په کابل کښې ژوند کوی.

مېرمن سهيل يوه ښه ليکونکې او پوهه لوستونکې ده، چه خپل ځنی ابتدائی تحصيلات ئې پخپل کور کښې پای ته رسولی دی، وروسته دقابلګی په مکتب کښې داخله شوه، و ر و سته تر هغه چه د قابلګی شهادتنامه او دشو ستری شهادتنامه اودروغتیاد نمایندګی تصدیقنامه ئې واخیسته له دښځو په سنا توریم کښې ئې دشوستر په حیث یونیم کال کار و کاوه.

بیادغانښو جوړولو په څانګه کښې داخله شوه، دوه کاله پس ئې دغانښو جوړولو شهاد تنامه هم واخیسته اودوه کاله ئې هم دستاژ دوره تېره کړه اوس په هم هغه مؤسسه کښې دمعاونی په صفت کار کوی.

دد ې مېرمنی دليکلو طرز او سبك د هر خوږ اوادبی دی، او کله کله ښې ښې ادبی پارچې ليکلې، چه ددې دزړه ددرد او سوځو ونکو احساسا تو ښه نمایندګی کوی.

په او سنیو مېرمنو کښې دامېرمن دنشرليکونکو مېرمنو په لمړی توليکښې درېږی. اوددې مېرمنې په ليکلو کښې يو بل شی چه دستايلو اوقدر وړدی هغه دښځنی احساساتو ترجمانی ده، چه په خپلو ليکلو کښې دازيار باسی چه ښځنی روح و لری.

امید کیدای شی: چه دامېرمن دوطن يوه نومیالی ليکونکی شی، مګر په دې شرط که زمانې مرسته اومساعدت ورسره و کړاودې هم دالاره پرې نښو دله.

داچه دامبرمن په کمه خارجی ژبه پوهیږی که یه ؟ متأسفانه مانه معلومه نشوه .

اوس دلته ددې دنثر یوه سوځوو نکې نمونه چه د خپلوا کی (استقلال) ددرویشتم کال په نسبت ئې لیکلې اودانیس دروز نامې د ۱۵ کال په ۱۳۰ شماره کښې خپره شوې ده، لوستونکوته وړاندی کوو، چه ددې دپښتنې احساساتو اوخوازه قلم اغیزه ښه څرګندوی :

دنثر نمونه :

مرا فراموش مکن!

ساره قشنګ است. ولی چهرهٔ پژمردهٔ دارد. مخصوصاً درین وقت سال غم واندوه اوزیاد می‌شود. هرچند اورا دلداری میکنند تسلی نمی گردد. امسال بیست وسه‌سال می‌شود که شوهر جوان ورعنایش درسر مدافعهٔ مملکت هلاك گلولهٔ دشمن شده وچند قطره خون سرخ اوروی خاك وطن ریخت وآن‌را گلګون ساخت. اونیزمرد جنګی بودوسز دستهٔ دلاوران هم‌اوشمرده میشد. درائنائیکه برفراز تپهٔ‌بلند برآمد، چندین‌نفر ازاردوی دشمن‌راهدف گلوله کرده‌وپیشرفت آنهارا موقف‌ساخت اما گلولهٔ جانکاهی قلب‌اورا نشانه کرد. جوان دلاور پیچی خورد وروی خاك‌افتاد. خون‌قلبش لباس‌اورا خونین‌نمود وازآن آهسته آهسته روی‌خاك سرایت کرد.قطرات خونی که‌ازقلبش‌فروریخت شکل گلدستهٔ گرفت وجوان دلاور چشم خودرا به‌این دستهٔ گل قرمزی که مایهٔ جوانی وقوت اوبود دوخت: هزاران خیال درسرش می‌چرخید. جوانی خودرابخاك آغشته دید. بیست وهفت سال‌زندگانی‌از پیش چشمش گذشت.

دفعتاً دوقطره اشك ازمژگانش سرازیرشد، زن‌قشنګ ودلربای خودرا دیدکه‌درکنار همان دستهٔ گل بالباس سفید مانند فرشتهٔ ایستاده وبروی تبسم میکند.

پارسال بااین دختر رعنا ازدواج کرد وهنوز کام‌دل ازو نگرفته بخاك

غلطید. اشکش فروریخت، چون چشم‌بالا کرد، دید که‌زنش اورا تمجید میکند وقلب‌پاره شدهٔاورا می‌بوسد، مسرورشد ودرحالیکه لب‌هایش متبسم شده بود روحش درپرواز آمد. چشمهایش‌باز، لب‌هایش‌متبسم، ولی خودش بیجان بود اینبود شرح‌حال‌جوان سپاهی که‌درراه استقلال جان داد.

همان‌شب زنش‌اورادرخواب‌دید که‌ازهوا فرودمی‌آید، خداوند(ج) دوبال یاقوتی باوبخشیده، هالهٔ نوری گرد صورتش دیده‌میشد. دست‌زن خودرا گرفت وبوسیدوتبسم کنان گفت: «مرافراموش مکن!» چندروز بعدلباس خون آلود او را بخانه آوردند. زنش بسی گریست. ولی درمیان زنان سر بلند بود همه می گفتندشوهر این‌زن شیرین شهیدشده.

ساره ابداً خواب خودرافراموش نکرده وهمیشه از زبان شوهر محبوب خود می شنید که می گفت:-

« مرا فراموش مکن! »

بیست وسه‌سال‌ازآنوقت گذشت زن‌جوان کم کم پیرشد ولی‌عادت شده که همه‌ساله دراولین‌روز جشن استقلال خواهر خواندههایش گرداوجمع شوند واو با چشمان اشك ریز حکایت شوهر خود را با یشان نقل میکند وتکرار می نماید که:-

« مرافراموش مکن! »

آنها او راتسلی میدهند ومی بوسند!

* * *

میرمن‌رقیه « وزمه »

ددې مېرمنې یوه افسانه «دبیچاره زن» ترعنوان لاندې په انیس کښې نشرشوې‌ده‌اویوه‌ترجمه‌چه دولانتین رومان د(ژورژساند) اثر ئې له‌فرانسوی څخه په‌پارسی‌ترجمه کړی‌دی هم په‌نامطبوع صورت‌مالیدلی‌دی‌چه‌درقیقو عواطفو

او تیز فکر او سوځوونکی احساساتو یوه توته ده. که څه هم کله کله ئې "و زمه" تخلص کړی دی، مګر ځکه چه آثار ئې لږ نشر شوی دی او څرګند ښکاري چه دخپلو آثارو د نشر سره هم څه مینه او میل نه لري نو له دی جهته د دی علمی او ادبی خوا پوره لکه چه ښائي معرفی کولای نشو.

یخپله په کابل کښې اوسی، د ښاغلی سید حبیب خان (د کابل د مستوفی) اوږده.

- د ژوند تر ۱۷ کالو پورې چه د یوه نامراد زلمی محمد (یوسف خان) سره ئې ازدواج وکړ او بیا چه دوه کاله ئې د خپل رنځور مېړه پرستاری کوله د دی له قریحی څخه څه ښکاره نشول. مګر په (۱۳۱۳ هـ) کال د مېړه تر مرګ وروسته چه یو کوچنی هم ورپاته شو او د پلار کورته راغله د دې په ژوند کښې یو سخت روحی انقلاب پیدا شو او د ژوند د دې برو تکالیفو متحمله شوه. نو له همدې امله د معنوی ژوند و خواته متوجه او و ګرځیده او د مطالعې و لمنی ته ئې لاس واچاوه، مګر نه د تفنن د پاره بلکه د ډېره جدی او عمیقه.

خو تر دروکالو په لږه موده کښې ئې فرانسوی ژبه له خپلو و رونو څخه زده کړه چه اوس ئې ترجمه تقریباً بې نقصه ښکاره ښی د دی په افکارو کښې طبعاً د بدبینۍ چاشنی د ډېر قوت موندلی او نه ورځ د اپښتنه مېړمن بې له کتابه بل ملګری نه لري او د مادی ژوندون سره د ډېره بې علاقه ده. او اغلب وختونه ئې په مطالعه او تفکر تېرېږی او د تاریخ جدی کتابونه او د روحیاتو او نورو اجتماعی علومو د ډېر آثارو مطالعه کړی دی او وویل کیدای شی چه تر څه مودی وروسته که همدغسی دوام وکړی نو دا مېړمن یوه ښه متفکره مېړمن شی دا مېړمن په فرانسوی ښه پوهېږی هم ئې ښه لیکلای او هم ئې ښه لوستلای شی، اوس داند رابې د مکتب سر معلمه ده.

مېرمن روح افزا

مېرمن روح افزا دمحمد زمان خان لوردە او د کابل په ده افغانانو کښې او سې . دا مېرمن پنځوس کاله دمخه په ۱۲۷۳ هـ کال زېږېدلی ده .

تحصیلات ئې د کورنی معلیمینو څخه کړی دی په پښتو او پارسی لیکونکی ده په (تیرعصر) کښې د مستوراتو د مکتب منشی وه ، اوس هم د ښځو په لیسه کښې کار کوی .

ددې مېرمنې نور حال ر اته معلوم نشو ، یوازی ئې یوه دیښتومقا له چه دپسرلی په شاوخوا کښې ئې لیکلې ده دلته راوړو اوخر ګندېږی چه په پښتو کښې ښه ذوق لری : ـ

پسرلی !

دچینو او کاربزو او به ډېر ږی ، بیا پر ګودرودنجنو منګی قطار شوه ـ دریدی ګلان غوږېږی ، مازدیګر نجونی اوهلکان په سیلوزی ـ اتنونه کوی....

تـوتکی اوچنچنی ددې موسم شاعرانې دی ، د و ګړ و دپاره سـند ري لولی . هر څوك ئې په خورا خو ندارو ی ـ دا د پسرلی شاعرا نی نجنو او پېغلو ته وایی : ـ « یا څیء ، یا څیء ! وخت د کار دي ترڅو پو ری به داسی بیکاره او تنبلی ناستی یاست ... ترڅو پوری به دبل لاس ته ګور ی ؟

داوطن تاسی ته امیدلری ـ بیکاره مه کښېنیء ، دخپلی مورنصیحتونه اروی ء علم زده کړیء ـ وطن مو په علم ودانیږی . هله ، هله یاځیء ، یاځیء ! که نه وی دنیا درپوری خاندی ـ . . . . » ـ نو باید پوه شو چه ځان پوه کړو .

هغه لارچه اسلام راته رونه کړې ده ، تینګه کړو ، اود پخوانیو پښتنو مېرمنو په شا ن دښو اخلاقو او عفت نمو نه شو ! »

م

میرمن محجوبه

دامیرمن «بی بی صفورا» نومیږی، دمرحوم منشی ابوالقاسم خان لوړده چه داعلیحضرت امیرعبدالرحمن خان دحکومت په وخت کښې دجنرال غوث الدین خان منشی و ـ دامیرمن پښتنه اودنسب سلسلهٔ ئې سلطان غیاث الدین غوری ته رسیږی په ۱۳۲٤ هجری دجمعی په ورځ وبادغیس په کشك کښې زیږیدلی ده (۱) چه دهرات په پرفیضه خاوره کښې ئې خاږپوڅی کړی اودهرات له ادبی علم روزونکی فضا څخه ئې الهام اخیستی دی. دامیرمن وروسته ترهغه چه د کوچنیوالی ورځی، شپې ئې تیری کړې په زلمیتوب کښې ئې له علم اوپوهنی سره خصوصاً له ادبیاتو سره ډیره مینه اوعلاقه وموند له. په لږوخت کښې ئې له خپله مرحوم پلار څخه دفقې، صرف، نحوی علوم ولوستل. دښه خط میرمن شوه.

دیوې خواددې فطری استعداد اوله بلی خوا دد ې ډیرذوق له ادبیاتو سره دامیرمن وادبی دنیاته داخله کړه اودپورتنی دووعواملو په اثر مجبوره شوه چه په دې دنیا کښې نغمه سرائی وکړی. اوهم داسبب دی چه اوس ددې ښکلی وطن یوه زبردسته شاعره بلله کیږی. اوپه اوسنی عصر کښې دښځو میرمنو شاعرانو په ټولې کښې دامیرمن ښه اولمړی ځای لری. ددې شعر ډیر پوخ اوله متانته ډك دی. ددې شعر وبلو باعث څنګه چه دامیرمن پخپله لیکی دمیرمن مستورهٔ غوری اشعار باله کیږي. داوایی:

«آغاز شعر گفتن من در وقتی بود که بعض غزلیات مستورهٔ غوری را می شنودم عرق عصبیت دامن گیر حالم شده مرا وادار ساخت که شعر سرائی نمایم ولی بطور خفیه مستوره از حال من آگاه شده یك غزل خود را بطور امتحان نزد من فرستاد

(۱) دمیرمن محجوبې خپل یادداشت چه ماته ئې مرحمت کړی و.

که مخمس سازم . خوشبختانه موفق شدم، بعض اشخاص دانسته واقربای من که آن را دیدند گفتهٔ مرا تمجید نمودند و این تمجید خیلی تسلی بخش واقع شد . وشروع به غزل سرائی نمودم. تاعصر سلطنت اعلیحضرت شهید غزل می گفتم بعدازان در بیداری قوم بنوشتن مقاله ها آغاز نمودم ودیگر اقسام شعر نیز سرودم .. (۱) »

ددې خوازه اشعار دوطن دادیبانو په زړو کتبو ښه مقام لری اوښه ئې ستائی لکه ښاغلی خلیلی افغان (داوسنی عصر دوطن زبردست شاعر) ددې مېرمنې داشعار و صفت داسی کوی :

خوشا محجو به وطبع روان ووضع تحریرش
که پابر فرق شعری میزند شعر گهر گیرش (۲)

ددې مېرمنې اشعار، غزل، قصیده، رباعی، توشیح مخمس ، ذوالقافیتین او قطعه تقریباً پنځه زرو بیتو ته رسیږی اودنورو آثارو معلومات ئې راځخه نشته.

مېرمن محجوبه داخلاقی آزادی طرفداره ده اولکه بلبله چه په قفس کتبې بندی وی تل داناری وهی :

بلبل نه هرزه این همه فریاد میکند بیچاره زآشیانهٔ خود یاد میکند
محجو به درترانهٔ آزادی بشر نفرین به ظلم وو حشت صیاد میکند

ددې مېرمنې مشاعري :

دې مېرمنې دوطن دنومورو شاعرانو او فضلاو سره مشاعری کړی دی لکه ښاغلی خلیل الله خان، منشی علی رضا خان، ښاغلی نادم ، ښاغلی شیرین سخن، ښاغلی شایق هروی اونور ..

د کابل دمجلی په لمړی کال ۵ شماره کتبې ښاغلی سرورخان جویاددې مېرمنې دیوې مشاعرې اودیوان داسی تذکار کوی .

---

(۱) ددې مېرمنې یادداشت له رویه .
(۲) دهرات ادبی مجله ، لمړی کال ـ ۵ شماره ـ ۲۰ مخ

«باید ازین‌هم غافل نبود که‌درستر سایه های برگ های سبزانبوه آن گلزار مانند مستوره‌ومحجوبه غنچه‌های نوشگفته ونیم‌رنگی‌نیزاسباب زینت باغ‌وبوستان علم‌وادب آن‌سامان شده‌می توانند. هنگامی که‌در هرات بودم روزی‌بیکی ازمجالس ادب‌حسب معمول دستگاه شعروشاعری پهن‌شده وسخن ازسخنوران مطرح گشت. درآن حین‌دیوان غزلیاتی بنام «محجوبه» جالب توجه حضار گردیده‌درضمن یك‌سلسله‌منظومات شکوه‌آمیزی که‌پیش‌آمدهای ناگوار احساسات رقیق وعواطف سرشار این‌شاعرهٔ شیرین گفتار رابسرودن آن‌وادار نموده‌بود این‌بیت خوانده شد :

فلك که یوسف صدیق راغلام نمود
عجب‌مدار که‌محجوبه‌را کنیز کند

